# د ګردان کِتاب ـ د تورات شریف پینځم کِتاب

## پېژندګلو

د ګردان کِتاب د تورات شریف آخری کِتاب دے. په دې کښې درې پېغامونه دی په کومو کښې چې حضرت موسیٰ علیه السلامِ د هِجرت د کِتاب، د لیویانو د کِتاب او د شمېر د کِتاب تعلیمات او واقعې دوباره بیان کړی دی. په دې کِتاب کښې نوی نسل ته د حضرت موسیٰ علیه السلامِ آخری خطبه شامله ده یعنې د هغه وخت کله چې هغوئ د لوظ کړے شوی وطن قبضې اخستلو ته تیار وُو. په دې کِتاب کښې حضرت موسیٰ علیه السلامِ هغوئ ته د خُدائ پاک مینه او وفاداری رایادوی او دې سره هغه ورته د بنی اِسرائیلو د تېر شوی نسل بغاوت هم رایادوی. په دې کِتاب کښې موسیٰ علیه السلامِ بار بار بنی اِسرائیلو ته فرمائی چې د واحد خُدائ پاک فرمانبرداری وکړئ او د هغهٔ سره مینه وکړئ. خُدائ پاک د عبادت لائق دے او د هغهٔ شریعت زمونږ د هدایت لارښودنې دپاره دے. او د خُدائ پاک تابعداری د لوئ برکت سبب ګرځی. د حفظ کولو دپاره د ګردان ۶:۳۱ آیت، "تکړه او زړَور اوسئ. د هغوئ نه مهٔ ېرېږئ. مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به په خپله تاسو سره وی. هغه به کله هم تاسو سره بېوفائی ونهٔ کړی او نهٔ به مو یواځې پرېږدی."



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ (١) په دې کِتاب کښې هغه خبرې دی کومې چې موسىٰ ټولو بنی اِسرائيلو ته
وکړې کله چې هغوئ د اُردن سيند نمرخاتهٔ طرف ته په صحرا کښې وُو. هغوئ
سوف ته نزدې د اُردن په مېدان کښې وُو، دا د هغې ښارونو په مينځ کښې دے
چې د فاران ښار يې يو طرف ته دے او د طوفل، لابن، حصيروت، او د ديذهب
ښارونه يې په بل طرف دی. (٢) د غرونو مُلک ادوم په لاره د سينا غرهٔ نه واخله
تر قادِس برنيع پورې د يوولسو ورځو مزل دے. (٣) د هغوئ د مِصر نه د راوتلو
نه څلوېښت کاله پس د يوولسمې مياشتې په وړومبۍ ورځ، موسىٰ بنی اِسرائيلو ته
هغه هر څهٔ وفرمائيل چې مالِک خُدائ هغهٔ ته د وئيلو حُکم ورکړے وو. (٤) دا د
هغې نه وروستو وُو چې مالِک خُدائ د اموريانو بادشاه سيحون له شکست
ورکړے وو، چې هغهٔ د حسبون په ښار بادشاهی کوله او د بسن بادشاه عوج،
چې هغهٔ د عستارات او ادرعی په ښارونو بادشاهی کوله. (٥) دا هغه وخت وو
کله چې اِسرائيليان د اُردن نمرخاتهٔ طرف ته د موآب په علاقه کښې وُو چې د
خُدائ پاک په قانون او حُکمونو باندې موسىٰ هغوئ پوهول شروع کړل. هغهٔ
وفرمائيل چې، (٦) "کله چې مونږ د سينا غرهٔ سره وُو نو مالِک خُدائ زمونږ
خُدائ پاک مونږ ته وفرمائيل چې تاسو د دې غرهٔ سره ډېر زيات ايسار شوی يئ.
(٧) خيمې اوچتې کړئ او په سفر روان شئ. د اموريانو د غرونو مُلک او ټولو
ګېرچاپېره علاقو ته لاړ شئ چې د اُردن مېدان، د غرونو مُلک او لاندې علاقې، د
صحرا علاقه او د مديترانی د سمندر غاړه په کښې ده. د کنعان مُلک ته او د
لبنان غرونو نه اخوا د فرات لوئ سيند پورې لاړ شئ. (٨) ګورئ، دا هغه ټوله
زمکه ده د کومې چې ما، مالِک خُدائ، ستاسو پلار نيکهٔ، اِبراهيم، اِسحاق،
يعقوب او د هغوئ د اولاد سره د ورکولو وعده کړې ده. لاړ شئ او هغه قبضه
کړئ."

## د حضرت موسىٰ د خلقو دپاره مشران مقررول

(٩) موسىٰ خلقو ته وفرمائيل، "کوم وخت چې مونږ لا د سينا غرهٔ سره وُو، نو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما تاسو ته وفرمائيل چې زۀ په يواځې ځان ستاسو ذمه وارى نۀ شم اخستے.
(۱۰) مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو د آسمان د ستورو په شان بې‌شمېره
کړى يئ. (۱۱) مالِک خُدائ، ستاسو د پلار نيکۀ خُدائ پاک دې تاسو يو په زر
زيات کړى او هغه دې تاسو دولتمند کړى، لکه څنګه چې هغۀ وعده کړې ده. (۱۲)
خو زۀ يواځې د لانجو فېصله کولو دا دومره لويه ذمه وارى څنګه برداشت کړم؟
(۱۳) د هرې قبيلې نه يو څو هوښيار، پوهه لرونکى او تجربه‌کار سړى خوښ کړئ
او زۀ به هغوئ په تاسو مشران جوړ کړم. (۱۴) او تاسو زما سره متفِق شوئ او
ومو وئيل چې دا به ډېر ښۀ کار وشى. (۱۵) نو ما هغه هوښيار او تجربه‌کاره
مشران واخستل چې تاسو د خپلو قبيلو نه خوښ کړى وُو او هغوئ مې ستاسو
مشران جوړ کړل. چې څۀ د زرو، څۀ د سلو، څۀ د پنځوسو، او څۀ د لسو کسانو
ذمه وار وُو. ما ستاسو د قبيلو دپاره نور مشران هم مقرر کړل. (۱۶) په هغه وخت
ما ستاسو قاضيانو له حُکم ورکړو چې ستاسو د خلقو په مينځ کښې کومې لانجې
راځى نو هغې ته غوږ نيسئ. هره يوه لانجه په اِنصاف سره فېصله کوئ، کۀ د دې
لانجې تعلق صِرف ستاسو خپلو خلقو سره وى يا کۀ په کښې هغه مسافر هم
شريک وى کوم چې ستاسو سره اوسيږى. (۱۷) په فېصلو کښې د چا طرفدارى
مۀ کوئ، د هر چا سره يو شان اِنصاف کوئ، دې خبرې ته مۀ ګورئ چې هغه
مالدار دے او کۀ غريب. د هيچا نه مۀ يرېږئ، ځکه چې کومې فېصلې تاسو کوئ
هغه د خُدائ پاک د طرف نه وى. کۀ يوه لانجه ستاسو دپاره ډېره مشکله وى نو
ما له يې راوړئ چې زۀ يې هواره کړم. (۱۸) هم په هغه وخت ما د هغه نورو ټولو
څيزونو حُکم درکړو چې تاسو يې کوئ.

## قادِس برنيع ته د جاسوسانو لېږل

(۱۹) مونږ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک حُکم
راکړے وو. مونږ د سينا غرۀ نه لاړُو او په هغه لوئ او خطرناک بيابان کښې د
اموريانو غرونو مُلک پورې روان وُو. کله چې مونږ قادِس برنيع ته ورسېدو، (۲۰)-



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ نو ما وفرمائيل چې اوس تاسو د اموريانو د غرونو مُلک ته راغلی يئ، کوم
چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک، زمونږ د پلار نيکهٔ خُدائ پاک مونږ له
راکوی. گورئ، هغه دا دے. لاړ شئ او هغه قبضه کړئ هم هغه شان لکه څنگه
چې هغهٔ حُکم کړے دے. يرېږئ مه او مهٔ بې‌حوصلې کېږئ. ۲۲ خو تاسو ما له
راغلئ او ومو وئيل چې د ځان نه مخکښې به سړی ولېږُو چې هغه مُلک وگوری
او مونږ ته ووائی چې د ورتلو دپاره کومه لار ښهٔ ده او هلته ښارونه څنگه دی.
۲۳ دا خبره په ما ښهٔ ولگېده، نو ما د دولسو قبيلو نه يو يو سړے خوښ کړو.
۲۴ هغوئ د اسکال وادی پورې د غرونو مُلک ته د معلوماتو حاصلولو دپاره
لاړل. ۲۵ هغوئ چې هلته کومه مېوه وموندله نو لږه يې ترې نه راوړه او هغوئ
وفرمائيل چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک چې کوم مُلک مونږ له راکوی هغه
ډېر آباد دے. ۲۶ خو تاسو د مالِک خُدائ زمونږ د خُدائ پاک د حُکم نه
سرکشی وکړه او هغه مُلک ته وردننه نهٔ شوئ. ۲۷ تاسو يو بل ته وغورېدئ او
ومو وئيل، مالِک خُدائ زمونږ نه نفرت کوی. هغهٔ مونږ د مِصر مُلک نه صِرف د
دې دپاره راوويستلو چې اموريانو ته مو حواله کړی چې هغوئ مونږ ووژنی. ۲۸
مونږ هلته ولې لاړ شُو؟ مونږ يرېږو. کوم سړی چې مونږ هلته لېږلی وُو هغوئ
مونږ ته ووئيل چې د هغه ځائ خلق زمونږ نه تکړه او لوړ لوړ دی او هغوئ په
داسې ښارونو کښې اوسيږی چې دېوالونه يې آسمان ته رسيږی. هغوئ هلته دېوان
هم وليدل. ۲۹ خو ما درته ووئيل چې د هغه خلقو نه مهٔ يرېږئ. ۳۰ مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک به ستاسو لارښودنه وکړی او هغه به ستاسو دپاره
جنگ کوی، هم هغه شان لکه څنگه چې هغهٔ ستاسو په مخکښې په مِصر کښې
وکړل ۳۱ او په بيابان کښې يې چې څهٔ وکړل. نو تاسو په خپلو سترگو وليدل
چې هغهٔ تاسو په حِفاظت سره تر دې ځائ پورې داسې راوستلئ، لکه چې پلار
خپل زوئ بوځی. ۳۲ خو د دې هرې خبرې باوجود، تاسو بيا هم په مالِک خُدائ
يقين نهٔ کولو، ۳۳ اگر کهٔ هغه هميشه ستاسو نه مخکښې روان وو چې ستاسو
دپاره د خيمو لگولو ځائ ولټوی. ستاسو د لارښودنې دپاره هغه به ستاسو په
مخکښې د شپې د اور په ستن کښې او د ورځې د ورېځې په ستن کښې روان وو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مالِک خُدائ بنی اِسرائیلو له سزا ورکول

۳۴ مالِک خُدائ ستاسو شکايتونه واورېدل او په غصه شو، نو هغهٔ دا قسم
وخوړو او وې فرمائيل، ۳۵ ستاسو د دې بدعمله نسل نه يو کس به هم هغه
زرخيز مُلک ته ورننه نهٔ وځی چې د کوم د ورکولو لوظ ما ستاسو پلار نيکهٔ سره
کړے دے. ۳۶ صِرف د يفُنه زوئ کالب به ورننوځی. ځکه چې هغه په ما ايمان
لری او زهٔ به هغهٔ او د هغهٔ اولاد له هغه مُلک ورکړم د کوم چې هغهٔ معلومات
حاصل کړی دی. ۳۷ ځکه چې ستاسو په وجه مالِک خُدائ ما ته هم غصه شو
او وې فرمائيل چې اے موسیٰ، تهٔ به هم هغه مُلک ته ورننه نهٔ وځې. ۳۸ خو د
خپل مددګار، د نون زوئ يشوَع، حوصله مضبوطه کړه. هغه به اِسرائيليان بوځی
چې هغه مُلک قبضه کړی. ۳۹ بيا مالِک خُدائ مونږ ټولو ته وفرمائيل چې،
ستاسو واړهٔ بچی به هغه مُلک ته ورننه وځی، چې هغوئ په ښهٔ او بد نهٔ پوهيږی.
هغه ماشومان چې تاسو ووئيل چې ستاسو دشمنان به يې ونيسی. زهٔ به هغوئ له
هغه مُلک ورکوم او هغوئ به يې قبضه کوی. ۴۰ خو اوس تاسو واپس وګرځئ
او واپس بيابان ته په هغه لار لاړ شئ کومه چې بحرِقُلزم ته ځی. ۴۱ تاسو ووئيل،
موسیٰ، مونږ د مالِک خُدائ خِلاف ګناه کړې ده. خو اوس به مونږ حمله وکړُو،
چې څنګه مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک مونږ ته حُکم کړے دے. بيا ستاسو هر
يو کس د جنګ دپاره تيار شو، خيال مو دا وو چې د غرونو مُلک قبضه کول به
آسان کار وی. ۴۲ خو مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل چې هغوئ له خبردارے
ورکړه چې حمله ونهٔ کړی، ځکه چې زهٔ به د هغوئ مل نهٔ يم او دشمن به هغوئ
له شکست ورکړی. ۴۳ مالِک خُدائ چې څهٔ فرمائيلی وُو نو هغه ما تاسو ته
وفرمائيل، خو تاسو هغې ته هيڅ توجو ورنهٔ کړه. تاسو د هغهٔ خِلاف سرکشی
وکړه او د خپل غرور سره د غرونو مُلک ته روان شوئ. ۴۴ نو په هغه غرونو
کښې چې کوم اموريان اوسېدل هغوئ ستاسو خِلاف لکه د مچو په شان راووتل.
هغوئ د حُرمه پورې په تاسو پسې وُو او هلته يې د غرونو په مُلک ادوم کښې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شکست درکړو. ۴۵ بيا تاسو د مالِک خُدائ په مخکښې وژړل، خو نۀ هغۀ
ستاسو فرياد واورېدو او نۀ يې درته غوږ ونيوو.

## په بيابان کښې ډېره موده پاتې کېدل

۴۶ نو د هغې نه پس مونږ په قادِس کښې ډېر وخت ايسار وُو.

۲ ۱ په آخر کښې مونږ راوګرځېدو او په هغه لار بيابان ته لاړُو کومه چې
بحرِقُلزم ته تلې وه، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے وو او ډېره
موده د غرونو مُلک ادوم کښې سرګردانه ګرځېدو. ۲ بيا مالِک خُدائ ما ته
وفرمائيل چې ۳ تاسو ډېره موده په دې غرونو کښې په ګرځېدو تېره کړې ده نو
د شمال طرف ته لاړ شئ. ۴ هغۀ ما ته وفرمائيل چې دوئ ته دا اصُول وښايه،
تاسو به د غرونو مُلک ادوم نه تېر شئ، چې هغه ستاسو د لرې خپلوانو د عِيسو
علاقه ده. هغوئ به ستاسو نه وېرېږى، ۵ خو تاسو به هغوئ نۀ راپاروئ، ځکه
چې زۀ تاسو له د هغوئ د مُلک يو قدم ځائ هم نۀ درکوم. ادوم ما د عِيسو اولاد
له ورکړے دے. ۶ تاسو به خوراک او اوبۀ د هغوئ نه په پېسو اخلئ. ۷ ياد
ساتئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک څنګه تاسو له په هر کار کښې برکت
درکړے دے. کله چې تاسو په دې لوئ بيابان کښې سرګردانه ګرځېدئ نو هغۀ
ستاسو خيال ساتلے دے. هغه په دې څلوېښتو کالو کښې ستاسو مل وو او په
تاسو باندې د يو څيز کمے هم نۀ دے راغلے. ۸ نو مونږ روان وُو او هغه لار
مو پرېښوده کومه چې د ايلات او عصيون‌جابر ښارونو نه د مالګې درياب ته تلې
وه او مونږ د موآب صحرا په طرف تاو شُو. ۹ مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل
چې د موآب خلقو له تکليف مۀ ورکوئ، چې د لوط اولاد دے او نۀ چې ورسره
جنګ وکړئ. ما هغوئ له د عار ښار ورکړے دے او زۀ به تاسو له د هغوئ د
زمکې نه لږه هم نۀ درکوم.“ ۱۰ د ديوانو يو طاقتور نسل چې د ايمان په نوم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يادېدو هغوئ د عار په ښار کښې اوسېدل. هغوئ د عناقيانو په شان لوړ لوړ وُو، کوم چې د دېوانو بل نسل وو. ﴿١١﴾ د عناقيانو په شان هغوئ هم د رفائيانو په نوم مشهور وُو، خو موآبيانو هغوئ ته ايميان وئيل. ﴿١٢﴾ حوريان په ادوم کښې اوسېدل، خو د عِيسو اولاد هغوئ وشړل، د هغوئ قوم يې تباه کړو او د هغوئ په ځائ په خپله اوسېدل، لکه څنګه چې وروستو بنی اِسرائيلو خپل دشمنان د هغه مُلک نه وشړل کوم چې مالِک خُدائ هغوئ له ورکړے وو. ﴿١٣﴾ موسىٰ خپله خبره جارى وساتله او وې فرمائيل، ”بيا مونږ د زرد سيند نه پورې وتلو لکه څنګه چې مالِک خُدائ مونږ ته فرمائيلى وُو. ﴿١٤﴾ دا د هغې نه اتهٔ دېرش کاله پس وُو چې مونږ د قادِس برنيع نه تلى وُو. د هغه نسل د جنګ ټول سړى مړهٔ شوى وُو، لکه څنګه چې مالِک خُدائ فرمائيلى وُو. ﴿١٥﴾ مالِک خُدائ هغوئ له تر هغه سزا ورکوله چې هغوئ ټول د قوم نه ختم شوى نهٔ وُو. ﴿١٦﴾ کله چې جنګ ته د برابر عُمر ټول سړى مړهٔ شوى وُو، ﴿١٧﴾ نو مالِک خُدائ مونږ ته وفرمائيل چې ﴿١٨﴾ نن به تاسو د عار په لاره د موآب علاقې نه تېرېږئ. ﴿١٩﴾ بيا به تاسو د عمونيانو مُلک ته نزدې شئ، کوم چې د لوط اولاد دے. هغوئ له تکليف مهٔ ورکوئ او نهٔ چې ورسره جنګ وکړئ، ځکه چې ما کومه زمکه هغوئ له ورکړې ده د هغې زمکې نه لږه هم تاسو له نهٔ درکوم.“ ﴿٢٠﴾ دا علاقه د رفائيانو د مُلک په نوم هم مشهور ده، دا د هغه خلقو نوم دے چې هلته اوسېدل، عمونيانو هغوئ د زمزميانو په نوم يادول. ﴿٢١﴾ هغوئ د عناقيانو په شان لوړ لوړ وُو. هغوئ ډېر زيات وُو او هغوئ يو طاقتور نسل وو. خو مالِک خُدائ هغوئ تباه کړل، نو عمونيانو د هغوئ په مُلک قبضه وکړه او د هغوئ په ځائ په خپله اوسېدل. ﴿٢٢﴾ مالِک خُدائ د ادوميانو دپاره هم دغه شان وکړل، چې د عِيسو اولاد وو او د غرونو په مُلک ادوم کښې اوسېدل. هغهٔ حوريان تباه کړل، نو ادوميانو د هغوئ په زمکه قبضه وکړه او د هغوئ په ځائ په خپله اوسېدل، چرته چې تر اوسه پورې هغوئ اوسيږى. ﴿٢٣﴾ د مديترانى د سمندر د غاړې سره دا مُلک په هغه خلقو آباد وو چې هغوئ د کريت د جزيرې وُو. هغوئ عويان تباه کړل، کوم چې اصلى



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوسېدونکی وُو او د غزه ښار پورې د هغوئ په ټول مُلک يې قبضه وکړه. ۲۴
”کله چې مونږ د موآب نه تېر شوی وُو، مالِک خُدائ مونږ ته وفرمائيل، اوس،
روان شئ او د ارنون سيند نه پورې وځئ. زهٔ د حسبون اموری بادشاه سيحون
او د هغهٔ مُلک تاسو له درکوم، په هغهٔ حمله وکړئ او د هغهٔ مُلک قبضه کړئ.
۲۵ د نن نه به د دُنيا په ټولو قومونو باندې ستاسو يره واچوم. هر څوک به
ستاسو نوم اورېدو سره په لړزان کيږی.

## د بنی اِسرائيلو سيحون بادشاه له شکست ورکول

۲۶ بيا ما د قديمات د بيابان نه د حسبون بادشاه سيحون ته د صُلحې د
پېش‌کش دپاره پېغام وړُونکی ورولېږل چې وئيل چې ۲۷ مونږ پرېږده چې ستا د
مُلک نه تېر شُو. مونږ به نېغ روان يُو او د لارې نه به اخوا دېخوا نهٔ اوړُو. ۲۸
مونږ چې کوم خوراک وخورو او چې کومې اوبهٔ وڅښو نو د هغې پېسې به
درکړُو. مونږ صِرف ستاسو د مُلک نه تېرېدل غواړُو، ۲۹ او چې د اُردن سيند نه
هغه زمکې ته پورې وځو کومه چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک مونږ له
راکوی. د عِيسو اولاد په ادوم کښې اوسيږی او موآبيان چې په عار کښې
اوسيږی، هغوئ مونږ له اجازت راکړو چې د هغوئ په علاقه کښې تېر شُو. ۳۰
خو سيحون بادشاه مونږ پرې نهٔ ښودو چې د هغهٔ په مُلک کښې تېر شُو. مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک هغه سخت طبيعته او ضدی کړے وو، نو مونږ
شکست ورکړو او د هغهٔ علاقه مو ونيوله، چې تر اوسه پورې زمونږ په قبضه
کښې ده. ۳۱ بيا مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل، گوره، ما سيحون بادشاه او د هغهٔ
مُلک ستاسو په مخکښې کمزورے کړے دے، د هغهٔ مُلک ونيسئ او قبضه يې
کړئ. ۳۲ سيحون د خپلو ټولو سړو سره د يهض ښار سره نزدې زمونږ سره د
جنگ دپاره راووتلو. ۳۳ خو مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک هغه مونږ له په لاس
کښې راکړو، مونږ هغه، د هغهٔ زامن او د هغهٔ ټول سړی ووژل. ۳۴ هم په هغه
وخت مونږ ټول ښارونه ونيول او تباه مو کړل او هر يو کس، سړی، ښځې او



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ماشومان مو ووژل. مونږ هيڅ څوک هم ژوندے پرې نۀښودو. ﴿٣٥﴾ مونږ څاروى
بوتلل او ښارونه مو لوټ کړل. ﴿٣٦﴾ مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک د عروعير نه
واخله، چې د ارنون مېدان په غاړه باندې دے او کوم ښار چې د هغه مېدان په
مينځ کښې دے، تر جِلعاد پورې ټول ښارونه راباندې ونيول. داسې د يو ښار
دېوالونه هم نۀ وُو چې زمونږ مخه يې نيولے وے. ﴿٣٧﴾ خو نۀ مونږ د عمونيانو
علاقې ته لاړُو، نۀ د يبوق سيند غاړې ته، نۀ د غرونو مُلک ښارونو ته او نۀ بل
نزدې يو ځائ ته لاړُو چرته چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک د تلو نه منع کړى
وُو.

## د بنى اِسرائيلو په عوج بادشاه باندې برے موندل

٣ ﴿١﴾ او بيا، مونږ د بسن علاقې طرف ته لاړُو او د ادرعى ښار ته نزدې د عوج
بادشاه د خپل ټول لښکر سره زمونږ سره جنګ دپاره راووتلو. ﴿٢﴾ خو مالِک
خُدائ ما ته وفرمائيل چې د هغۀ نه مۀ يرېږه. زۀ هغه، د هغۀ سړى او د هغۀ ټوله
علاقه تاسو له درکوم. د هغۀ سره هم هغه شان کار وکړئ لکه څنګه چې مو د
امورى بادشاه سيحون سره کړے وو چې هغۀ په حسبون بادشاهى کوله. ﴿٣﴾ نو
مالِک خُدائ د عوج بادشاه او د هغۀ خلق هم مونږ له په لاس کښې راکړل او
مونږ هغوئ ټول ووژل. يو کس هم ژوندے پاتې نۀ شو. ﴿٤﴾ هم په هغه وخت
مونږ د هغۀ ټول ښارونه قبضه کړل، داسې يو ښار هم نۀ وو چې مونږ نيولے نۀ
وو. مونږ ټول شپېتۀ ښارونه ونيول، د ارجوب ټوله علاقه چرته چې د بسن بادشاه
عوج بادشاهى کوله. ﴿٥﴾ د دې ټولو ښارونو لوړ لوړ پاخۀ دېوالونه وُو، دروازې
او د دروازو بندولو دپاره يې اړامونه وُو او هلته داسې کلى هم وُو چې دېوالونه يې
نۀ وُو. ﴿٦﴾ مونږ ټول ښارونه تباه کړل او ټول سړى، ښځې او ماشومان مو
ووژل، هم هغه شان لکه څنګه چې مونږ د حسبون بادشاه چې نوم يې سيحون وو
په ښارونو کښې کړى وُو. ﴿٧﴾ مونږ ټول څاروى بوتلل او ښارونه مو لوټ کړل.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

﴿٨﴾ په هغه وخت کښې مونږ د هغه دوه اموری بادشاهانو نه د اُردن سیند
نمرخاتهٔ طرف ته، د ارنون سیند نه واخله د حرمون غرهٔ پورې علاقه ونیوله. ﴿٩﴾
صیدانیان د حرمون غرهٔ ته سِریون نوم اخلی او اموریان ورته سنیر وائی. ﴿١٠﴾
مونږ د بسن بادشاه عوج ټول مُلک قبضه کړو یعنې د لوړې علاقې ښارونه، د
جلِعاد او بسن علاقې، د سلکه او ادرعی ښارونو پورې.“ ﴿١١﴾ عوج بادشاه د
رفائیانو آخری پاتې کس وو. د هغهٔ د ښخېدو صندوق د کانی نه جوړ وو، چې
دیارلس فټه اوږد او دوه گزه پلن وو. دا تر اوسه پورې د عمونیانو په ښار ربه
کښې شته دے.

## د اُردن نمرخاتهٔ طرف ته آبادې شوې قبیلې

﴿١٢﴾ ”کله چې مونږ په هغه مُلک قبضه وکړه، نو ما د ارنون سیند ته نزدې د
عروعیر ښار علاقه او د غرونو مُلک جلِعاد برخه، سره د دې د ښارونو د روبین
او جاد قبیلو په حواله کړه. ﴿١٣﴾ د جلِعاد هغه پاتې برخه او ټول بسن ما د منسی
نیمې قبیلې په حواله کړو، چرته چې عوج بادشاهی کړې وه، هغه د ټول ارجوب
علاقه وه.“ بسن د رفائیانو مُلک په نوم مشهور وو. ﴿١٤﴾ د منسی قبیلې یائیر د
ارجوب ټوله علاقه ونیوله، کوم چې بسن دے او داسې د جسور او معکه د
سرحد پورې. هغهٔ په دې کلو باندې خپل نوم کېښودو او دا تر اوسه پورې د یائیر
کلی په نوم یادیږی. ﴿١٥﴾ ”د منسی قبیلې مکیر ته ما جلِعاد په حواله کړو. ﴿١٦﴾ او
د جلِعاد نه واخله د ارنون سیند پورې علاقه ما د روبین او جاد قبیلو په حواله
کړه. د هغوئ سرحد د سیند مینځ وو او د هغوئ بل سرحد د یبوق سیند وو، چې
د هغې یوه برخه د عمونیانو سرحد وو. ﴿١٧﴾ د هغوئ علاقه د اُردن سیند پورې
خوره وه او لاندې د گلیل دریاب نه واخله د مالگې دریاب پورې او د پِسگه د
غرهٔ لمنې پورې خوره وه. ﴿١٨﴾ هم په هغه وخت، ما هغوئ ته دا اصُول وښودل،
مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د اُردن نمرخاتهٔ طرف ته دا مُلک د نیولو دپاره
تاسو له درکړے دے. خپلو جنگی سړو له وسله ورکړئ او هغوئ د بنی اِسرائیلو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د نورو قبيلو نه مخکښې د اُردن نه پورې ولېږئ، چې په هغه مُلک نيولو کښې د
هغوئ مدد وکړی. ۞ ما ته پته ده چې تاسو سره ډېر څاروی دی، نو صِرف
ستاسو ښځې، بچی او څاروی به په هغه ښارونو کښې ستاسو نه پاتې شی کوم
چې ما ستاسو په حواله کړی دی. ۞ هغه مُلک چې مالِک خُدائ يې بنی
اِسرائيلو له ورکوی چې د اُردن نمرپرېواتۀ طرف ته دے، د هغې په نيولو کښې تر
هغې پورې د بنی اِسرائيلو مدد وکړئ چې مالِک خُدائ هغوئ هلته په امن سره
اوسېدو ته پرېښنی نۀ وی، لکه څنګه چې هغۀ تاسو په امن کړی يئ. د هغې نه پس،
تاسو واپس دې مُلک ته راتلے شئ کوم چې ما ستاسو په حواله کړے دے. ۞
بيا ما يشوَع ته دا اصُول وښودل، تا هغه هر څۀ وليدل چې مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک د هغه دوه بادشاهانو يعنې سيحون او عوج سره وکړل، او چې د چا
په مُلک هم حمله کوئ نو هم هغه شان به ورسره وشی. ۞ د هغوئ نه مۀ
يرېږئ، ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به ستاسو دپاره جنګ وکړی.

## د حضرت موسیٰ کنعان ته نۀ پرېښودل

۞ په هغه وخت کښې ما د زړۀ د اخلاصه دا دُعا وکړه چې، ۞ اے مالِکه
خُدايه، ما ته پته ده چې تا صِرف خپله لوئی او طاقت خپل خِدمت کوونکی ته
څرګندول شروع کړل. په آسمان او په زمکه کښې داسې خُدائ نشته چې ستا په
شان لوئ لوئ کارونه وکړی. ۞ مالِکه خُدايه، ما پرېږده چې د اُردن سيند نه
پورې وځم او چې هغه زرخېزه زمکه ووينم چې په بل طرف باندې ده او چې د
غرونو ښائسته مُلک او د لبنان غرونه ووينم. ۞ خو ستاسو په وجه مالِک
خُدائ ما ته په قهر وو او زما سوال يې وانۀورېدو. او راته يې وفرمائيل، بس نور
چې د دې ذِکر ونۀ کړئ. ۞ د پِسګه غرۀ سر ته لاړ شه او هر طرف ته وګوره.
چې څۀ درته ښکاری نو هغه په غور سره وګوره، ځکه چې تۀ به هيڅکله هم د
اُردن نه پورې نۀ وځې. ۞ د دې په ځائ يشوَع ته خپل اصُول وښايه. د هغۀ
حوصله مضبوطه کړه، ځکه چې هغه به د خلقو لارښودنه کوی چې هغه مُلک



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قبضه کولو له وړیورې وخۍ کوم چې تهٔ وینې. ۲۹ نو مونږ بیت‌فعور ښار ته
مخامخ په هغه مېدان کښې پاتې شُو.“

## د حضرت موسیٰ بنی اِسرائیلو ته د خُدائ پاک د تابعدارۍ نصیحت کول

۴ ۱ بیا موسیٰ خلقو ته وفرمائیل، ”نو اوس به تاسو په هغه ټولو حُکمونو عمل
کوئ کوم چې زهٔ درته ښایم، نو تاسو به ژوندی پاتې شئ او هغه مُلک به قبضه
کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو د پلار نیکهٔ خُدائ پاک یې تاسو له درکوی. ۲
زهٔ چې تاسو له کوم حُکم درکړم په هغې کښې مهٔ څهٔ زیاتوئ او مهٔ څهٔ کموئ.
چې ما مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک کوم حُکمونه درکړی دی په هغې عمل
کوئ. ۳ تاسو په خپله ولیدل چې د فعور په غرهٔ کښې مالِک خُدائ څهٔ وکړل.
هغهٔ هغوئ ټول تباه کړل چا چې د بعل عبادت کولو، ۴ خو ستاسو هغه کسان
چې د مالِک خُدائ ستاسو د خُدائ پاک وفادار وُو، هغوئ تر نن ورځې پورې
ژوندی پاتې دی. ۵ ما تاسو ته هغه ټول قانون ښودلے دے، کوم چې مالِک
خُدائ زما خُدائ پاک ما ته ښودلے دے چې تاسو هغه قانون په هغه مُلک کښې
پوره کړئ چې د قبضه کولو دپاره وربانديې حمله کوئ. ۶ په وفادارۍ سره په
دې عمل کوئ، نو د نورو قومونو خلقو ته به پته ولګی چې تاسو څومره هوښیار
خلق یئ. کله چې هغوئ د دې ټول قانون نه خبر شی، نو هغوئ به ووائی، دا
عظیم قوم څومره حِکمت او پوهه لری. ۷ بل داسې یو قوم هم نشته چې هغه
هر څومره لوئ وی، چې د هغوئ داسې خُدائ وی چې په ضرورت کښې ورته
دومره نزدې وی لکه څومره چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک مونږ ته نزدې
دے. مونږ چې کله هم د مدد دپاره هغهٔ ته سوال وکړُو نو هغه زمونږ سوال
قبلوی. ۸ بل داسې یو قوم هم نشته چې هغه هر څومره لوئ وی، چې د هغوئ
سره داسې د صداقت قانون وی لکه چې نن ما تاسو ته ښودلے دے. ۹ پام



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوئ. او دا خبره يقينی کړئ چې تر کومې پورې تاسو ژوندی يئ نو څۀ چې مو په
خپلو سترګو ليدلی دی هغه مۀ هېروئ. خپل بچی او نمسی د هغه ورځې نه خبر
کړئ، ۱۰ چې تاسو د سينا په غرۀ باندې د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په
حضور کښې ولاړ وئ، کله چې هغۀ ما ته وفرمائيل چې، خلق راغونډ کړه. زۀ
غواړم چې د هغوئ سره خبرې وکړم، نو چې تر کومې پورې هغوئ ژوندی وی
نو زما فرمانبرداری به زده کوی او خپلو بچو ته به ښائی چې هم دغسې کوی.
۱۱ چې تاسو څنګه د غرۀ لمنې ته لاړئ او هلته ودرېدئ په کوم چې اور لګېدلے
وو او لمبې يې آسمان ته ختلې او وريځ او تکه توره تيارۀ شوه. ۱۲ هغوئ ته
ووايئ چې مالِک خُدائ ستاسو سره څنګه د اور نه خبرې وکړې، تاسو څنګه د
هغۀ خبرې واورېدلې خو د هغۀ صورت مو ونۀ ليدو. ۱۳ هغۀ تاسو ته وفرمائيل
چې د هغه لوظ پوره کولو دپاره به څۀ کوئ، تاسو به په هغه لسو حُکمونو عمل
کوئ، کوم چې هغۀ د کاڼو په هغه دوه تختو باندې ليکلی وُو. ۱۴ مالِک خُدائ ما
ته وفرمائيل چې تاسو ته هغه ټول قانون وښايم چې په هغې به تاسو په هغه مُلک
کښې عمل کوئ چې په کوم باندې تاسو حمله کوئ او قبضه کوئ يې.

## د بُت پرستئ خِلاف خبردارے

۱۵ کله چې مالِک خُدائ د سينا په غرۀ باندې د اور نه تاسو سره خبرې وکړې
او تاسو د هغۀ صورت ونۀ ليدو، نو خپلې فائدې دپاره پام کوئ چې ۱۶ په هر
شکل کښې بُت جوړولو په وجه خپل ځانونه ګناهګار نۀ کړئ، کۀ هغه شکل د نر
وی، يا د ښځې، ۱۷ د ځناور يا د مارغۀ، ۱۸ د داسې يو ځناور چې په زمکه
تلل کوی يا کۀ په اوبو کښې د کب وی. ۱۹ په داسې آزمېښت کښې مۀ پرېوځئ
چې څۀ په آسمان کښې ګورئ چې د هغې عبادت يا خِدمت وکړئ، لکه نمر،
سپوږمۍ او ستوری. مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک نورو ټولو خلقو ته دا
ورکړی دی چې عبادت يې کوی. ۲۰ خو تاسو هغه خلق يئ چې مالِک خُدائ د
مِصر نه راوويستلئ چرته چې تاسو د اور په تنور کښې وئ. هغۀ تاسو ځکه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوویستلئ چې هغه تاسو خپل خلق جوړ کړی لکه چې نن تاسو یئ. ﴿۲۱﴾ خو
ستاسو په وجه مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ما ته غصه وو او دا قسم یې
وخوړو چې تهٔ به د اُردن سیند نه پورې نهٔ وځې چې هغه آباد مُلک ته لاړ شې کوم
چې هغه تاسو له درکوی. ﴿۲۲﴾ زهٔ به په دې مُلک کښې مړ شم او هیڅکله به د
سیند نه پورې نهٔ وځم، خو هغه وخت نزدې دے چې تاسو به واوړئ او هغه آباده
زمکه به قبضه کړئ. ﴿۲۳﴾ پام کوئ. مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک چې تاسو
سره کوم لوظ کړے دے هغه مهٔ هېروئ. د هغهٔ حُکم منئ چې یو قِسم بُت هم مهٔ
جوړَوئ ﴿۲۴﴾ ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د یو بل شوی اور په شان
دے، او غېرتی خُدائ پاک دے. ﴿۲۵﴾ تر دې پورې چې تاسو به په هغه مُلک کښې
تر ډېره وخته پورې یئ او بچی او نمسی به مو پیدا شی، د یو څیز په شکل هم بُت
جوړولو په وجه خپل ځانونه مهٔ ګناهګاروئ. د مالِک خُدائ په نظر کښې دا یو بد
عمل دے او د دې په وجه به هغه غصه شی. ﴿۲۶﴾ نن زهٔ آسمان او زمکه ستاسو
خِلاف ګواهان جوړوم، کهٔ تاسو زما نافرمانی وکړئ، نو تاسو به زر د زمکې نه
ورک شئ. تاسو به په هغه مُلک کښې ډېره موده ژوند ونهٔ کړئ کوم چې د اُردن
نه پورې دے او تاسو یې قبضه کوئ. تاسو به تباه شئ. ﴿۲۷﴾ مالِک خُدائ به
تاسو په نورو قومونو کښې خوارهٔ وارهٔ کړی، هلته به صِرف یو څو کسان ستاسو
نه ژوندی پاتې شی. ﴿۲۸﴾ هلته به تاسو د داسې معبودانو خِدمت کوئ چې انسان
جوړ کړی وی، د لرګو او د کاڼو معبودان، هغه معبودان چې نهٔ لیدل او نهٔ اورېدل
کولے شی، نهٔ خوراک او نهٔ بویول کولے شی. ﴿۲۹﴾ خو کهٔ هلته تاسو مالِک
خُدائ خپل خُدائ پاک ولټوئ او د زړهٔ د اخلاصه او د خپل ټول روح سره د هغهٔ
لټون وکړئ نو تاسو به هغه ومومئ. ﴿۳۰﴾ کله چې تاسو په تکلیف کښې یئ او په
تاسو باندې دا هر څهٔ تېر شوی وی، نو آخر به مالِک خُدائ ته راواپس شئ او د
هغهٔ تابعداری به وکړئ. ﴿۳۱﴾ هغه رحم کوونکے خُدائ پاک دے. هغه به تاسو نهٔ
پرېږدی او نهٔ به مو تباه کوی او هغه به هغه لوظ نهٔ هېروی چې کوم هغهٔ په خپله
ستاسو پلار نیکهٔ سره کړے دے. ﴿۳۲﴾ تاریخ ته وګورئ. ستاسو د پېدایښت نه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مخکښې وخت، او وروستو وخت او زمانې ته وګورئ کله چې مالِک خُدائ بنی آدم په زمکه پېدا کړو. ټوله دُنیا ولټوئ. د دې په شان لوئ کار مخکښې کله هم شوے دے څۀ؟ ولې مخکښې چا د دې په شان څۀ اورېدلی دی؟ ۳۳ داسې څۀ خلق شته چې هغوئ د اور نه د يو خُدائ خبرې اورېدلې وی او ژوندی پاتې وی لکه ستاسو په شان؟ ۳۴ بل خُدائ کله هم دا جرأت کړے دے چې د بل قوم نه خلق روان کړی او بو يې ځی او هغوئ خپل خلق جوړ کړی، لکه څنګه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو دپاره په مِصر کښې وکړل؟ ستاسو د سترګو په وړاندې هغۀ د خپل لوئ طاقت او قوت نه کار واخستلو، هغۀ وباګانې او جنګ راوستلو، معجزې او نښې يې وښودلې او يرروونکی کارونه يې وکړل. ۳۵ مالِک خُدائ تاسو ته دا وښودل چې دا ثابِته شی چې يواځې هغه خُدائ پاک دے او بې له هغۀ نه بل نشته. ۳۶ هغۀ په تاسو باندې د آسمان نه خپل آواز واورېدو چې هغه ستاسو تربيت وکړی، او هغۀ دلته په زمکه باندې په تاسو خپل مقدس اور وليدلو او د دې نه يې تاسو سره خبرې وکړې. ۳۷ ځکه چې هغۀ ستاسو پلار نيکۀ سره مينه کوله، هغۀ تاسو غوره کړئ او د خپل لوئ طاقت سره هغۀ په خپله تاسو د مِصر نه راوويستلئ. ۳۸ کله چې تاسو مخ په وړاندې روان وئ، نو هغۀ هغه قومونه وشړل چې ستاسو نه لوئ او طاقتور وُو، چې هغه تاسو د هغوئ مُلک ته راولی او در يې کړی، کوم مُلک چې نن هم ستاسو دے. ۳۹ نو نن دا خبره ياده ساتئ او هيځکله يې مۀ هېروئ. مالِک خُدائ هغه خُدائ پاک دے چې په آسمان کښې او لاندې په زمکه کښې موجود دے. بل يو خُدائ هم نشته. ۴۰ د هغۀ ټول قانون ومنئ کوم چې نن ما تاسو له درکړے دے، نو ستاسو او ستاسو د اولاد به هر کار سم وی. په هغه مُلک کښې به اوسېږئ کوم چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک هميشه دپاره تاسو له درکوی.“

## د اُردن نمرخاتۀ طرف ته د پناه دپاره ښارونه

۴۱ بيا موسیٰ د اُردن سيند نمرخاتۀ طرف ته درې ښارونه بېل کړل. ۴۲ کله



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې څوک په غلطۍ سره داسې څوک ووژنی چې دشمنی یې ورسره نۀ وی نو
قاتِل به د دې ښارونو نه یو ښار ته د پناه دپاره وتښتی او خپل ژوند به بچ کړی.
۴۳ د لوړې علاقې په بیابان کښې د بصر ښار، د روبین قبیلې دپاره وو، د جِلعاد
په علاقې کښې، د رامات ښار د جاد قبیلې دپاره وو، د بسن په علاقه کښې،
جولان د منسی قبیلې دپاره وو.

## د خُدائ پاک د قانون په حقله د حضرت موسیٰ پېغام ورکول

۴۴ موسیٰ بنی اِسرائیلو ته د خُدائ پاک قانون او اصُول وښودل. ۴۵-۴۶ دا د
هغې نه وروستو ؤو چې هغوئ د مِصر نه راوتلی ؤو او هغوئ د اُردن سیند په
نمرخاتهٔ طرف، بیت‌فعور ښار ته مخامخ په مېدان کښې ؤو، چې هغوئ له یې دا
قانون ورکړو. دا په هغه علاقه کښې ؤو کومه چې د اموری بادشاه سیحون وه،
هغهٔ د حسبون په ښار کښې بادشاهی کوله. موسیٰ او اِسرائیلیان چې کله د مِصر
نه راووتل نو هغهٔ له یې شکست ورکړو. ۴۷ هغوئ د هغهٔ او د بسن بادشاه عوج
په مُلک قبضه وکړه، دا د اموریانو بل بادشاه وو چې د اُردن نمرخاتهٔ طرف ته
اوسېدو. ۴۸ دا مُلک د ارنون سیند په غاړه، د عروعیر ښار نه واخله، د سِریون
غرهٔ پورې خور وو، کوم چې حرمون دے. ۴۹ په دې کښې هغه ټوله علاقه هم
شامله وه چې د اُردن سیند نمرخاتهٔ طرف ته د مالګې دریاب پورې وه او د پِسګه
د غرهٔ تر لمنې پورې وه.

## د شریعت لس حُکمونه

۵ ۱ موسیٰ ټول اِسرائیلیان راغونډ کړل او هغوئ ته یې وفرمائیل، "اے بنی
اِسرائیلو. دې قانون ته غوږ ونیسئ کوم چې نن زۀ تاسو له درکوم. دا زده کړئ
او وګورئ چې خامخا به وربانديې عمل وکړئ. ۲ د سینا په غرهٔ باندې مالِک
خُدائ زمونږ خُدائ پاک یو لوظ وکړو، ۳ هغه لوظ نۀ صِرف زمونږ د پلار نیکهٔ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره وو، بلکې زمونږ ټولو سره وو کوم چې نن ژوندی یُو. ﴿٤﴾ مالِک خُدائ هلته
په غرهٔ باندې د اور نه تاسو سره مخامخ خبرې وکړې. ﴿٥﴾ په هغه وخت کښې
زهٔ ستاسو او مالِک خُدائ په مینځ کښې د مینځګړی په شان د دې دپاره ولاړ وم
چې هغه څهٔ ووائی نو زهٔ به یې تاسو ته ووایم، ځکه چې تاسو د اور نه یرېدئ او
غرهٔ ته ونهٔ ختلئ. مالِک خُدائ وفرمائیل چې، ﴿٦﴾ زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک یم، چا چې د مِصر نه راوویستلئ، چرته چې تاسو غلامان وئ. ﴿٧﴾ زما نه
غېر د نورو معبودانو عبادت مهٔ کوئ. ﴿٨﴾ د ځان دپاره د داسې یو څیز په شکل
هم بُتان مهٔ جوړَوئ چې هغه پاس په آسمان کښې وی یا لاندې په زمکه باندې وی
او یا د زمکې د لاندې په اوبو کښې وی. ﴿٩﴾ یو بُت ته هم چې سجده ونهٔ لګوئ
او نهٔ یې عبادت وکړئ، ځکه چې زهٔ مالِک خُدائ ستاسو غېرتی خُدائ پاک یم.
زهٔ د پلار نیکهٔ د ګناه سزا د هغوئ اولاد له تر درېم او څلورم نسله پورې ورکوم
څوک چې زما نه نفرت کوی. ﴿١٠﴾ خو زهٔ د هغه خلقو زرګونو نسلونو ته خپله
مینه ښایم څوک چې زما سره مینه لری او زما حُکمونه منی. ﴿١١﴾ زما نوم د
غلطو مقصدونو دپاره مهٔ استعمالوئ، ځکه چې زهٔ، مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک به هغه چا له سزا ورکوم څوک چې زما نوم بې‌ځایه اخلی. ﴿١٢﴾ د سبت
ورځ یاده لرئ او دا مقدسه وګڼئ، هم هغه شان لکه څنګه چې ما، مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک حُکم کړے دے. ﴿١٣﴾ په شپږو ورځو کښې تاسو خپل کار
روزګار کوئ، ﴿١٤﴾ خو اوومه ورځ د آرام ورځ ده چې ما ته وقف ده. په هغه ورځ
به هیڅ څوک کار نهٔ کوی، نهٔ تاسو، نهٔ ستاسو بچی، نهٔ ستاسو غلامان، نهٔ ستاسو
ځناور او نهٔ هغه مسافر چې ستاسو په مُلک کښې اوسیږی. ستاسو غلامان به هم
هغه شان آرام کوی لکه څنګه چې تاسو کوئ. ﴿١٥﴾ هغه راپه یاد کړئ چې تاسو په
مِصر کښې غلامان وئ او ما، مالِک خُدائ، ستاسو خُدائ پاک د خپل لوئ
طاقت او قوت سره آزاد کړئ. نو ځکه زهٔ تاسو له حُکم درکوم چې د سبت ورځ
یاده لرئ. ﴿١٦﴾ د خپل مور او پلار عزت کوئ، لکه چې زهٔ، مالِک خُدائ، ستاسو
خُدائ پاک تاسو له حُکم درکوم، نو ستاسو هر څهٔ به سم وی او تاسو به په هغه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مُلک کښې يو اوږد عمر تېر کړئ کوم چې درکوم. ⑰ قتل مۀ کوئ. ⑱ زنا مۀ کوئ. ⑲ غلا مۀ کوئ. ⑳ د چا خِلاف د دروغو ګواهی مۀ ورکوئ. ㉑ د بل سړی د ښځې خواهش مۀ کوئ، د هغۀ د کور، د هغۀ د زمکې، د هغۀ د نوکرانو، د هغۀ د څاروو، د هغۀ د خرونو، يا د بل داسې يو شی لالچ هم مۀ کوئ کوم چې د هغۀ وی. ㉒ کله چې تاسو د غرۀ سره راغونډ وئ نو دا حُکمونه مالِک خُدائ تاسو ټولو له درکړل. کله چې هغۀ د اور نه او د تکې تورې ورېځې نه په يو درونډ آواز سره خبرې وکړې نو هم دغه حُکمونه يې درکړل. بيا هغۀ دا د کاڼو په دوه تختو وليکل او ما له يې راکړل.

## د خلقو وېره

㉓ کله چې ټول غر اور اخستے وو او تاسو د تيارې نه آواز واورېدو، نو ستاسو د قبيلو مشران ما له راغلل ㉔ او هغوئ ووئيل چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک مونږ ته خپله لوئی او جلال په هغه وخت وښودلو چې د اور نه مو د هغۀ خبرې اورېدلې. مونږ ته نن دا پته ولګېده چې کۀ خُدائ پاک د يو انسان سره خبرې وکړی نو هغه انسان بيا هم ژوندے پاتې کېدے شی. ㉕ خو مونږ ولې خپل ځانونه د مرګ په خطره کښې واچوو؟ هغه لوئ اور به مونږ تباه کړی. زمونږ دا يقين دے کۀ چرې بيا مونږ د مالِک خُدائ زمونږ د خُدائ پاک خبرې واورېدلې نو مړۀ به شُو. ㉖ داسې يو انسان شته څۀ چې هغۀ د اور نه د ژوندی خُدائ پاک خبرې اورېدلې وی او بيا هم ژوندے پاتې وی؟ ㉗ موسیٰ، واپس لاړ شه او هغه هر څۀ په غور سره واوره څۀ چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک فرمائی. بيا واپس راشه او چې هغۀ درته څۀ وئيلی وی نو هغه مونږ ته ووايه. مونږ به هغې ته غوږ ونيسو او عمل به پرې وکړُو. ㉘ کله چې مالِک خُدائ دا واورېدل، نو هغۀ ما ته وفرمائيل، ما د دې خلقو خبرې اورېدلې دی او هغوئ بلکل ټيک وائی. ㉙ کاش چې هغوئ همېشه صِرف هم دغه شان احساس لرلے. کاش چې هغوئ همېشه زما درناوے کولے او زما ټول حُکمونه يې منلے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو چې د هغوئ او د هغوئ د اولاد به همېشه دپاره هر څۀ سم وے. ﴿۳۰﴾ لاړ شه
او هغوئ ته ووايه چې واپس خپلو خېمو ته لاړ شی. ﴿۳۱﴾ خو موسیٰ، تۀ، زما سره
ايسار شه او زۀ به تا له زما ټول حُکمونه درکړم. هغه بيا خلقو ته وښايه، چې
هغوئ په دې باندې په هغه مُلک کښې عمل کوی کوم چې هغوئ له ورکوم. ﴿۳۲﴾
بنی اِسرائيلو، ګورئ چې تاسو هغه هر څۀ وکړئ د کوم چې مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک تاسو له حُکم درکړے دے. او د دې قانون نه اخوا دېخوا مۀ اوړئ.
﴿۳۳﴾ په هغه ټولو حُکمونو عمل کوئ، نو ستاسو هر څۀ به سم وی او په هغه مُلک
کښې به تاسو ژوند تېروئ د کوم قبضه کولو له چې تاسو روان يئ.

## لوئ حُکم

۶ ﴿۱﴾ دا ټول هغه حُکمونه دی چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ما له حُکم
راکړے دے چې تاسو ته يې وښايم. چې په هغه مُلک کښې پرې عمل کوئ چې
تاسو ورننوځئ او قبضه پرې کوئ. ﴿۲﴾ او چې تر کومې پورې تاسو، ستاسو
بچی او ستاسو نمسی ژوندی وی نو د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک نه خامخا
يرېږئ. کۀ تاسو د هغۀ په ټول قانون عمل وکړو کوم چې زۀ تاسو له درکوم نو په
هغه مُلک کښې به ستاسو عُمر زيات شی. ﴿۳﴾ اے بنی اِسرائيلو، غوږ شئ. او په
دې حُکمونو باندې عمل کوئ نو ستاسو هر کار به سم وی او په هغه مُلک کښې
به مو ډېر اولاد پيدا شی چې زرخيزه او آباد دے، لکه څنګه چې مالِک خُدائ،
ستاسو د پلار نيکۀ خُدائ پاک، تاسو سره وعده کړې ده. ﴿۴﴾ اے بنی اِسرائيله
واوره. مالِک زمونږ مالِک خُدائ واحد ذات دے. ﴿۵﴾ تاسو د مالِک خُدائ خپل
خُدائ پاک سره په پوره زړۀ سره، په پوره ځان او په خپل ټول طاقت سره مينه
ساتئ. ﴿۶﴾ کوم حُکمونه چې درکوم نو هغه په ياده ياد کړئ. ﴿۷﴾ خپلو بچو ته دا
بيا بيا وريادوئ. کۀ په کور کښې ناست يئ يا په لاره روان يئ، چې څملئ يا
پاڅئ، نو د دې په حقله د هغوئ سره خبرې کوئ. ﴿۸﴾ دا په خپلو متو او په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو تندو باندې وترئ چې ستاسو دپاره د يادېدو د نښې په شان وى. ﴿٩﴾ دا د
خپلو کورونو په درشلو او د خپلو ښارونو په دروازو وليکئ.

## د نافرمانۍ خبردارے

﴿١٠﴾ لکه څنګه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو پلار نيکهٔ، اِبراهيم،
اِسحاق او يعقوب سره لوظ کړے دے، هغه به تاسو له لوئ لوئ او ښائسته
ښارونه درکړى کوم چې تاسو نهٔ وى جوړ کړى. ﴿١١﴾ کورونه به مو د ښو ښو
څيزونو نه ډک وى چې کوم تاسو په کښې اېښى نهٔ وى او هلته به کوهى وى چې
تاسو کنستلى نهٔ وى او د انګورو او زيتُونو باغونه به وى چې تاسو کَرلى نهٔ وى.
کله چې مالِک خُدائ تاسو دې مُلک ته راولى نو ستا دپاره به خوراک ډېر وى او
تاسو به ماړهٔ شئ، ﴿١٢﴾ نو پام کوئ چې مالِک خُدائ هېر نهٔ کړئ کوم چې تاسو
د مِصر مُلک نه راوويستلئ، چرته چې تاسو غلامان وئ. ﴿١٣﴾ مالِک خُدائ د
خپل خُدائ پاک نه يرېږئ، تش د هغهٔ عبادت کوئ او صِرف د هغهٔ په نوم قسم
خورئ. ﴿١٤﴾ د نورو معبودانو عبادت مهٔ کوئ، د هغه خلقو د معبودانو کوم چې
ستاسو په خوا او شا کښې وى. ﴿١٥﴾ ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک
کوم چې تاسو سره اوسيږى، هغه يو غېرتى خُدائ پاک دے. د هغهٔ غضب به په
تاسو راشى او هغه به د زمکې مخ نه تاسو ورک کړى. ﴿١٦﴾ تاسو به خپل مالِک
خُدائ آزمېښت مهٔ کوئ، لکه څنګه چې تاسو هغه په مسه کښې وآزمائيلو. ﴿١٧﴾
پام کوئ چې د هغهٔ په ټول قانون عمل کوئ کوم چې هغهٔ تاسو له درکړے دے.
﴿١٨﴾ د مالِک خُدائ په نظر کښې چې څهٔ صحيح او ښهٔ وى نو هم هغه کوئ، نو
ستاسو هر يو کار به سم وى. تاسو به هغه آبادې زمکې ته ورننه وځئ او ستاسو
به شى چې مالِک خُدائ ستاسو پلار نيکهٔ سره د هغې وعده کړې ده، ﴿١٩﴾ او لکه
چې هغهٔ څنګه وعده کړې ده، تاسو به خپل دشمنان د هغه ځائ نه وشړئ. ﴿٢٠﴾
په راتلونکى زمانه کښې کله چې بچى درنه تپوس کوى چې مالِک خُدائ زمونږ
خُدائ پاک د دې ټول قانون د منلو حُکم مونږ له ولې راکړے دے؟ ﴿٢١﴾ نو هغوئ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته ووایئ چې مونږ په مِصر کښې د فِرعون غلامان وُو او مالِک خُدائ د خپل لوئ طاقت سره مونږ بچ کړُو. ﴿۲۲﴾ مونږ په خپلو سترګو ولیدل چې هغهٔ مِصریانو، فِرعون او د هغهٔ ټولو آفسرانو ته خپلې معجزې او یرووُنکی کارونه وښودل. ﴿۲۳﴾ هغهٔ مونږ د مِصر نه آزاد کړُو چې دلته مو راولی او دا مُلک راکړی، لکه چې څنګه هغهٔ زمونږ پلار نیکهٔ سره وعده کړې وه. ﴿۲۴﴾ بیا مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک مونږ ته حُکم وکړو چې د هغهٔ په ټول قانون به عمل کوُو او د هغهٔ درناوے به کوُو. کهٔ مونږ داسې وکړل نو زمونږ قوم به همېشه د هغهٔ د نظر لاندې وی او کامیابی به زمونږه وی. ﴿۲۵﴾ کهٔ مونږ په وفاداری سره په هغه هر څهٔ عمل وکړُو چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک یې مونږ ته حُکم کړے دے، نو هغه به زمونږ نه رضا وی.

## د مالِک خُدائ قوم

۷ ﴿۱﴾ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به تاسو هغه مُلک ته ورننه کړی چې د کوم قبضه کولو له ورروان یئ او هغه به د دې نه ډېر قومونه وشړی. کله چې تاسو مخ په وړاندې ځئ، نو هغه به اووهٔ قومونه وشړی کوم چې ستاسو نه لوئ او طاقتور دی. هغوئ حِتیان، جرجاسیان، اموریان، کنعانیان، فرزیان، حِویان او یبوسیان دی. ﴿۲﴾ کله چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو په هغه خلقو زورَور کړی او شکست ورکړئ، نو هغوئ ټول ووژنئ. د هغوئ سره لوظ مهٔ کوئ او چې هیڅ رحم ورباندې ونهٔ کړئ. ﴿۳﴾ د هغوئ سره ودونه مهٔ کوئ او خپل اولاد هغوئ سره ودونو ته مهٔ پرېږدئ، ﴿۴﴾ ځکه چې هغوئ به بیا ستاسو اولاد د مالِک خُدائ نه واړوی چې د هغوئ د معبودانو عبادت به کوی. نو بیا به د مالِک خُدائ غضب په تاسو راشی او تاسو به سمدستی تباه کړی. ﴿۵﴾ د هغوئ د قربانګاه ځایونه وران کړئ، د هغوئ مقدسې ستنې ټوټې ټوټې کړئ، د هغوئ د اشیرې بُت نښې راوغورزوئ او د هغوئ بُتان وسوزوئ. ﴿۶﴾ تاسو د مالِک



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ یعنې د خُدائ پاک مقدس خلق یئ. نو هغۀ د زمکې د مخ نه خوښ کړئ چې د هغۀ خپل خاص خلق اوسئ. ﴿۷﴾ مالِک خُدائ تاسو سره د دې دپاره مینه نۀ ده کړې او نۀ یې خوښ کړی یئ چې تاسو د نورو خلقو نه زیات وئ، په حقیقت کښې تاسو د ټولو نه وړوکے قوم وئ. ﴿۸﴾ خو مالِک خُدائ ستاسو سره مینه وکړه او هغه وعده پوره کوی کومه یې چې ستاسو پلار نیکۀ سره کړې وه. نو ځکه هغۀ د خپل لوئ طاقت سره تاسو بچ کړئ او د مِصر بادشاه، فِرعون د غلامۍ نه یې آزاد کړئ. ﴿۹﴾ یاد ساتئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک، حقیقی خُدائ پاک دے او هغه وفادار دے. هغه به خپل لوظ پوره کړی او د هغه خلقو زرګونو نسلونو ته به نۀ بدلېدونکې مینه وښائی څوک چې د هغۀ سره مینه لری او د هغۀ په حُکمونو عمل کوی، ﴿۱۰﴾ او څوک چې ترې نه نفرت کوی نو په بدل کښې به هغه تباه کړی. هغه به هغه چا له په سزا ورکولو کښې سستی ونۀ کړی څوک چې د هغۀ نه نفرت وکړی. ﴿۱۱﴾ تاسو ته چې څۀ ښودلے شوی دی نو په هغې عمل وکړئ، نن چې ما کوم قانون درکړے دے په هغې عمل وکړئ.

## د فرمانبردارۍ کولو برکتونه

﴿۱۲﴾ کۀ تاسو دې حُکمونو ته غوږ ونیسئ او په وفادارۍ سره پرې عمل کوئ، نو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به ستاسو سره خپل لوظ پوره کړی او خپله نۀ بدلېدونکې مینه به درته وښائی، لکه څنګه چې هغۀ ستاسو پلار نیکۀ سره وعده کړې ده. ﴿۱۳﴾ هغه به ستاسو سره مینه کوی او برکت به درکړی، نو ستاسو شمېر به زیات شی او ډېر اولاد به پیدا شی، هغه به ستاسو پټی برکتناک کړی، نو چې ستاسو غله، مے او د زیتُونو تېل به پیدا کړی، او هغه به تاسو له برکت درکړی چې تاسو له ډېر څاروی، چېلۍ او ګډې درکړی. هغه به دا ټول برکتونه تاسو له په هغه مُلک کښې درکړی د کوم چې هغۀ ستاسو پلار نیکۀ سره تاسو له د درکولو وعده کړې ده. ﴿۱۴﴾ په دُنیا کښې د یو قوم سره به هم ستاسو په شان ډېر برکتونه نۀ وی. نۀ به ستاسو یو کس او نۀ به ستاسو یو څاروے شنډ ګرځی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ مالِک خُدائ به تاسو د ټولو بیمارو نه وساتی، هغه به په تاسو باندې داسې
خرابې بیمارئ نۀ راولی کومې چې تاسو په مِصر کښې لیدلې وې، خو هغه
بیمارئ به ستاسو په ټولو دشمنانو راولی. ۱۶ هغه هر یو قوم تباه کړئ په کوم
چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو زورَور کړی یئ او چې په هغوئ باندې
هیڅ رحم ونۀ کړئ. د هغوئ د معبودانو عبادت مۀ کوئ، ځکه چې دا به ستاسو
دپاره یو دام جوړ شی. ۱۷ په خپل زړۀ کښې دا مۀ وایئ چې دا قومونه ستاسو
نه په شمېر کښې زیات دی او هغوئ تاسو نۀ شئ شړلے. ۱۸ د هغوئ نه مۀ
یرېږئ، هغه څۀ راپه یاد کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په فِرعون او
په ټول مِصر وکړل. ۱۹ هغه سختې وباګانې، معجزې او نښې رایادې کړئ چې
تاسو په خپلو سترګو ولیدلې او هغه لوئ طاقت او قوت چې د کوم په ذریعه
مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو آزاد کړئ. لکه څنګه چې هغۀ مِصریان
تباه کړل، نو هغه ټول خلق به هم هغه شان تباه کړی چې تاسو ترې نه یرېږئ.
۲۰ هغه به په هغوئ وارخطائی ورولېږی او هغه به هغوئ هم تباه کړی چې
څوک تښتی او پټېږی. ۲۱ نو د دې خلقو نه مۀ یرېږئ. مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک ستاسو مل دے، خُدائ پاک لوئ او یرووُنکے دے. ۲۲ چې تاسو
مخ په وړاندې ځئ نو هغه به دا قومونه لږ لږ شړی. تاسو به هغوئ ټول په یو ځل
نۀ شئ شړلے، ځکه کۀ تاسو داسې وکړل، نو ځنګلی ځناور به زیات شی او دا به
ستاسو دپاره یوه خطره جوړه شی. ۲۳ مالِک خُدائ به تاسو ستاسو په دشمنانو
زورَور کړی او تر هغې پورې به وارخطا وی چې ترڅو تباه شوی نۀ وی. ۲۴
هغه به د هغوئ په بادشاهانو تاسو زورَور کړی. تاسو به هغوئ ووژنئ او هغوئ به
هېر کړے شی. هیڅ څوک به ستاسو مخه نۀ شی نیولے، تاسو به هر یو تباه
کړئ. ۲۵ د هغوئ بُتان وسوزوئ. په دې باندې چې کوم سپین زر یا سرۀ زر
لګېدلی وی، د هغې خواهش مۀ کوئ، هغه ترې نه د خپلو ځانونو دپاره مۀ اخلئ.
ګنې دا به ستاسو دپاره یو دام جوړ شی، ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک د بُت پرستئ نه نفرت کوی. ۲۶ هغه بُتان خپلو کورونو ته مۀ راوړئ، ګنې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په تاسو به هم هغه لعنت وی کوم چې په هغوئ دے. تاسو خامخا د دې بُتانو نه
کرکه کوئ او سپک ورته ګورئ، ځکه چې دا لعنتی دی.

## بنی اِسرائيلو ته د ښې زمکې مِلاوېدل

**۸** ۱ ما چې نن کوم قانون درکړے دے په هغه ټول په وفادارئ سره عمل
کوئ، نو چې داسې تاسو ژوندی پاتې شئ او ودان شئ او هغه مُلک قبضه کړئ
چې مالِک خُدائ د هغې وعده ستاسو پلار نيکهٔ سره کړې ده. ۲ هغه راياد
کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په تېرو څلوېښتو کالونو کښې څنګه په
بيابان کښې په دې اوږد سفر کښې ستاسو لارښودنه وکړه، او په تاسو يې سختئ
راولېږلې چې په تاسو کښې عاجزی وی او تاسو وآزمائی، نو چې هغه په دې پوهه
شی چې ستاسو په زړهٔ کښې څهٔ دی نو چې د هغهٔ په حُکمونو عمل کوئ او کهٔ
نه. ۳ هغهٔ په تاسو باندې عاجزی او لوږه راوستله، نو بيا هغهٔ تاسو له د
خوراک دپاره من درکړل، هغه خوراک چې د دې نه مخکښې هيڅکله ستاسو پلار
نيکهٔ هم نهٔ وو خوړلے. هغهٔ دا د دې دپاره وکړل چې تاسو ته وښائی چې بنی آدم
دې په دې يقين نهٔ ساتی چې هغه تش په روټئ پائی، خو هغه په هره هغه خبره پائی
چې د مالِک خُدائ د خولې نه راوځی. ۴ په دې څلوېښتو کالو کښې ستاسو
جامې نهٔ دی زړې شوې او نهٔ مو پښې پړسېدلې دی. ۵ ياد لرئ چې مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو د اصلاح دپاره سزا درکوی لکه چې يو پلار
خپلو بچو له تربيت ورکوی. ۶ نو بيا، هم هغه شان کوئ چې څنګه مالِک
خُدائ حُکم درکړے دے، د هغهٔ د قانون په مطابق ژوند تېروئ او د هغهٔ تابعداری
کوئ. ۷ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو هغه زرخېز مُلک ته راولی، يو
داسې مُلک چې سيندونه او ولې په کښې وی چې د هغه چينو نه وتلې وی چې د
درو او غرونو نه بهيږی، ۸ يو داسې مُلک چې غنم، اوربشې، انګور، اينځر،
انار، د زيتُونو تېل او شات په کښې پيدا کيږی. ۹ هلته به هيڅکله اوږی نهٔ شئ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او نهٔ به محتاج شئ. د هغې په تيرو کښې اوسپنه شته دے او د هغې غرونو نه
تاسو تانبه راويستلے شئ. (١٠) تاسو چې د خوراک دپاره څهٔ غواړئ هغه هر څهٔ
به درته ملاويږی او چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک کوم آباد مُلک درکړے
دے د هغې دپاره به تاسو د هغهٔ شُکر ادا کړئ.

## مالِک خُدائ نهٔ هېرول

(١١) پام کوئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک هېر نهٔ کړئ، نن چې کوم
قانون زهٔ درکوم چې په هغې باندې عمل کولو کښې ناکامه نهٔ شئ. (١٢) کله چې
تاسو ته د خوراک دپاره هغه هر څهٔ مِلاو شی چې تاسو يې غواړئ او د اوسېدو
دپاره ښائسته کورونه جوړ کړئ (١٣) کله چې ستاسو څاروی، ګډې، ستاسو
سپين زر او سرهٔ زر او ستاسو نور هر څيز زيات شی، (١٤) نو دا خبره يقينی
کړئ چې تاسو مغروره نهٔ شئ او مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک هېر نهٔ کړئ
چې هغهٔ تاسو د مِصر نه راوويستلئ، چرته چې تاسو غلامان وئ. (١٥) هغهٔ تاسو
د هغه لوئ او يرووُنکی بيابان په لاره بوتلئ چرته چې زهريله ماران او لړمان وُو.
په هغه خُشکه او تږې زمکه کښې هغهٔ ستاسو دپاره د سختې تيږې نه اوبهٔ روانې
کړې. (١٦) په بيابان کښې د خوراک دپاره هغهٔ تاسو له من درکړل، هغه خوراک
چې ستاسو پلار نيکهٔ هيڅکله نهٔ وو خوړلے. هغهٔ په تاسو سختئ راولېږلې چې
تاسو وآزمائی، نو چې داسې په آخر کښې ستاسو هر څهٔ سم شی. (١٧) پام کوئ
چې تاسو په خپل زړهٔ کښې دا ونهٔ وايئ چې په خپل طاقت او قوت سره تاسو
خپل ځانونه مالداره کړی دی. (١٨) ياد لرئ دا مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک
دے چې هغهٔ تاسو له د مالداره کېدو طاقت درکړے دے. هغه ځکه دا کوی چې
هغه تر نن ورځ پورې وفادار دے چې په هغه لوظ ودرېږی کوم چې هغهٔ ستاسو
پلار نيکهٔ سره کړے وو. (١٩) هيڅکله مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک مهٔ هېروئ
او نهٔ چې نورو معبودانو ته واوړئ چې د هغوئ عبادت او خِدمت وکړئ. کهٔ
تاسو داسې وکړل، نو زهٔ نن تاسو له خبردارے درکوم چې بېشکه تاسو به تباه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شئ. (٢٠) کۀ چرې تاسو د مالِک خُدائ تابعدارى ونۀ کړئ، نو د هغه قومونو په
شان به تاسو تباه شئ کوم چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو مخ په
وړاندې تلو سره تباه کوى.

## د خلقو نافرمانى

٩ (١) اے بنى اِسرائيلو واورئ. تاسو به نن د اُردن سيند نه پورې وځئ او هغه
مُلک به قبضه کړئ چې د هغه قومونو دے چې ستاسو نه لوئ او طاقتور دى. د
هغوئ ښارونه لوئ لوئ دى چې ديوالونه يې آسمان ته رسيږى. (٢) هغه خلق په
خپله تکړه او لوړ لوړ دى، هغوئ ديوان دى او تاسو دا خبره اورېدلې ده چې د
هغوئ په مقابله کښې هيڅ څوک نۀ شى ودرېدلے. (٣) خو تاسو به په خپله
وګورئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به د بل شوى اور په شان ستاسو نه
مخکښې روان وى. چې مخ په وړاندې ځئ نو خُدائ پاک به هغوئ له شکست
ورکړى، هغوئ به وشړئ او زر به يې تباه کړئ، هم هغه شان چې څنګه هغۀ وعده
کړې ده. (۴) کله چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک هغوئ ستاسو دپاره د
هغه مُلک نه وباسى، نو په خپل زړۀ کښې داسې مۀ وايئ چې ګنې تاسو نېک خلق
يئ او د دې دپاره يې راوستلئ چې دا مُلک ستاسو شى. داسې نۀ ده، مالِک خُدائ
دا خلق ستاسو دپاره ځکه وباسى چې هغوئ بدکاره دى. (۵) په دې وجه نۀ چې
تاسو نېک عمله او ښۀ خلق يئ خو مالِک خُدائ تاسو پرېږدى چې د هغوئ مُلک
ونيسئ. هغه به هغوئ وشړى ځکه چې هغوئ بدعمله خلق دى او د هغۀ اراده دا
ده چې ستاسو پلار نيکۀ، اِبراهيم، اِسحاق، او يعقوب سره يې کومه وعده کړې وه
هغه پوره کړى. (۶) ځان په دې ښۀ پوهه کړئ چې مالِک خُدائ دا زرخيزه مُلک
تاسو له ستاسو د ښۀوالى په وجه نۀ درکوى بلکې تاسو خو ضدى خلق يئ. (۷)
دا خبره مۀ هېروئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په بيابان کښې تاسو
څنګه غصه کړو. د هغه ورځې نه واخله چې تاسو په کښې د مِصر نه راووتلئ تر



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ننه پورې چې دلته راورسېدلئ، تاسو د هغهٔ خِلاف بغاوت کړے دے. ٨ د سينا
په غرهٔ باندې هم تاسو مالِک خُدائ دومره غصه کړو چې ستاسو بربادولو ته تيار
وو. ٩ زهٔ غرهٔ ته وختلم چې د کاڼو هغه تختې راواخلم چې هغه لوظ ورباندې
ليکلے شوے وو کوم چې مالِک خُدائ تاسو سره کړے دے. زهٔ هلته بغير د څهٔ
خوراک څښاک نه څلوېښت ورځې او څلوېښت شپې پاتې شوم. ١٠ بيا مالِک
خُدائ ما له د کاڼو هغه دوه تختې راکړې چې په هغې باندې هغهٔ په خپله هغه څهٔ
ليکلى وُو څهٔ يې چې په هغه ورځ د اور نه تاسو ته فرمائيلى وُو چې هلته د غرهٔ
سره راغونډ وئ. ١١ د هغه څلوېښتو ورځو او څلوېښتو شپو نه وروستو مالِک
خُدائ ما له د کاڼو هغه دوه تختې راکړې چې په کومو باندې هغهٔ شريعت ليکلے
وو. ١٢ بيا مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل چې سمدستى د غرهٔ نه کوز شه، ځکه
چې ستا خلق کوم چې تا د مِصر نه راوويستل، هغوئ مرتد شوى دى. هغوئ د
هغه څهٔ نه زر اوړېدلى دى چې ما يې حُکم ورکړے دے او هغوئ د خپلو ځانونو
دپاره د سرو زرو يو بُت جوړ کړے دے. ١٣ مالِک خُدائ ما ته دا هم وفرمائيل،
ما ته پته ده چې دا څومره ضدى خلق دى. ١٤ تهٔ د هغوئ دپاره ما ته مِنت ونهٔ
کړې. زهٔ هغوئ تباه کوم او هيڅ څوک به يې بيا نوم وانهٔ خلى. نو زهٔ به تا د داسې
قوم پلار جوړ کړم چې د دوئ نه به لوئ او طاقتور وى. ١٥ نو زهٔ واپس شوم او
د غرهٔ نه راکوز شوم، هغه د کاڼو دوه تختې مې راروانې کړې وې چې په کومو
باندې شريعت ليکلے شوے وو. د غر نه د اور لمبې ختلې. ١٦ ما ته پته ولګېده
چې تاسو د هغه حُکم نافرمانى کړې ده کوم چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک
تاسو له درکړے وو او تاسو د هغهٔ خِلاف ګناه کړې وه چې د سخى په شکل
کښې مو د سرو زرو بُت جوړ کړے وو. ١٧ نو هلته ستاسو په مخکښې ما د
کاڼو تختې راوغورزولې او ټوټې ټوټې مې کړې. ١٨ نو يو ځل بيا زهٔ د مالِک
خُدائ په حضور کښې څلوېښت ورځې او څلوېښت شپې پرمخې پرېوتم او نهٔ
مې څهٔ خوړل او نهٔ مې څهٔ څښل. دا ځکه چې تاسو د مالِک خُدائ خِلاف ګناه
کړې وه او هغه مو غصه کړے وو. ١٩ زهٔ د مالِک خُدائ د سخت قهر نه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ویرېدم، ځکه چې هغه دومره غصه وو چې تاسو تباه کړی، خو مالِک خُدائ یو ځل بیا زما واورېدل. ۲۰ مالِک خُدائ هارون ته هم دومره غصه وو چې وې وژنی، نو په هغه وخت ما د هارون دپاره هم دُعا وکړه. ۲۱ ما هغه د ګناه نه ډک څیز یعني د سرو زرو سخے واخستو کوم چې تاسو جوړ کړے وو او په اور کښې مې واچولو. بیا ما دا ټوټې ټوټې کړو، د اوړو په شان مې میده کړو او هغه مې په هغه وَله کښې وغورزولو چې د غر نه لاندې بهېده. ۲۲ کله چې تاسو په تبیعره، مسه، قبروت هتاوه کښې وئ نو تاسو هلته هم مالِک خُدائ غصه کړے وو. ۲۳ او چې کله هغهٔ تاسو د قادِس برنیع نه د دې حُکمونو سره ولېږلئ چې لاړ شئ او هغه مُلک ونیسئ کوم یې چې تاسو له درکولو، نو تاسو د هغهٔ خِلاف سرکشی وکړه، تاسو په هغهٔ یقین ونهٔ کړو او نهٔ مو د هغهٔ فرمانبرداری وکړه. ۲۴ چې د کوم وخت نه ما تاسو پېژندلی یئ، تاسو د مالِک خُدائ خِلاف سرکشی کړې ده. ۲۵ نو په هغه څلوېښتو ورځو او څلوېښتو شپو کښې زهٔ د مالِک خُدائ په حضور کښې پرمخې پروت وم، دا ځکه چې ما ته پته وه چې هغه ستاسو د تباه کولو اراده لری. ۲۶ او ما دُعا وکړه، اے مالِکه خُدایه، خپل خلق مهٔ تباه کوه، هغه خلق چې تا بچ کړل او د خپل لوئ طاقت او قوت سره دې د مِصر نه راوویستل. ۲۷ خپل خِدمت کوونکے اِبراهیم، اِسحاق او یعقوب رایاد کړه او د دې خلقو ضد، بدکارئ او ګناه ته مهٔ ګوره. ۲۸ ګنې، مِصریان بهووائی چې تهٔ د دې جوګه نهٔ یې چې خپل خلق هغه مُلک ته بوځې چې د هغوئ سره دې وعده کړې ده. هغوئ به ووائی چې تا خپل خلق بیابان ته د دې دپاره بوتلل چې هغوئ ووژنې، ځکه چې تا د هغوئ نه نفرت کولو. ۲۹ د دې هر څهٔ نه علاوه، دا هغه خلق دی چې تا خوښ کړل چې ستا خپل خلق شی او د خپل لوئ طاقت او قوت سره دې هغوئ د مِصر نه راوویستل.

## حضرت موسیٰ ته د شریعت د حُکمونو نوې تختې مِلاوېدل



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ ① په هغه وخت کښې مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل، ”د اولنو په شان دوه
د کاڼی تختې جوړې کړه او يو د لرګی صندوق جوړ کړه چې هغه تختې په کښې
کېږدې. په غر باندې ما ته راوخېژه، ② او زۀ به په هغې باندې هم هغه څۀ وليکم
څۀ چې ما په هغه تختو باندې ليکلی وُو چې تا ماتې کړې او بيا به تۀ هغه په
صندوق کښې کېږدې.“ ③ نو ما د کيکر لرګی نه يو صندوق جوړ کړو او د
اولنو په شان مې د کاڼی دوه تختې جوړې کړې او د ځان سره مې غر ته
وخېژولې. ④ بيا مالِک خُدائ په هغه تختو باندې هم هغه خبرې وليکلې کومې
چې هغۀ په وړومبی ځل ليکلې وې، دا هغه لس حُکمونه وُو چې تاسو له يې په هغه
ورځ درکړل چې د غر سره راغونډ وئ او هغۀ د اور نه خبرې وکړې. مالِک
خُدائ ما له تختې راکړې. ⑤ او زۀ د غرۀ نه راکوز شوم څنګه چې مالِک خُدائ
ما ته حُکم کړے وو، نو تختې مې په صندوق کښې کېښودلې. او هغه تختې تر
اوسه پورې په صندوق کښې پرتې دی.“ ⑥ بنی اِسرائيل د يعقان د خلقو د کُوهو
نه روان شول او موسيره ته لاړل. او هلته هارون په حق ورسېدو او دفن شو او د
هغۀ زوئ اِلیعزر د هغۀ په ځائ د اِمام په توګه خِدمت کولو. ⑦ د هغه ځائ نه
هغوئ جدجوده او بيا يُطباته ته لاړل، هغه مُلک چې د اوبو ډېر نِهرونه په کښې
دی. ⑧ په هغه وخت مالِک خُدائ د ليوی قبيلې سړی مقرر کړل چې د لوظ
صندوق وړی او د اِمامانو په توګه د هغۀ خِدمت کوی او د هغۀ په نوم برکت
غواړی. او تر اوسه پورې د هغوئ دا ذمه وارئ دی. ⑨ نو د ليوی قبيلې ته د
نورو قبيلو په شان زمکه مِلاو نۀ شوه، مالِک خُدائ په خپله د هغوئ ميراث وو
هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک وعده کړې وه. ⑩ ”د
وړومبی ځل په شان زۀ په غر باندې څلوېښت ورځې او څلوېښت شپې ايسار
شوم، مالِک خُدائ يو ځل بيا زما خبرې ته غوږ ونيولو او په دې رضا شو چې
تاسو به نۀ تباه کوی. ⑪ بيا هغۀ ما ته وفرمائيل چې پاڅم او ستاسو لارښودنه
وکړم، چې تاسو هغه مُلک ونيسئ چې د کوم وعده يې ستاسو پلار نيکۀ سره
کړې وه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مالِک خُدائ درناوے او عبادت کول

١٢ اوس، اے بنی اِسرائیلو، هغه څۀ واورئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک يې ستاسو نه غواړی. د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک نه يريږئ، د هغۀ پوره
تابعداری کوئ، د هغۀ سره مينه کوئ او د زړۀ د اخلاصه او د خپل ټول روح
سره د هغۀ خِدمت کوئ، ١٣ او د هغۀ ټول قانون منئ. دا زۀ نن ستاسو د فائدې
دپاره درکوم. ١٤ گورئ، دا اوچت آسمانونه د مالِک خُدائ دی، دا زمکه او په
دې کښې هر څۀ د هغۀ دی. ١٥ خو د مالِک خُدائ مينه ستاسو پلار نيکۀ سره
دومره زياته وه چې د نورو خلقو په ځائ يې تاسو خوښ کړئ او تر اوسه پورې
د هغۀ غوره خلق يئ. ١٦ نو د اوس نه د مالِک خُدائ تابعداره اوسئ او خپل
ضد پريږدئ. ١٧ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د معبودانو خُدائ پاک او د
مالِکانو مالِک خُدائ دے. هغه لوئ او طاقتور دے، د هغۀ نه يره په کار ده. هغه
نۀ د چا طرفداری کوی او نۀ رشوت اخلی. ١٨ هغه دا گوری چې د يتيمانو او
کونډو سره ښۀ سلوک کيږی او کۀ نه، هغه د مسافرو سره مينه کوی کوم چې
زمونږ خلقو سره اوسيږی او هغوئ له خوراک او جامې ورکوی. ١٩ نو د
مسافرو سره مينه کوئ، ځکه چې په يو وخت کښې تاسو هم د مِصر په مُلک
کښې مسافر وئ. ٢٠ مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک نه يريږئ او صِرف د هغۀ
عبادت کوئ. د هغۀ وفادار اوسئ او صِرف د هغۀ په نوم قسم خورئ. ٢١ د هغۀ
ثناء وايئ، هغه ستاسو خُدائ پاک دے او تاسو په خپلو سترگو هغه لوئ او
عجيبه کارونه ليدلی دی چې ستاسو دپاره يې کړی دی. ٢٢ کله چې ستاسو پلار
نيکۀ مِصر ته لاړل، هغوئ صِرف اويا کسان وُو. خو اوس مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک تاسو د آسمان د ستورو په شان بې‌شميره کړی يئ.

## د مالِک خُدائ لوئی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ ﴿١﴾ مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک سره مينه کوئ او د هغهٔ ټولې مطالبې،
اصُول، قانون او حُکمونه منئ. ﴿٢﴾ چې تاسو د مالِک خُدائ په حقله څهٔ زده
کړې دی نو هغه اوس ياد ساتئ. ستاسو په بچو نه بلکې په تاسو پخپله دا واقعې
تېرې شوې. تاسو د مالِک خُدائ لوئى، د هغهٔ طاقت، د هغهٔ قوت، ﴿٣﴾ او د هغهٔ
معجزې وليدلې. تاسو وليدل چې هغهٔ د مِصر په بادشاه فِرعون او د هغهٔ په ټول
مُلک باندې څهٔ وکړل. ﴿٤﴾ تاسو وليدل چې مالِک خُدائ د مِصريانو لښکر، سره
د هغوئ د آسونو او جنګى ګاډو څنګه تباه کړل او په بحرِقُلزم کښې يې ډُوب کړل
کله چې هغوئ تاسو پسې وُو. ﴿٥﴾ تاسو ته پته ده چې مالِک خُدائ ستاسو دې
ځائ ته رارسېدو نه مخکښې په بيابان کښې څهٔ وکړل. ﴿٦﴾ هغه رایاد کړئ چې د
روبين قبيلې د اِلياب د زامنو، داتن او ابيرام سره يې څهٔ وکړل. د ټولو په
مخکښې زمکه وچاوده او هغوئ يې سره د خپلو کورَنو، د خپلو خېمو او د هغوئ
د ټولو نوکرانو او څناورو تېر کړل. ﴿٧﴾ آو، تاسو هم هغه خلق يئ چې په خپلو
سترګو مو هغه ټول کارونه ليدلى دی څهٔ چې مالِک خُدائ کړى وُو.

## د وعده کړے شوې زمکې برکتونه

﴿٨﴾ نن چې زهٔ کوم قانون درکوم په هغه ټول عمل کوئ، نو تاسو ته به طاقت
مِلاو شى چې د سيند نه پورې وځئ او هغه مُلک قبضه کړئ کوم ته چې تاسو
وردننه کېدونکى يئ. ﴿٩﴾ نو تاسو به په هغه مُلک کښې ډېره موده تېره کړئ چې
مالِک خُدائ ستاسو پلار نيکهٔ او د هغوئ اولاد له يې د ورکولو وعده کړې ده،
هغه مُلک چې زرخېزه او آباد دے. ﴿١٠﴾ کوم مُلک چې تاسو قبضه کوئ هغه
مُلک د مِصر په شان نهٔ دے، چرته چې تاسو مخکښې اوسېدئ. هلته به چې تاسو
تخم کَرلو، نو د پټو اوبو کولو دپاره به تاسو سخته خوارى کوله، ﴿١١﴾ خو چې
تاسو کومې زمکې ته ورننوځئ هغه د غرونو، مېدانونو مُلک دے، يو داسې مُلک
چې په باران اوبهٔ کيږى. ﴿١٢﴾ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د دې مُلک خيال
ساتى او د کال په هر موسم کښې يې وربانديې نظر وى. ﴿١٣﴾ نو کهٔ تاسو زما په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حُکمونو په وفادارۍ سره عمل کوئ کوم چې نن ما درکړی دی، او تاسو د مالِک
خُدائ د خپل خُدائ پاک سره مينه کوئ او د زړۀ د اخلاصه د هغۀ خِدمت کوئ،
۱۴ نو بيا به هغه ستاسو په مُلک کښې په صحيح موسم کښې، په خزان او
سپرلی کښې بارانونه ووروی، نو تاسو به د زيتُونو تېل، غله او انګور راټولوئ،
۱۵ او د ځاروو دپاره به واښۀ درته ملاويږی. او ستا دپاره به خوراک ډېر وی او
تاسو به ماړۀ شئ. ۱۶ پام کوئ، چې خپل زړونه مو دوکه نۀ کړی چې د مالِک
خُدائ نه واوړئ او د نورو معبودانو خِدمت او عبادت وکړئ. ۱۷ کۀ تاسو
داسې وکړل نو مالِک خُدائ به تاسو ته په قهر شی. هغه به د آسمان نه په تاسو
باران بند کړی او ستاسو زمکه به اوچه شی او فصلونه به نۀ راشنۀ کوی. بيا به
تاسو زر هلته مړۀ شئ، اګر چې هغه زمکه ښۀ ده کومه چې تاسو له درکوی. ۱۸
دا حُکمونه ياد ساتئ او په ذهن کښې يې وساتئ. دا په خپلو متو او خپلو تندو
باندې وتړئ چې ستاسو دپاره د يادېدو د يوې نښې په شان وی. ۱۹ دا په خپلو
ماشومانو زده کړئ. چې تاسو په کور کښې يئ او يا په لاره روان يئ، چې تاسو
څملئ او يا پاڅئ نو د دې په حقله د هغوئ سره خبرې کوئ. ۲۰ دا د خپلو
کورونو په درشلو او د خپلو ښارونو په دروازو وليکئ. ۲۱ نو تاسو او ستاسو
بچی به په هغه مُلک کښې يو اوږد عُمر تېر کړی چې مالِک خُدائ ستاسو د پلار
نيکۀ سره د هغې د ورکولو وعده کړې ده. تر څو چې زمکه او آسمان وی نو
تاسو به هلته اوسېږئ. ۲۲ ما چې کوم حُکمونه درکړی دی په هغې باندې په
ايماندارۍ سره عمل کوئ يعنې، مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک سره مينه کوئ،
د هغۀ په لاره سم روان اوسئ او د هغۀ نه مۀ لرې کېږئ، ۲۳ نو چې تاسو مخ په
وړاندې ځئ نو هغه به هغه ټول قومونه وشړی او تاسو به هغه مُلک قبضه کړئ
کوم چې د هغه قومونو دے چې ستاسو نه لوئ او طاقتور دی. ۲۴ تاسو چې
چرته هم قدم ږدئ، نو هغه زمکه به ستاسو وی. ستاسو علاقه به د بيابان نه تر
لبنان پورې، د فرات د سيند نه واخله د مديترانی د سمندر پورې خوره وی. ۲۵
په هغه مُلک کښې چې تاسو چرته هم ځئ، مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به
هغه خلق ستاسو نه ويروی لکه څنګه چې هغۀ وعده کړې ده او هيڅ څوک به هم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو په مخکښې نۀ شي ودرېدلے. (۲۶) ګورئ، زۀ نن تاسو خپلې خوښې ته
پرېږدم چې برکت غواړئ او که لعنت، (۲۷) برکت به په دې کښې وی، چې د
مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په هغه حُکمونو عمل کوئ چې نن يې زۀ درکوم،
(۲۸) لعنت به په دې کښې وی، چې تاسو د دې حُکمونو نافرمانی وکړئ او د هغه
معبودانو عبادت ته واوړئ چې تاسو مخکښې نۀ دی پېژندلی. (۲۹) کله چې مالِک
خُدائ تاسو هغه مُلک ته راولی کوم چې تاسو قبضه کوئ، نو د برکت آواز به
تاسو د ګِرزيم غر نه وکړئ او د لعنت آواز به د عيبال غر نه وکړئ. (۳۰) دا دوه
غرونه د کنعانيانو په علاقه کښې د اُردن سيند نمرپرېواتۀ طرف ته دی، کنعانيان
د اُردن په مېدان کښې اوسېږی، چې جِلجال ښار ته نزدې دے او د موره مقدسو
ونو نه لرې نۀ دے. (۳۱) زر به تاسو د اُردن سيند نه واوړئ او هغه مُلک به قبضه
کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوی. کله چې هغه مُلک
ونيسئ او په کښې اوسېږئ، (۳۲) نو ګورئ، په هغه ټولو حُکمونو به عمل کوئ
کوم چې نن زۀ درکوم.“

## د عبادت دپاره يو ځائ

**۱۲** (۱) موسیٰ وفرمائيل چې، ”دا هغه حُکمونه دی چې تاسو به په هغه مُلک
کښې پرې عمل کوئ چې مالِک خُدائ، ستاسو د پلار نيکۀ خُدائ پاک يې
درکوی. چې تاسو ژوندی يئ نو خامخا به ورباندې عمل کوئ. (۲) کوم مُلک
چې تاسو نيسئ په هغې کښې هغه ټول ځايونه تباه کړئ چرته چې هغه خلق په
لوړو غرونو، په غونډو او د لويو شنو ونو لاندې د خپلو معبودانو عبادت کوی.
(۳) د هغوئ د قربانۍ ځايونه وران کړئ او د هغوئ د کاڼو مقدسې ستنې ټوټې
ټوټې کړئ. د هغوئ د اشيرې بُت نښې وسوزوئ او د هغوئ بُتان ټوټې ټوټې کړئ
او د هغه ځايونو نه د هغوئ د بُتانو نوم نشان ختم کړئ. (۴) د مالِک خُدائ د
خپل خُدائ پاک عبادت هغه شان مۀ کوئ لکه څنګه يې چې هغوئ کوی. (۵)
خو مالِک خُدائ به د ستاسو ټولو قبيلو د علاقې نه يو ځائ خوښ کړی، هلته به


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلق د هغهٔ حضور ته راځی او د هغهٔ عبادت به کوی. ۶ هلته به خپلې
سوزېدونکې نذرانې او نورې قربانۍ، خپله لسمه حِصه او مقدسې نذرانې، خپلې
منښتې، خپلې رضاکارانه نذرانې او د خپلو څاروو او ګډو وړومبی پېدا شوی
بچی پېش کوئ. ۷ هلته، د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په حضور کښې
تاسو او ستاسو خاندان به خوراک کوئ او د هغه هر څيز نه به پوره خوند اخلئ
چې تاسو د هغې دپاره محنت کړے وی. ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک تاسو له برکت درکړے دے. ۸ کله چې هغه وخت راشی، نو تاسو چې
داسې کارونه ونهٔ کړئ لکه چې دلته يې کوئ. تر اوسه پورې چې تاسو ته څهٔ ښهٔ
ښکارېدل نو هم هغه شان مو کول، ۹ ځکه چې تاسو ته هغه ميراث لا نهٔ دے
مِلاو شوے چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوی، چې هلته به
تاسو په امن کښې اوسېږئ. ۱۰ کله چې تاسو د اُردن سيند نه واوړئ، نو مالِک
خُدائ به هغه مُلک تاسو له په ميراث کښې درکړی. هغه به تاسو د خپلو ټولو
دشمنانو نه په حِفاظت کښې وساتی او تاسو به په امن کښې اوسېږئ. ۱۱ مالِک
خُدائ به يو ځائ خوښ کړی چرته به چې د هغهٔ عبادت کيږی او هلته به تاسو
هغهٔ له هغه هر څهٔ راوړئ چې ما يې حُکم درکړے دے، يعنې خپلې سوزېدونکې
نذرانې او خپلې نورې قربانۍ، ستاسو لسمه حِصه او منښتې او هغه خاص
نذرانې چې تاسو د مالِک خُدائ سره د هغې وعده کړې وی. ۱۲ د خپلو بچو
سره، خپلو نوکرانو او د ليويانو سره چې ستاسو په ښارونو کښې اوسيږی، هلته
د هغهٔ په حضور کښې خوشحالی کوئ، ياد لرئ چې د ليويانو به په زمکه کښې
هيڅ ميراث نهٔ وی. ۱۳ تاسو به خپلې نذرانې هلته نهٔ پېش کوئ چې چرته ستاسو
خوښه وی، ۱۴ تاسو به خپلې نذرانې صِرف په هغه يو ځائ کښې پېش کوئ چې
مالِک خُدائ به يې ستاسو د يوې قبيلې په علاقه کښې خوښ کړی. صِرف هلته به
تاسو خپلې سوزېدونکې نذرانې او نور هغه ټول کارونه کوئ چې ما يې تاسو له
حُکم درکړے دے. ۱۵ چې چرته تاسو اوسېږئ نو تاسو هلته خپل څناور
حلالولے او خوړلے شئ. مالِک خُدائ چې څومره ډېر درکوی نو هغه خوړلے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شئ. تاسو ټول کۀ پاک يئ يا ناپاک، هغه خوړلے شئ، لکه څنګه چې تاسو هوسۍ يا د غرڅې غوښه خورئ. ⑯ خو تاسو به د هغې وينه نۀ څښئ، تاسو به خامخا د هغې وينه لکه د اوبو په زمکه تويَوئ. ⑰ څۀ چې تاسو مالِک خُدائ ته پيش کوئ د هغې نه به هيڅ يو څيز په هغه ځايونو کښې نۀ شی خوړلے چرته چې تاسو اوسېږئ، نۀ ستاسو د غلې لسمه حِصه، نۀ خپل مے، نۀ د زيتُونو تېل، نۀ ستاسو د څاروو او ګډو وړومبے پيدا شوے بچے، نۀ د هغه تُحفې نه چې تاسو يې د مالِک خُدائ سره وعده کړې وی، نۀ ستاسو رضاکارانه نذرانې او نۀ نورې نذرانې. ⑱ تاسو او ستاسو بچی به، سره د ستاسو نوکرانو او د ليويانو چې ستاسو په ښارونو کښې اوسيږی، دا نذرانې به صِرف د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په حضور کښې خورئ، صِرف د عبادت په هغه يو ځائ کښې کوم چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک خوښ کړے وی. او تاسو به هلته په هغه هر څۀ باندې خوشحاله يئ کوم چې تاسو کړی وی. ⑲ ګورئ، چې تر کومې پورې تاسو په خپل مُلک کښې اوسېږئ نو چې ليويان هم هېر نۀ کړئ. ⑳ کله چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو علاقه لويه کړی، لکه څنګه چې هغۀ وعده کړې ده نو بيا چې کله هم تاسو غواړئ نو هلته غوښه خوړے شئ. ㉑ د عبادت هغه يو ځائ کۀ ډېر لرې وی، نو بيا چې ستاسو خوښه وی، نو هغه څاروے يا ګډ حلالولے شئ کوم چې مالِک خُدائ درکړے وی او تاسو هغه غوښه په کور کښې خوړلے شئ، لکه څنګه چې ما تاسو ته وئيلی دی. ㉒ هر څوک چې پاک وی يا ناپاک، نو هغه دا غوښه خوړلے شی، لکه څنګه چې هغه د هوسۍ يا غرڅې غوښه خوری. ㉓ صِرف هغه غوښه مۀ خورئ چې وينه لا په کښې وی، ځکه چې په وينه کښې ژوندون وی، نو تاسو د غوښې سره ژوندون مۀ خورئ. ㉔ وينه د خوراک دپاره مۀ استعمالوئ، بلکې د اوبو په شان يې په زمکه تويَوئ. ㉕ کۀ تاسو دا حُکم ومنئ، نو مالِک خُدائ به خوشحاله شی او ستاسو او ستاسو د بچو به هر کار سم وی. ㉖ خپلې نذرانې او هغه تُحفې چې تاسو يې د مالِک خُدائ سره وعده کړې وی د عبادت هغه يو ځائ ته راوړئ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۷ هلته هغه نذراني پېش کوئ کومې چې د مالِک خُدائ په قربانګاه باندې پوره سوزولے شی. هغه نذراني هم پېش کوئ چې تاسو د هغې غوښه خورئ او وينه يې په قربانګاه باندې تويَوئ. ۲۸ په هغه هر څۀ باندې په وفادارۍ سره عمل کوئ چې ما يې حُکم درکړے دے، نو ستاسو او ستاسو د اولاد به د همېشه دپاره هر کار سم وی، ځکه چې تاسو به هغه کار کوئ چې کوم صحيح وی او په کوم باندې چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک خوشحالېږی.

## د بُت پرستۍ خِلاف خبردارے

۲۹ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به هغه قومونه تباه کړی چې تاسو د هغوئ مُلک ونيسئ، نو تاسو به هغه مُلک قبضه کړئ او هلته به اوسېږئ. ۳۰ پام کوئ چې کله مالِک خُدائ هغه قومونه تباه کړی، نو چې د هغوئ په عبادت او رسمونو کښې راګېر نۀ شئ چې هغه ومنئ، ځکه هغه به ستاسو دپاره يو دام وی. د دې معلومولو کوشش مۀ کوئ چې هغوئ د خپلو معبودانو عبادت څنګه کوی، چې تاسو هم هغه شان عبادت وکړئ. ۳۱ د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک عبادت هغه شان مۀ کوئ چې څنګه هغوئ د خپلو معبودانو عبادت کوی، ځکه چې هغوئ د خپلو معبودانو په عبادت کښې ټول هغه حرام کارونه کوی چې مالِک خُدائ ترې نه نفرت کوی. تر دې پورې چې هغوئ په اور کښې خپل بچی هم قربانی کوی. ۳۲ هغه هر څۀ کوئ چې ما يې حُکم درکړے دے، په دې کښې مۀ څۀ کموئ او مۀ څۀ زياتوئ.

## د بُت پرستۍ خلاف خبردارے

۱۳ ۱ کېدے شی چې پېغمبران يا د خوبونو تعبير ورکوونکی د يوې معجزې يا د يوې عجيبه نښې وعده وکړی، ۲ او کۀ هغه پېشګوئي شوې نښې يا معجزې ښکاره شی، او کۀ هغوئ وائی، چې نورو معبودانو ته راواوړئ کوم چې تاسو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نهٔ دی پېژندلی او د هغوئ عبادت وکړئ، (٣) نو هغه پېغمبرانو یا د خوبونو تعبیر
ورکوونکو ته غوږ مهٔ نیسئ. مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو معلوموی چې
تاسو د مالِک خُدائ سره د زړهٔ د اخلاصه او د خپل ټول روح سره مینه کوئ او
کهٔ نه. (۴) د مالِک خُدائ تابعداری کوئ او د هغهٔ درناوے کوئ، د هغهٔ اِطاعت
کوئ او د هغهٔ حُکمونه منئ، د هغهٔ عبادت کوئ او د هغهٔ وفادار اوسئ. (۵) خو
هغه د خوبونو تعبیر ورکوونکی یا پېغمبران ووژنئ چې تاسو ته وائی چې د مالِک
خُدائ خِلاف بغاوت وکړئ، چا چې د مِصر نه راوویستلئ، چرته چې تاسو
غلامان وئ. داسې خلق تاسو د هغه لارې نه اړوی په کومه باندې چې مالِک
خُدائ تاسو له د تلو حُکم درکړے دے. هغوئ دې خامخا ووژلے شی، چې خپل
ځانونه د دې بد عمل نه خلاص کړئ. (۶) کهٔ ستاسو ورور، زوئ، لور، یا په
تاسو ګرانه ښځه، یا ستاسو نزدې دوست هم تاسو ته پټ پټ وائی چې د نورو
معبودانو عبادت وکړئ، هغه معبودان چې تاسو او ستاسو پلار نیکهٔ یې هیڅکله
هم عبادت نهٔ دے کړے. (۷) کېدے شی چې هغوئ تاسو ته ووائی چې د هغه
خلقو د معبودانو عبادت وکړئ کوم چې ستاسو سره نزدې اوسیږی یا د هغه
خلقو د معبودانو کوم چې ستاسو نه لرې اوسیږی. (۸) خو هغوئ ته توجو مهٔ
ورکړئ او مهٔ ورته غوږ نیسئ. په هغوئ باندې هیڅ رحم یا ترس مهٔ کوئ او د
هغوئ خبره مهٔ پټوئ. (۹) هغوئ ووژنئ. وړومبے کاڼے تاسو ورګزار کړئ او
بیا نور خلق ورپرېږدئ چې سنګسار یې کړی. (۱۰) سنګسار یې کړئ چې مړ
شی. هغوئ کوشش کولو چې تاسو د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک نه تاسو
واړوی، کوم چې تاسو د مِصر مُلک نه راوویستلئ، چرته چې تاسو غلامان وئ.
(۱۱) نو د بنی اِسرائیلو ټول خلق به خبر شی چې څهٔ وشول، هغوئ به ویرېږی او
بیا به هیڅکله هیڅ څوک هم داسې بد عمل ونهٔ کړی. (۱۲) کله چې تاسو په هغه
ښارونو کښې اوسیږئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یې تاسو له درکوی،
نو کېدے شی چې تاسو خبر شئ (۱۳) چې ستاسو د قوم څهٔ لوفرانو خلقو د خپل
ښار خلق بې لارې کړی دی چې د هغه معبودانو عبادت وکړی چې تاسو یې کله



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم د دې نه مخکښې عبادت نهٔ دے کړے. ⑭ کهٔ تاسو داسې يو افواه واورئ،
نو د هغې پوره معلومات وکړئ، نو کهٔ په رښتيا دا بد عمل شوے وى، ⑮ نو بيا
د هغه ښار ټول خلق او د هغوئ ټول ځناور هم ووژنئ. هغه ښار پوره تباه کړئ.
⑯ کوم خلق چې هلته اوسيږى د هغوئ ټول مال هم راوړئ او د ښار په مرکزى
ځائ کښې يې ډېرے کړئ. بيا هغه ښار او چې په هغې کښې څهٔ هم وى مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک ته د نذرانې په توګه وسوزوئ. دا ښار به د هميشه دپاره
کنډر پاتې کيږى او دا به هيڅکله بيا آباد نهٔ شى. ⑰-⑱ د هغې نه هيڅ يو څيز
هم ځان له مهٔ اخلئ کوم چې تباه کولے شى، نو بيا به د مالِک خُدائ قهر سوړ
شى او په تاسو به رحم وکړى. کهٔ تاسو د هغهٔ په ټولو حُکمونو باندې عمل کوئ
کوم چې نن ما درکړى دى او هغه څهٔ کوئ چې څهٔ درنه غواړى، نو هغه به په
تاسو رحم وکړى او ستاسو نه به يو لوئ قوم جوړ کړى، لکه څنګه چې هغهٔ
ستاسو پلار نيکهٔ سره وعده کړې ده.

## د وير په حقله قانون

۱۴ ① تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک خلق يئ. نو کله چې تاسو په
مړى باندې غم کوئ، نو خپل ځانونه د نورو خلقو په شان مهٔ زخمى کوئ يا د
تندى نه بره وېښتهٔ مهٔ کلوئ. ② تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک خلق
يئ، په زمکه باندې چې څومره خلق اوسيږى په هغوئ ټولو کښې يې تاسو د دې
دپاره خوښ کړئ چې د هغهٔ خپل خاص خلق اوسئ.

## حلال او حرام ځناور

③ هيڅ يو حرام څيز مهٔ خورئ. ④ تاسو دا ځناور خوړے شئ، څاروى،
ګډې، چېلۍ ⑤ هوسۍ، ځنګلى ګډې، ځنګلى چېلۍ او غرڅې، ⑥ هغه ټول
ځناور چې سومونه يې په مينځ بېل وى او بيا بيا شخوند وهى. ⑦ خو صرِف



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ځناور به حلال وی چې سومونه يې په مينځ ببل وی او بيا بيا شخوند هم وهی. تاسو اوښ، سوه، يا ځنګلی سوه نهٔ شئ خوړلے. دا به خامخا حرام ګڼلے شی، ځکه چې دا بيا بيا شخوند وهی خو سومونه يې په مينځ ببل نهٔ دی. ⑧ خنزيران مهٔ خورئ، دا به خامخا حرام ګڼلے شی، کهٔ څهٔ هم سومونه يې په مينځ ببل دی خو دا بيا بيا شخوند نهٔ وهی. دا ځناور مهٔ خورئ يا کهٔ مړ وی لاس به هم نهٔ وروړئ. ⑨ تاسو هغه هر قِسم کبان خوړلے شئ کوم چې وزر او په څرمن پترى لرى، ⑩ خو داسې د اوبو بل هر يو ځيز چې وزر او په څرمن پترى نهٔ لرى هغه به نهٔ شئ خوړلے، دا به خامخا حرام ګڼلے شی. ⑪ تاسو حلال مارغان خوړلے شئ. ⑫-⑱ دا د هغه مارغانو فهرست دے چې تاسو يې بېخی مهٔ خورئ، شاهين، ګونګا، باز، شهباز، باښه، تپوس، کارغهٔ، شترمرغ، سمندرى مرغابۍ، ډينګ، بګلۍ، ماهى خور مارغهٔ، غټ ماهى خور مارغهٔ، ملاچرچک او ښاپيرک. ⑲ ټول الوتونکی حشرات ناپاک دی، هغه مهٔ خورئ. ⑳ خو تاسو حلال حشرات خوړلے شئ. ㉑ هغه يو ځناور هم مهٔ خورئ، چې په خپل مرګ مړ وی. تاسو سره چې کوم مسافر اوسيږی هغوئ ته دا ورکولے شئ چې وې خورى، يا دا په نورو مسافرو باندې خرڅولے شئ. خو تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک يئ او تاسو د هغهٔ خلق يئ. ګډُورے يا د چېلۍ بچے د خپلې مور په پيو کښې مهٔ پخوئ.

## د لسمې حِصې قانون

㉒ تاسو خامخا لسمه برخه ورکوئ، د خپل هر فصل لسمه حِصه چې تاسو يې هر کال ربئ. ㉓ بيا هغه يو ځائ ته ځئ کوم چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د خپل عبادت دپاره خوښ کړے دے او هلته د هغهٔ په حضور کښې د خپل فصل، ميو او د زيتُونو تېلو او ستاسو د وړومبی پيدا شوی څاروو او ګډو لسمه برخه خورئ. دا د دې دپاره کوئ چې تاسو د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک نه د هميشه دپاره يريدل زده کړئ. ㉔ کهٔ د عبادت ځائ ستاسو د کور نه ډير لرې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وی چې هلته د خپل پېداوار لسمه برخه یوسئ چې مالِک خُدائ د هغې برکت
درکړے دے، نو بیا داسې وکړئ، ﴿۲۵﴾ خپل پېداوار خرڅ کړئ او د دې پېسې د
ځان سره د عبادت هغه یو ځائ ته یوسئ. ﴿۲۶﴾ چې ستاسو زړۀ څۀ غواړی لکه
غټه غوښه، نرۍ غوښه، مے یا شراب، نو په دې پېسو یې واخلئ. او هلته، د
مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په حضور کښې یې د خپل خاندان سره خورئ
او خوشحالی وکړئ. ﴿۲۷﴾ هغه لیویان مۀ هېروئ چې ستاسو په ښارونو کښې
اوسیږی، ځکه چې د هغوئ خپل هیڅ جائیداد نشته. ﴿۲۸﴾ د هر دریم کال په آخر
کښې د خپلو ټولو فصلونو لسمه برخه راوړئ او په خپلو ښارونو کښې یې ذخیره
کوئ. ﴿۲۹﴾ دا خوراک د لیویانو دپاره دے، ځکه چې د هغوئ خپل جائیداد نشته
او ورسره د هغه مسافرو دپاره، یتیمانو او کونډو دپاره دے چې ستاسو په
ښارونو کښې اوسیږی. هغوئ ټول دې راځی او د خپل ضرورت څیزونه دې تریږ
نه اخلی. هم دغه شان کوئ او مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به تاسو له
ستاسو په هر څۀ کښې برکت درکوی.

## اووم کال

**۱۵** ﴿۱﴾ د هر اووم کال په آخر کښې تاسو قرضونه معاف کوئ. ﴿۲﴾ دا هغه
څۀ دی چې تاسو به یې خامخا کوئ. هر چا چې خپلو بنی اِسرائیلو له قرض
ورکړی وی نو هغه به ورته معاف کوی، هغه به د خپل ګاونډی یا د هغۀ د خپلوانو
نه دا قرض واپس نۀ اخلی، مالِک خُدائ په خپله دا اِعلان کړے دے چې قرض
معاف شو. ﴿۳﴾ چې په یو مسافر باندې ستاسو قرض وی نو د هغۀ نه پېسې
اخستے شئ، خو چې ستاسو په بنی اِسرائیلو قرض وی نو د هغوئ نه به یې نۀ
اخلئ. ﴿۴﴾ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به تاسو له په هغه مُلک کښې برکت
درکړی کوم چې تاسو له درکوی. ستاسو د خلقو نه به هیڅ څوک هم غریب نۀ
وی، ﴿۵﴾ کۀ تاسو د هغۀ فرمانبرداری کوئ او هغه هر څۀ پوره پوره ومنئ چې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نن يې زهٔ حُکم درکوم. ۶ نو مالِک خُدائ به تاسو له برکت درکړی، لکه څنګه چې هغهٔ وعده کړې ده. تاسو به ډېرو قومونو له قرض ورکړئ، خو تاسو به د هيچا نه قرض نهٔ اخلئ، ستاسو په قبضه کښې به ډېر قومونه وی، خو تاسو به د هيچا په قبضه کښې نهٔ يئ. ۷ کوم مُلک چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو له درکوی کهٔ د هغې په ښارونو کښې ستاسو خپل يو اِسرائيلے محتاج وی، نو خپل زړهٔ مهٔ سختوئ او د هغهٔ مدد کولو نه لاس مهٔ نيسئ. ۸ خو سخيان اوسېږئ او چې څومره پېسو ته يې ضرورت وی نو هغه هومره قرض ورکړئ. ۹ هغهٔ ته د څهٔ څيز قرض ورکولو نه په دې وجه اِنکار مهٔ کوئ چې د قرضونو د معاف کولو کال نزدې دے. داسې بد سوچونه خپل ذهن ته مهٔ راولئ. کهٔ تاسو خپل ورور له قرض ورنهٔ کړئ نو هغه به مالِک خُدائ ته ستاسو خِلاف فرياد وکړی او ګناه به ستاسو په غاړه شی. ۱۰ هغهٔ ته چې د څهٔ څيز ضرورت وی نو په خوشحالئ سره او د زړهٔ د اخلاصه يې ورکړئ، نو مالِک خُدائ به تاسو له په هر کار کښې برکت درکوی. ۱۱ په مخ د زمکې به همېشه غريبانان خلق موجود وی، نو زهٔ تاسو له حُکم درکوم چې د خپلو بنى اِسرائيلو د مدد نه لاس مهٔ نيسئ.

## د نوکرانو آزادول

۱۲ کهٔ يو عبرانے سړے يا ښځه خپل ځان په تاسو باندې د غلام يا وينځې په توګه خرڅ کړی، نو چې هغوئ شپږ کاله ستاسو خِدمت وکړی نو د هغې نه پس هغوئ آزاد کړئ. کله چې اوؤم کال راشی، نو هغوئ به خامخا پرېږدئ چې لاړ شی. ۱۳ کله چې تاسو هغوئ آزادوئ، نو تش لاس يې مهٔ لېږئ. ۱۴ چې مالِک خُدائ تاسو له کوم برکت درکړې وی نو د خپلو ګډو، غلې او د انګورو لنګری نه ډېر څهٔ ورکړئ. ۱۵ هغه راپه ياد کړئ چې تاسو په مِصر کښې غلامان وئ او مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک تاسو آزاد کړئ، نو ځکه زهٔ تاسو له دا حُکم درکوم. ۱۶ خو کېدے شی چې ستاسو غلام ونهٔ غواړی چې لاړ شی، او هغه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو او ستاسو خاندان سره مینه کوی او د هغهٔ دپاره ستاسو سره پاتې کېدل
ښهٔ وی. ۱۷ نو د خپل کور دروازې ته هغه بوځئ او هلته د هغهٔ غوږ سورے
کړئ، نو هغه به تول عُمر ستاسو غلام وی. د خپلې وینځې سره هم دغه شان
سلوک کوئ. ۱۸ کله چې تاسو یو غلام آزادوئ نو خفه کېږئ مه، ځکه چې آخر
هغهٔ هم د یو مزدور په نیم قیمت شپږ کاله ستاسو خِدمت کړے دے. هم دغه
شان کوئ، نو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به په هر کار کښې تاسو له برکت
درکوی.

## د څاروو وړومبے پیدا شوے بچے

۱۹ د خپل څاروی یا ګډې هر یو وړومبے نر بچے مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک دپاره بېل کړئ، د دې څاروو نه یو هم د کار دپاره مهٔ استعمالوئ او د دې
ګډو نه وړی مهٔ کټ کوئ. ۲۰ تاسو، او ستاسو خاندان به هر کال د عبادت په
یو ځائ کښې د مالِک خُدائ په حضور کښې دا خورئ. ۲۱ خو کهٔ په یو څناور
کښې څهٔ عیب وی، کهٔ هغه ګوډ وی، ړوند یا څهٔ بل غټ نقص په کښې وی، نو
تاسو به هغه مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته نهٔ قربانی کوئ. ۲۲ داسې څناور
تاسو په خپل کور کښې خوړے شئ، ستاسو هر یو کس، کهٔ پاک وی یا ناپاک،
نو دا خوړلے شی، لکه څنګه چې تاسو هوسۍ یا غرڅۍ خورئ. ۲۳ خو د دې
وینه د خوراک دپاره مهٔ استعمالوئ، او خامخا یې د اوبو په شان په زمکه
تویَوئ.

## د فسحې اختر

۱۶ ۱ د ابیب په میاشت کښې د فسحې اختر کولو سره د مالِک خُدائ خپل
خُدائ پاک درناوے کوئ، دا هغه میاشت وه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک تاسو د مِصر نه د شپې راوویستلئ. ۲ د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فسحي اختر د قرباني دپاره هلته خپل يو ګډ يا يو څاروے حلال کړئ کوم ځائ
چې هغهٔ د خپل نوم د درناوی دپاره خوښ کړے وی. ۳ کله چې تاسو دا
خوراک وخورئ، نو خمبيره شوې روټۍ به نهٔ خورئ. اووهٔ ورځې به تاسو پتيره
روټۍ خورئ، هم هغه شان لکه څنګه چې تاسو د مِصر نه په تېزئ سره راووتلئ.
دا روټۍ خورئ او د دې نوم به د تکليفونو روټۍ وی، چې تر کومې پورې تاسو
ژوندی يئ نو ستاسو به هغه ورځ ياده وی چې د مِصر مُلک نه راوتلئ. ۴ اووهٔ
ورځې به ستاسو په مُلک کښې د هيچا په کور کښې خمبيره نهٔ وی، او د وړومبۍ
ورځې په ماښام د حلال شوی څناور غوښه به هم په هغه شپه خوړلے شی. ۵-
۶ د فسحې د اختر څناور د عبادت په هغه يو ځائ کښې حلالوئ، د هغه مُلک
په بل يو ځائ کښې هم نه، کوم چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له
درکوی. تاسو داسې د نمرپرېواتو په وخت کښې کوئ، د ورځې په دې وخت
کښې چې کله تاسو د مِصر نه ووتلئ. ۷ غوښه ويشوئ او د عبادت په هغه يو
ځائ کښې يې وخورئ، او په وريسې سحر واپس کور ته راشئ. ۸ وريسې شپږ
ورځې به تاسو پتيره روټۍ خورئ او په اوومه ورځ د مالِک خُدائ خپل خُدائ
پاک د عبادت دپاره راغونډ شئ او په هغه ورځ کار مهٔ کوئ.

## د لَو کولو اختر

۹ چې تاسو د فصل رېبل شروع کړئ نو د هغه وخت نه اووهٔ هفتې وشمېرئ،
۱۰ او بيا د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک درناوی دپاره د لَو کولو اختر
وکړئ، هغهٔ چې کوم برکت درکړے دے د هغې په مطابق هغهٔ له يوه رضاکارانه
نذرانه راوړئ. ۱۱ د مالِک خُدائ په حضور کښې تاسو سره د خپلو بچو،
ستاسو نوکرانو، ليويانو، مسافرو، يتيمانانو او د هغه کونډو سره خوشحاله شئ
چې ستاسو په ښارونو کښې اوسيږی. د عبادت په هغه يو ځائ کښې هم دغه
شان کوئ. ۱۲ ګورئ چې په دې حُکمونو باندې عمل وکړئ، دا خبره مهٔ هېروئ
چې تاسو په مِصر کښې غلامان وئ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د جونګړو اختر

۞ چې تاسو خپل ټول فصل راټول کړئ او خپل ټول انګور په لنګرۍ کښې
نچوړ کړئ، نو اووۀ ورځې د جونګړو اختر کوئ. ۞ تاسو د خپلو بچو سره،
خپلو نوکرانو او د ليويانو، مسافرو، يتيمانانو او د هغه کونډو سره د دې نه خوند
واخلئ چې ستاسو په ښارونو کښې اوسيږى. ۞ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک چې کوم ځائ خوښ کړے وى نو په هغه ځائ کښې اووۀ ورځې اختر
وکړئ. خوشحاله اوسئ، ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو فصل او ستاسو کار له
برکت ورکړے دے. ۞ ستاسو د قوم ټول سړى به په کال کښې درې ځل د
مالِک خُدائ عبادت دپاره هغه يو ځائ ته يعنې د فسحې اختر، د لَو کولو اختر او
د جونګړو اختر دپاره راځى. او يو سړے به هم مالِک خُدائ له خالى لاسونه نۀ
راځى، ۞ او د هر چا چې څومره وس وى، نو هغه به د هم هغه برکت په مطابق
هديه ورکوى څومره چې مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک هغۀ له ورکړے وى.

## قاضيان

۞ په هر يو ښار کښې چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې درکوى په هغې
کښې قاضيان او نور آفسران مقرر کړئ. دا سړى به د چا د طرفدارۍ نه بغير
فيصلې کوى. ۞ هغوئ به په خپلو فيصلو کښې د بې‌اِنصافۍ نه کار نۀ اخلى، او
رشوت دې نۀ اخلى، ځکه چې رشوت هوښيار خلق ړندوى او د صادقانو په
خبرو کښې چالاکى پيدا کوى. ۞ هميشه عدل او اِنصاف کوونکى اوسئ، نو
چې هغه مُلک قبضه کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له
درکوى او هلته اوسيږئ. ۞ کله چې تاسو مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک دپاره
يوه قربانګاه جوړَوئ، نو د هغې په څنګ کښې د لرګى د اشيرې بُت ستنه مۀ
ودروئ. ۞ او د بُت پرستۍ دپاره د کاڼى ستنه مۀ ودروئ، مالِک خُدائ د دې
څيزونو نه نفرت کوى.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۱۷
(۱) مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ته داسې یو څاروے یا ګډ هم مهٔ
قربانی کوئ چې څهٔ عیب په کښې وی، مالِک خُدائ د دې کار نه نفرت کوی.
(۲) کهٔ تاسو واورئ چې ستاسو په یو ښار کښې څهٔ سړو یا ښځو د مالِک
خُدائ خِلاف ګناه کړې ده او د هغهٔ سره کړے لوظ یې مات کړے دے (۳) چې
هغوئ د نورو معبودانو، د نمر، سپوږمۍ، یا د ستورو عبادت او خِدمت یې کړے
وی او د مالِک خُدائ د حُکم مخالفت یې کړے وی، (۴) نو کهٔ داسې یو خبر
واورئ، نو د هغې پوره پته ولګوئ. کهٔ دا رښتیا وی چې په بنی اِسرائیلو کښې
داسې ګنده کار شوے وی، (۵) نو هغه کس د ښار نه بهر بوځئ او سنګسار یې
کړئ. (۶) په هغه وخت کښې به هغه وژلے شی چې دوه یا د دوو نه زیات
ګواهان د هغهٔ خِلاف ګواهی ورکړی، خو کهٔ صِرف یو ګواه وی نو هغه به نهٔ شی
وژلے. (۷) وړومبی کاڼی به ګواهان وروِلی او بیا به یې باقی نور خلق سنګسار
کړی، چې ستاسو نه دا بدی لرې شی. (۸) کهٔ داسې لانجې وی چې د هغې
فیصله کول د هغه ځائ د قاضیانو دپاره ګران وی، لکه د جائیداد حقُونو یا د چا
د زخمی کېدلو لانجې یا چې په قصد سره یا په غلطۍ سره د قتل په مینځ کښې
فرق کول وی، نو چې داسې وشی، نو د عبادت هغه یو ځائ ته لاړ شئ چې مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک خوښ کړے وی، (۹) او خپله لانجه د لیوی قبیلې
اِمامانو ته او په هغه وخت کښې چې کوم قاضی حاضر وی هغوئ ته یې پېش
کړئ، نو هغوئ پرېږدئ چې هغه لانجه فیصله کړی. (۱۰) هغوئ به خپله فیصله
وکړی او چې هغوئ تاسو ته څنګه وائی نو تاسو به هم هغه شان کوئ. (۱۱) د
هغوئ فیصله ومنئ او چې د کوم قانون پوره وضاحت درته وکړی نو په هغې
عمل وکړئ. (۱۲) هر څوک چې دا جرأت وکړی او چې د قاضی یا د اِمام دا
فیصله ونهٔ منی نو هغه دې خامخا ووژلے شی، چې د بنی اِسرائیلو نه دا ګنده
کار ختم شی. (۱۳) نو هر څوک چې د دې نه خبر شی نو ویه یرېږی او د عدالت
فیصلې به منی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بادشاه په حقله اصُول

۱۴ کله چې تاسو هغه مُلک ونيسئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې
تاسو له درکوی او تاسو هلته اوسېږئ، نو تاسو به ووايئ چې ستاسو نه
گېرچاپېره قومونو په شان تاسو ته هم د يو بادشاه ضرورت دے. ۱۵ گورئ،
کوم سړے چې د بادشاهۍ دپاره تاسو غوره کوئ نو چې هغه مالِک خُدائ هم
غوره کړے وی. نو په کار دے چې هغه ستاسو د خپل قوم نه وی، يو مسافر
خپل بادشاه مۀ جوړَوئ. ۱۶ هغه بادشاه به د ځان دپاره ډېر آسونه نۀ ساتی او
هغه دې خلق مِصر ته نۀ لېږی چې آسونه په پيسو واخلی، ځکه چې مالِک خُدائ
فرمائيلی دی چې د هغۀ خلق به هيڅکله واپس هلته نۀ ځی. ۱۷ د بادشاه دې
ډېرې ښځې نۀ وی، ځکه چې دا به هغه د مالِک خُدائ نه واړوی، او هغه دې خپل
ځان په سپينو زرو يا سرو زرو نۀ مالداره کوی. ۱۸ کله چې هغه د بادشاهۍ په
تخت کښېنی، نو هغه به د خپل ځان دپاره د دې قانون يو نقل وليکی، دا کار به د
ليوی قبيلې د اِمامانو په وړاندې کيږی. ۱۹ هغه به دا کِتاب د ځان سره نزدې
ساتی او ټول عُمر به يې وائی، چې د مالِک خُدائ نه يريدل زده کړی او په
وفادارۍ سره به په هغه هر څۀ باندې عمل کوی چې په دې کِتاب کښې يې حُکم
راغلے دے. ۲۰ نو هغه به خپل ځان د خپلو خلقو نه اوچت نۀ گڼی او د مالِک
خُدائ د حُکمونو نافرمانی به نۀ کوی. نو هغه به ډېر وخت پورې حکومت وکړی
او د هغۀ اولاد به ډېره موده په بنی اِسرائيلو باندې بادشاهی وکړی.

## د اِمامانو برخه

۱۸ ۱ د ليوی قبيلې هيچا ته به هم په زمکه کښې حِصه نۀ ملاويږی، نۀ
اِمامانو ته او نۀ يې نورو خلقو ته، د دې په ځائ هغوئ به په هغه نذرانو او قربانو
ژوند تېروی کومې چې مالِک خُدائ ته ورکولے شی. ۲ د هغوئ به خپل هيڅ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

میراث نهٔ وی، لکه چې نورې قبیلې یې لری، لکه څنګه چې مالِک خُدائ وعده کړې ده چې مالِک خُدائ به په خپله د هغوئ میراث وی. ③ کله هم چې یو څاروے یا ګډ قربانی کیږی، اِمام له به د دې اوږه، ژامه او دننئ اندامونه ورکولے شی. ④ هغوئ به د دې څیزونو نه ورومبی برخه اخلی یعنې د غلې، میو، د زیتُونو تیلو او ستاسو د ګډو د وړو نه. ⑤ مالِک خُدائ ستاسو د ټولو قبیلو نه د لیوی قبیله خوښه کړه چې د اِمامانو په توګه همیشه د هغهٔ خِدمت وکړی. ⑥ هر یو لیوے چې وغواړی نو هغه د بنی اِسرائیلو د هر یو ښار نه د عبادت هغه یو ځائ ته راتلے شی ⑦ او هلته د یو اِمام په توګه د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک خِدمت کولے شی، لکه د نورو لیویانو په شان کوم چې هلته خِدمت کوی. ⑧ د نورو اِمامانو په شان به هغهٔ ته هم هغه هومره خوراک ملاویږی او د هغهٔ خاندان چې څهٔ هم ورلیږی نو هغه د ځان دپاره کېښودے شی.

## د غېرو قومونو د رسمونو خِلاف خبردارے

⑨ کله چې تاسو هغه مُلک ته ورننوځئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یې تاسو له درکوی، نو چې هلته کوم قومونه دی د هغوئ په غلطو رِواجونو پسې مهٔ ځئ. ⑩ ستاسو په مینځ کښې دې داسې کس نهٔ وی چې خپل بچی په اور کښې قربانی کوی، او خپل خلق مهٔ پرېږدئ چې د غیبو په خبرو عمل وکړی، یا فال وګوری یا په منتر پسې وګرځی ⑪ یا تعویذ استعمال کړی، د ښاپیرو په ذریعه کار وکړی او هغوئ مهٔ پرېږدئ چې د مړو روحونو سره مشورې وکړی. ⑫ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د هغه خلقو نه کرکه کوی څوک چې دا حرام کارونه کوی، نو ځکه مالِک خُدائ به هغه قومونه وشړی چې تاسو مخ په وړاندې ځئ. ⑬ د مالِک خُدائ سره پوره وفادار اوسئ.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د يو پېغمبر د رالېږلو وعده

۱۴ بيا موسىٰ وفرمائيل، "په هغه مُلک کښې، کوم چې زر تاسو قبضه کړئ،
خلق د غيبو خبرې کوونکو او فالونو کتونکو په نصيحت عمل کوى، خو مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک اجازت نۀ درکوى چې تاسو داسې وکړئ. ۱۵ خو
هغه به تاسو له زما په شان يو پېغمبر راولېږى چې هغه به ستاسو د خپلو خلقو نه
وى او تاسو به د هغۀ تابعدارى کوئ. ۱۶ په کومه ورځ چې تاسو د سينا غرۀ
سره راغونډ وئ، تاسو زارى وکړه چې مونږ نۀ غواړُو چې د مالِک خُدائ خبرې
بيا واورو يا د جلال شُغلې وګورو، ځکه چې تاسو يرېدلئ چې مړۀ به شئ. ۱۷
نو مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل چې هغوئ صحيح سوال کړے دے. ۱۸ زۀ به
هغوئ له د هغوئ د خپلو خلقو نه ستا په شان يو پېغمبر ورولېږم، زۀ به هغۀ ته
وښايم چې هغه به څۀ وائى او زۀ چې کوم حُکم ورکوم نو هم هغه شان به يې
خلقو ته ورسوى. ۱۹ هغه به زما په نوم خبرې کوى او هر څوک چې د هغۀ د
منلو نه اِنکار وکړى نو سزا به ورکړم. ۲۰ خو چې کله ما حُکم نۀ وى ورکړے
او يو پېغمبر دا جرأت وکړى چې زما په نوم پېغام ورکړى، نو خامخا به وژلے
شى او هغه پېغمبر به هم وژلے شى چې د نورو معبودانو په نوم خبرې کوى. ۲۱
مونږ څنګه دا وئيلے شُو چې د يو پېغمبر پېغام د مالِک خُدائ نه نۀ دے؟ ۲۲ کۀ
يو پېغمبر د مالِک خُدائ په نوم خبرې وکړى او چې کومه خبره يې کړې وى او
رښتيا نۀ شى، نو بيا دا د مالِک خُدائ پېغام نۀ دے. هغه پېغمبر په خپل اختيار
خبرې کړې دى او تاسو له په کار دى چې د هغۀ نه ونۀ يرېږئ.

## د پناه ښارونه

۱۹ ۱ کله چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک هغه خلق تباه کړى چې
زمکه يې تاسو له درکوى او چې د هغوئ ښارونه او کورونه ونيسئ او هلته



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوسېږئ، ۲-۳ نو هغه علاقه په درېو حِصو کښې تقسيم کړئ، چې په هره يوه
حِصه کښې يې داسې ښار وی چې تلل ورته آسان وی. نو چې څوک يو بل کس
ووژنی نو د پناه دپاره د دې نه يو ښار ته تښتېدلے شی. ۴ کهٔ څوک يو کس په
غلطئ سره ووژنی چې هغه يې دشمن نهٔ وی، نو هغه د دې ښارونو نه يو ښار ته
تښتېدلے شی چې بچ شی. ۵ کهٔ دوه سړی د لرګو وهلو دپاره ځنګل ته لاړ شی
او د هغوئ نه يو کس يوه ونه وهی او تبر د لاسکی نه ووځی او هغه بل کس
ووژنی، نو د پناه دپاره د دې ښارونو نه يو ته تښتېدلے شی. ۶ خو کهٔ صرِف
يو ښار وے او هغې ته فاصله هم ډېره وے، نو کېدے شی چې د هغه کس بدل
اخستونکی خپلوان يې ونيسی او په غصه کښې يو بې‌ګناه ګاونډی ووژنی. خو په
غلطئ سره هغهٔ خپل ګاونډی مړ کړو چې دشمن يې نهٔ وو. ۷ نو ځکه زهٔ حُکم
درکوم چې درې ښارونه بېل کړئ. ۸ کله چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک
ستاسو علاقه پراخه کړی، لکه څنګه چې هغهٔ ستاسو پلار نيکهٔ ته فرمائيلی دی او
هغه ټول مُلک درکړی چې هغهٔ يې وعده کړې ده، ۹ بيا تاسو درې نور ښارونه
خوښ کړئ. کهٔ تاسو هغه هر څهٔ کوئ چې نن يې زهٔ حُکم درکوم او د مالِک
خُدائ خپل خُدائ پاک سره مينه کوئ او د هغهٔ د اصُولو په مطابق ژوند تېروئ
نو هغه به تاسو له دا مُلک درکړی. ۱۰ هم دغه شان وکړئ، نو چې بې‌ګناه خلق
نهٔ مری او د هغوئ د وژلو ګناه ستاسو په غاړه نهٔ وی، په هغه مُلک کښې چې
مالِک خُدائ يې تاسو له درکوی. ۱۱ خو کهٔ يو کس د خپل ګاونډی سره دشمنی
وی او قصداً په هغهٔ حمله وکړی او وې وژنی او بيا د پناه دپاره د دې ښارونو نه
يو ښار ته وتښتی، ۱۲ نو په داسې حالت کښې دې د هغهٔ د ښار مشران هغه
راوغواړی او د هغه کس خپلوانو ته دې په حواله کړی کوم چې د قتل د بدل
اخستلو خواهش کوی، نو چې هغوئ يې ووژنې. ۱۳ په هغهٔ هيڅ رحم مهٔ کوئ.
او بنی اِسرائيل د بې‌ګناه وينې توئيدلو نه پاک کړئ، نو په دې سره به ستاسو هر
يو کار سم وی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## پخوانۍ پولې

⑭ د خپل ګاونډي د جائيداد د حد کاڼے مهٔ بې ځايه کوئ، کوم چې د مخکښې نه په هغه مُلک کښې لګېدلے وی چې مالِک خُدائ پاک يې تاسو له درکوی.

## د ګواهانو په حقله قانون

⑮ د يو سړی مجرم ثابِتولو دپاره به يو ګواه کافی نهٔ وی، بلکې د هغهٔ مجرم ثابِتولو دپاره به د دوو يا دريو ګواهانو پېش کول لازمی وی. ⑯ کهٔ څوک د دروغو اِلزام په وجه بل کس ته نقصان رسولو کوشش وکړی، ⑰ نو دواړه به د عبادت هغه يو ځائ ته ځی او د هغه وخت مقرر شوی قاضيان او اِمامان به د هغوئ فيصله وکړی. ⑱ قاضيان به د دې معاملې پوره معلومات وکړی، او کهٔ چا په خپل اِسرائيلی باندې د دروغو اِلزام لګولے وی، ⑲ هغهٔ ته به هغه سزا ملاويږی چې د څهٔ اراده چې يې د بل دپاره لرله. نو داسې به تاسو د دې بدۍ نه خلاص شئ. ⑳ بيا به هر يو کس خبر شی چې څهٔ وشول، هغوئ به ويريږی او هيڅ څوک به هم بيا داسې بد عمل نهٔ کوی. ㉑ په داسې معامِلو کښې هيڅ رحم مهٔ کوئ، د ژوند په بدل کښې به د ژوند سزا وی، د سترګې په بدل کښې د سترګې، د غاښ په بدل کښې د غاښ، د لاس په بدل کښې د لاس، پښې په بدل کښې به د پښې سزا وی.

## د جنګ په حقله قانون

**٢٠** ① کله چې تاسو د خپلو دشمنانو خِلاف جنګ له ځئ او تاسو وګورئ چې د هغوئ جنګی ګاډی، آسونه او لښکر ستاسو نه زيات وی، نو د هغوئ نه مهٔ يريږئ. مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به ستاسو مل وی، چا چې د مِصر مُلک



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه راوویستلئ. ⟨۲⟩ د هغې نه مخکښې چې تاسو جنګ شروع کړئ، یو اِمام دې
وړاندې راشی او لښکر ته دې ووائی، ⟨۳⟩ اے بنی اِسرائیلو. واورئ، نن تاسو
جنګ له روان یئ. مۀ بې‌زړۀ کېږئ، مۀ یرېږئ، مۀ بې‌حوصلې کېږئ او نۀ چې
وارخطا شئ. ⟨۴⟩ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو مل دے، هغه به
ستاسو د دشمنانو خِلاف جنګ کوی او فتح به درکړی. ⟨۵⟩ بیا به آفسران په
خپل تقریر کښې فوجیانو ته ووائی، په تاسو کښې داسې څوک شته چې کور یې
جوړ کړے وی، خو وقف کړے یې نۀ وی؟ کۀ داسې څوک وی، نو هغه دې کور
ته لاړ شی. کۀ هغه په جنګ کښې ووژلے شی، نو بل څوک به د هغۀ کور وقف
کړی. ⟨۶⟩ دلته داسې یو سړے شته، چې هغۀ د انګورو باغ کَرلے وی، خو دا
موقع ورته نۀ وی مِلاو شوی چې انګور ترې نه راټول کړی؟ کۀ داسې څوک وی،
نو هغه دې کور ته لاړ شی. کۀ هغه په جنګ کښې ووژلے شی، نو بل څوک به د
هغۀ په میو مزې وکړی. ⟨۷⟩ دلته داسې څوک شته، چې کوژدن یې کړې وی؟ کۀ
داسې څوک وی، نو هغه دې کور ته لاړ شی. ګنې، کۀ هغه په جنګ کښې ووژلے
شی، نو بل څوک به د هغۀ د کوژدن شوې ښځې سره وادۀ وکړی. ⟨۸⟩ آفسران به
سړو ته دا هم ووائی، دلته داسې یو سړے شته، چې هغه یرېږی یا یې زړۀ بائیللے
وی؟ کۀ داسې څوک وی، نو هغه دې کور ته لاړ شی. ګنې، هغه به د خپل ځان په
شان د نورو ملګرو زړونه هم کمزوری کړی. ⟨۹⟩ کله چې آفسران د لښکر سره
خپلې خبرې خلاصې کړی، نو د هرې قبیلې دپاره به مشران خوښ کړے شی.
⟨۱۰⟩ کله چې تاسو په یو ښار باندې حمله کوئ، نو وړومبے هغه خلقو ته د
تسلیمېدو موقع ورکړئ. ⟨۱۱⟩ کۀ هغوئ دروازې کولاو کړی او تسلیم شی، نو
هغوئ به ټول ستاسو غلامان وی او ستاسو دپاره به بېګار کوی. ⟨۱۲⟩ خو کۀ د
هغه ښار خلق تسلیم نۀ شی او جنګ خوښ کړی، نو د خپل لښکر سره یې
محاصره کړئ. ⟨۱۳⟩ نو کله چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک وکړی چې تاسو
هغه ښار قبضه کړئ، نو په دې کښې ټول سړی ووژنئ. ⟨۱۴⟩ خو هغه ښځې،
ماشومان، څاروی او چې په ښار کښې نور هر څۀ وی هغه د ځان دپاره اخستے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شئ. تاسو د خپلو دشمنانو هر څيز استعمالولے شئ. مالِک خُدائ دا تاسو له
درکړی دی. ۞١٥ تاسو به د هغه ښارونو سره داسې کار وکړئ کوم چې د هغه
مُلک نه لرې دی چرته به چې تاسو اوسېږئ. ۞١٦ خو کله چې تاسو د هغه مُلک
ښارونه قبضه کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوی، نو
هر يو کس ووژنئ. ۞١٧ دا ټول خلق تباه کړئ يعنې حِتيان، اموريان، کنعانيان،
فرزيان، حِويان او يبوسيان، لکه څنګه چې مالِک خُدائ د دې حُکم درکړے
دے. ۞١٨ دا خلق ووژنئ، نو هغوئ به تاسو د مالِک خُدائ خِلاف ګناهګار نۀ
کړی چې تاسو ته هغه ټول بد عملونه وښائی چې هغوئ يې د خپلو معبودانو په
عبادت کښې کوی. ۞١٩ کله چې تاسو د يو ښار د قبضه کولو کوشش کوئ، نو
د هغه ځائ مېوه دارې ونې مۀ پرې کوئ، اګر چې محاصره د ډېر وخت پورې
اوږده هم شی. مېوه يې خورئ، خو ونې مۀ تباه کوئ، ځکه چې ونې ستاسو
دشمنانې نۀ دی. ۞٢٠ تاسو هغه هره ونه راماتولے شئ کومه چې مېوه نۀ نيسی او
د ښار د قبضه کېدو پورې تاسو هغه د محاصرې د دېوالونو دپاره استعمالولے
شئ.

## نامعلومه قتل

**٢١** ۞١ کۀ په يو پټی کښې يو قتل شوے کس وموندے شی په هغه مُلک کښې
چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوی او تاسو ته پته نۀ وی
چې چا وژلے دے، ۞٢ نو ستاسو مشران او قاضيان به لاړ شی او چې چرته
هغه مړے موندلے شوے وی نو د هغه ځائ نه به د ټولو نزدې ښارونو فاصله
معلومه کړی. ۞٣ نو چې چرته مړے موندلے شوے وی د هغه نزدې ښار
مشران به يوه سخې خوښه کړی چې هيڅ کار ترې نه نۀ وی اخستے شوے او نۀ
يې جغ راښکلے وی. ۞٤ هغوئ به دا يوې بهېدونکې ولې ته کوزه کړی چې د
هغه ځائ زمکه هيڅکله نه يوې شوې وی او نه کَرلے شوې وی او هغوئ به هلته



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دې سخۍ ښتې مات کړی. ۵ د لیوی قبیلې اِمامان به هم هلته لاړ شی، ځکه
چې هغوئ به هره هغه لانجه فېصله کوی چې د ظلم او زیاتی سره یې تعلق وی.
مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک هغوئ د خپل خِدمت دپاره خوښ کړی دی او
چې د هغهٔ په نوم برکتونه وغواړی. ۶ بیا چې چرته هغه قتل شوے کس
موندلے شوے وی هغې ته د نزدې ښار ټول مشران به په هغه سخۍ باندې خپل
لاسونه ووینځی، ۷ او هغوئ دې ووائی چې، مونږ دا کس نهٔ دے وژلے او
مونږ ته پته نشته چې دا قتل چا کړے دے. ۸ اے مالِکه خُدایه، خپل خلق
اِسرائیلیان معاف کړه څوک دې چې تا د مِصر نه آزاد کړل. مونږ معاف کړه او
د یو بېګناه کس د قتل ذمه واری زمونږ په غاړه مهٔ اچوه. ۹ چې هغه څهٔ
وکړئ چې مالِک خُدائ یې غواړی، نو د قتل ذمه واری به ستاسو په غاړه نهٔ وی.

## په جنګ کښې نیولے شوې ښځې سره وادهٔ کول

۱۰ کله چې تاسو د خپلو دشمنانو خِلاف جنګ له لاړ شئ او مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک تاسو په هغوئ زورَور کړی او څهٔ کسان ترې نه قېدیان کړئ،
۱۱ کېدے شی چې تاسو په هغوئ کښې یوه ښائسته ښځه وګورئ چې ستاسو
خوښه شی او ورسره وادهٔ کول وغواړئ. ۱۲ هغه خپل کور ته بوځئ، هلته به
خپل سر کل کړی، نوکونه به پرې کړی، ۱۳ او خپلې جامې به بدلې کړی. هغه به
ستاسو په کور کښې ایساره شی او خپل مور پلار پسې به یوه میاشت وژاړی، د
هغې نه پس، هغه وادهٔ کولے شئ. ۱۴ وروستو، کهٔ تاسو د هغې سره خوشحاله
نهٔ یئ، نو تاسو یې پرېښودے شئ او چې چرته وغواړی نو هلته دې لاړه شی.
ځکه چې تاسو د هغې بېعزتی کړې ده، نو تاسو د هغې سره د یوې وینځې په
شان سلوک نهٔ شئ کولے او نهٔ یې خرڅولے شئ.

## د مشری زوئ حقُونه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ کهٔ د يو سړی دوه ښځې وی او هغه د يوې سره مينه کوی او د بلې سره نهٔ کوی او د دواړو نه يې زامن پېدا شی، خو وړومبے زوئ يې د هغې ښځې نه وی چې د کومې سره مينه نهٔ کوی، ۱۶ کله چې هغه سړے خپل جائيداد تقسيموی نو هغه دې د خپلې خوښې ښځې زوئ له د مشری زوئ حق نهٔ ورکوی. ۱۷ چې د کومې ښځې سره مينه نهٔ کوی خو د هغې زوئ مشر دے نو هغهٔ له به يو په دوه برخه ورکوی. مشر زوئ د خپل پلار د طاقت وړومبی نښه وی. هغه د مشرئ حق لری.

## يو نافرمانه زوئ

۱۸ کهٔ د چا زوئ ضدی يا سرکشه وی، يو زوئ چې د خپل مور پلار فرمانبرداری نهٔ کوی، تر دې پورې چې هغوئ سزا هم ورکړی، ۱۹ د هغهٔ مور پلار دې هغه د ښار مشرانو له راولی چرته چې هغه اوسيږی او په هغهٔ دې فيصله وکړے شی. ۲۰ هغوئ دې مشرانو ته داسې ووائی، ”زمونږ زوئ ضدی او سرکشه دے او زمونږ خبره نهٔ منی، هغه فضول خرچه او شرابی دے.“ ۲۱ نو د ښار سړی دې هغه سنګسار کړی چې مړ شی. نو تاسو به د دې بدکارئ نه خلاص شئ. په بنی اِسرائيلو کښې به ټول خلق د دې نه خبر شی او وبه يريږی.

## د مړی سمبالول

۲۲ کهٔ د يو جرم په وجه څوک وژلے شوے وی او د هغهٔ لاش په يوه ونه کښې ځوړند وی، ۲۳ نو هغه دې د شپې هلته نهٔ شی پرېښودلے. هغه دې خامخا هم په هغه ورځ ښخ کړے شی، ځکه چې يو داسې مړے چې په ونه کښې ځوړند وی هغه په مُلک باندې د خُدائ پاک لعنت راولی. هغه مړے ښخ کړئ، نو تاسو به هغه مُلک پليت نهٔ کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له په ميراث کښې درکوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ ﴿۱﴾ کۀ تاسو وګورئ چې ستاسو د اِسرائيلي ورور غوا يا ګډې لار غلطه
کړې وى، نو هغه هم داسې مۀ پرېږدئ، او خپل مالِک له يې واپس ورولئ. ﴿۲﴾
خو کۀ د دې مالِک لرې اوسيږى يا کۀ تاسو ته پته نۀ وى چې دا د چا ده، نو د
ځان سره يې خپل کور ته بوځئ. کله يې چې مالِک لټولو له راشى، نو هغۀ له يې
ورکړئ. ﴿۳﴾ کله چې تاسو خر، د کپړې ټُکړه، يا بل څۀ وموموئ چې ستاسو د
اِسرائيلي ورور نه ورک شوې وى نو تاسو هم دغه شان کوئ. د چا سره مدد
کولو نه لاس مۀ نيسئ. ﴿۴﴾ کۀ ستاسو د اِسرائيلي ورور خر يا غوا په لاره کښې
غورزېدلې وى، نو هغه هم داسې مۀ پرېږدئ، د هغه ځناور په پاڅولو کښې د هغۀ
مدد وکړئ. ﴿۵﴾ ښځې دې د سړو جامې نۀ اچوى او سړى دې د ښځو جامې نۀ
اغوندى، مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د هغه خلقو نه کرکه کوى څوک چې
داسې کارونه کوى. ﴿۶﴾ کۀ چرې تاسو په يوه ونه کښې يا په زمکه باندې د
مارغانو جاله ووينئ چې مرغۍ په هګو باندې يا د خپلو بچو سره ناسته وى، نو
تاسو به دا مرغۍ نۀ رانيسئ. ﴿۷﴾ تاسو د مرغو هغه واړۀ بچې رانيولے شئ، خو
مرغۍ به يې پرېږدئ چې لاړه شى، نو تاسو به يو اوږد او خوشحاله ژوند تېر
کړئ. ﴿۸﴾ کله چې تاسو يو نوے کور جوړ کړئ، نو ګورئ چې د چت د غاړې
نه ګېرچاپېره يو پردهوال ورله جوړ کړئ. کۀ څوک ترې نه راوغورزيږى او مړ
شى نو ذمه وارى به يې ستاسو په غاړه نۀ وى. ﴿۹﴾ کۀ په يو پټى کښې انګور
وکَرئ نو بل څۀ فصل ورسره مۀ کَرئ ګنې دواړه به نۀ شئ خوړلے. ﴿۱۰﴾ غوَيے
او خر تاسو په يو جغ کښې د يوې کولو دپاره مۀ اچوئ. ﴿۱۱﴾ داسې جامې مۀ
اغوندئ چې په يو ځائ د تاو شوې وړۍ او د کتان نه جوړې وى. ﴿۱۲﴾ د خپلو
جامو په څلورو ګوټونو پوړې د مزو زونډى وګنډئ.

### بدنامه شوې ناوې

﴿۱۳﴾ کۀ يو سړے يوه ښځه وادۀ کړى او ورسره څملى او وروستو يې هغه خوښه
نۀ شى، ﴿۱۴﴾ او د هغې خِلاف داسې دروغ ووائى چې ما وادۀ کړه خو چې کله



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورسره څملاستم نو ما ته پته ولګېده چې هغه زما نه مخکښې د بل سړی سره
ملاسته وه. ۱۵ کۀ داسې وشی، نو د جينۍ مور او پلار دې د ښار مشرانو له د
جرګې په وخت دا ثبوت راوړی چې هغه جينۍ هيڅکله هم د يو سړی سره نۀ وه
ملاسته. ۱۶ د هغې پلار به مشرانو ته ووائی، ”ما خپله لور دې سړی له ورکړه
چې وادۀ يې کړی، خو اوس د هغۀ خوښه نۀ ده. ۱۷ هغه د دې خِلاف دا دروغ
وائی چې کله ما ورسره وادۀ وکړو نو هغه د مخکښې نه د بل سړی سره ملاسته
وه خو ثبوت دا دے چې زما لور صفا وه، د وادۀ د کټ په څادر باندې تاسو د
وينې دا داغونه وګورئ.“ ۱۸ نو د ښار مشران به د هغې خاوند بوځی او سزا به
ورکړی. ۱۹ هغوئ دې هغه سل د سپينو زرو سيکې جرمانه هم کړی او پېسې
دې د ښځې پلار له ورکړی، ځکه چې هغه سړی يوه اِسرائيلۍ ښځه رسوا کړې
ده. د دې نه علاوه، هغه به يې ښځه هم وی او چې ترڅو پورې هغه ژوندے وی
هغې له طلاق نۀ شی ورکولے. ۲۰ خو کۀ دا خبره رښتيا وی او دا ثبوت نۀ وی
چې هغه پېغله پاتې شوې وه، ۲۱ نو هغوئ به يې د هغې د پلار د کور دروازې
خولې ته بوځی، او د ښار سړی به يې هلته سنګسار کړی چې مړه شی. هغې
ستاسو خلقو په مينځ کښې يو د شرم نه ډک کار کړے دے چې د وادۀ نه
مخکښې د بل سړی سره څملاستله، چې هغه لا د پلار په کور کښې وه. نو تاسو
به په دې طريقې سره د خپل مينځ نه دا بدکاری ختمه کړئ. ۲۲ کۀ يو سړے د
بل سړی د ښځې سره په زنا کولو ونيولے شی، نو هغوئ دواړه به وژلے شی، نو
چې تاسو د اِسرائيل مُلک د دې بدکارۍ نه خلاص کړئ. ۲۳ کۀ په يو ښار کښې
يو سړے د داسې ښځې سره په زنا پورې ونيولے شی چې د هغې کوژدن د بل چا
سره شوې وی، ۲۴ نو تاسو هغوئ د ښار نه بهر بوځئ او سنګسار يې کړئ چې
مړۀ شی. ښځه دې ځکه مړه شی چې هغې د مدد دپاره چغې نۀ دی وهلې، اګر
چې هغه په ښار کښې وه، کېدے شی چې هلته د هغې چغې اورېدلے شوې وے.
او سړے دې ځکه مړ شی چې هغۀ د يوې داسې ښځې سره زنا کړې ده چې هغه
کوژدن شوې وه. نو داسې به تاسو د دې ګند نه ځان خلاص کړئ. ۲۵ فرض



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړئ چې يو سړے په پټو کښې د يوې داسې ښځې بې‌عزتي وکړی چې د هغې کوژدن د بل چا سره شوې وی. نو صرف هغه سړے به وژلے شی، ۲۶ ښځې ته به هيڅ نۀ شی وئيلے، ځکه هغې داسې گناه نۀ ده کړې چې د مرگ حقداره شی. دا هم هغه شان معامِله ده چې يو سړے په بل سړی باندې حمله وکړی او مړ يې کړی. ۲۷ هغه سړی په پټو کښې د هغه کوژدن شوې ښځې سره په زبردستۍ زنا وکړه، اگر چې هغې د مدد چغې وهلې وې، خو هيڅ څوک هم نۀ وُو. ۲۸ کۀ يو سړے د يوې داسې جينۍ سره په زبردستۍ زنا وکړی چې هغه کوژدن شوې نۀ وی، ۲۹ نو هغه به د هغې پلار له پنځوس د سپينو زرو سيکې حق مهر ورکړی او هغه به يې ښځه شی، ځکه چې هغۀ په زور باندې د هغې سره زنا کړې ده. چې تر کومې پورې ژوندے وی نو هغې له طلاق نۀ شی ورکولے. ۳۰ يو سړے دې هم د خپل پلار بې‌عزتي نۀ کوی چې د خپل پلار د ښځو نه د يوې سره څملی.

## د مالِک خُدائ په قوم کښې د شامليدو اصُول

۲۳ ۱ د کوم سړی چې هگۍ ماتې شوې وی يا يې ذکر پرې کړے شوے وی نو هغه يو به هم د مالِک خُدائ په خلقو کښې نۀ شی شامليدلے. ۲ يو حرامی پيدا شوے کس يا د داسې کس اولاد، تر لسم نسله پورې هم، د مالِک خُدائ په خلقو کښې نۀ شی شامليدلے. ۳ هيڅ يو عمونی يا موآبی، يا د هغوئ اولاد، تر لسم نسل پورې هم، د مالِک خُدائ په خلقو کښې نۀ شی شامليدلے. ۴ کله چې تاسو د مِصر نه بهر په لاره کښې وئ نو هغوئ تاسو له د خوراک او اوبو درکولو نه اِنکار وکړو او د مسوپتاميه په ښار پتور کښې يې د بعور زوئ بلعام له پيسې ورکړې چې په تاسو لعنت ووائی. ۵ خو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به بلعام ته غوږ نۀ نيولو، او لعنت يې په برکت بدل کړو، ځکه چې هغۀ ستاسو سره مينه لرله. ۶ چې تر کومې پورې تاسو ژوندی يئ، د هغوئ مدد مۀ کوئ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغوئ د خېر او خوشحالئ ژوند وکړی. ۷ ادومیانو ته سپک مهٔ ګورئ، هغوئ ستاسو خپلوان دی. او مِصریانو ته هم سپک مهٔ ګورئ، په یو وخت کښې تاسو د هغوئ په مُلک کښې اوسېدئ. ۸ د درېم نسل نه ورپه اخوا د هغوئ اولاد د مالِک خُدائ په خلقو کښې شاملېدے شی.

## د فوجی کېمپ پاک ساتل

۹ کله چې تاسو د یو لښکر په شکل د خپلو دشمنانو خِلاف ووځئ، نو ګورئ د داسې هر څیز نه ځان ساتئ چې تاسو ناپاکوی. ۱۰ کهٔ د شپې شېطان یو سړے دوکه کړی او هغه په دې وجه ناپاک شی، نو هغه دې د خېمو نه بهر ووځی او هلته دې پاتې شی. ۱۱ په ماښام کښې دې هغه غسل وکړی او د نمرپرېواتهٔ په وخت کښې هغه واپس کېمپ ته راتلے شی. ۱۲ تاسو له په کار دی چې د کېمپ نه بهر یو ځائ جوړ کړئ چې هلته د اودس ماتی دپاره ځئ. ۱۳ په خپل سامان کښې د کنستلو دپاره یو څیز هم یوسئ، کله چې تاسو ډکې متیازې کوئ نو یوه کنده به وکنئ او متیازې به په کښې پټې کړئ. ۱۴ خپل کېمپ مقدس ساتئ، ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو سره ستاسو په کېمپ کښې دے، دا د دې دپاره چې ستاسو حِفاظت وکړی او تاسو له په دشمنانو باندې فتح درکړی. داسې یو د بې‌شرمئ کار هم مهٔ کوئ چې د هغې په وجه مالِک خُدائ ستاسو نه مخ واړوی.

## مختلف قوانین

۱۵ کهٔ غلامان د خپلو مالِکانو نه وتښتی او تاسو له د پناه دپاره راشی، نو هغوئ واپس مهٔ لېږئ. ۱۶ هغوئ ستاسو د ښارونو په هر یو ښار کښې اوسېدے شی چې کوم یې خوښ وی او تاسو به د هغوئ سره زیاتے نهٔ کوئ. ۱۷ اِسرائیلے سړے یا ښځه به هیڅکله د عبادتخانې کنجران نهٔ جوړېږی. ۱۸ د کنجر سړی یا



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د کنجرۍ ښځې ګټلے شوې پېسې به هم د يوې منښتې پوره کولو دپاره د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک کور ته نۀ شی راوړلے. مالِک خُدائ د عبادتخانې د کنجرانو نه نفرت کوی. ⁽¹⁹⁾ کله چې تاسو پېسې يا خوراک، يا بل څيز خپل اِسرائيلی ورور له قرض ورکړئ، نو د هغۀ نه سود مۀ اخلئ. ⁽²⁰⁾ يو مسافر له چې څۀ څيز قرض ورکړئ نو د هغې سود د هغۀ نه اخستے شئ، خو چې خپل اِسرائيلی له څۀ قرض ورکړئ نو د هغې سود به ترې نه نۀ اخلئ. دا اصُول ومنئ او مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به په هغه مُلک کښې تاسو له په هر کار کښې برکت درکړی کوم مُلک چې تاسو قبضه کوئ. ⁽²¹⁾ کله چې مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته تاسو يوه منښته ومنئ، نو چې کومه وعده مو کړې وی په هغې کښې سستی مۀ کوئ، مالِک خُدائ به ستاسو نه د هغه منښتې تپوس کوی او د دې وعدې نۀ پوره کول ګناه ده. ⁽²²⁾ مالِک خُدائ ته منښته نۀ منل ګناه نۀ ده، ⁽²³⁾ خو کۀ تاسو په خپله خوښه يوه منښته ومنئ، نو ګورئ هغه وعده به پوره کوئ. ⁽²⁴⁾ کله چې تاسو د بل چا د انګورو باغ سره تېرېږئ، نو چې څومره انګور غواړئ هغه خوړلے شئ، خو د هغې نه به په يوه ټوکرۍ کښې انګور نۀ وړئ. ⁽²⁵⁾ هم دغه شان، کۀ تاسو د بل چا د فصل په پټی کښې ګرځئ، څومره غله چې د خپلو لاسونو سره راشوکولے شئ هغه خوړے شئ، خو هغه فصل به تاسو په لور نۀ رېبئ.

## طلاق او بيا وادۀ کول

**۲۴** ⁽¹⁾ کۀ يو سړے يوې ښځې سره وادۀ وکړی او په هغې کښې داسې څۀ وګوری چې د هغه سړی خوښ نۀ وی او وروستو فيصله وکړی چې خپله ښځه طلاقه کړی او هغه طلاق نامه ورکړی او د خپل کور نه يې وشړی ⁽²⁾ او بيا کۀ هغه ښځه د هغه سړی د کور نه لاړه شی او د بل سړی سره وادۀ وکړی، ⁽³⁾ او کۀ د هغه دويم خاوند هم خوښه نۀ شی او هغه هم طلاق نامه ورکړی او د خپل



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کور نه يې وشړی، يا فرض کړئ چې دا خاوند يې مړ شی، ۴ نو په دواړو حالاتونو کښې به د هغې وړومبے خاوند هغه ښځه دوباره نۀ وادۀ کوی، هغه به يې ناپاکه ګڼی. کۀ دوياره وادۀ يې ورسره وکړو نو مالِک خُدائ به د دې کار نه نفرت کوی. تاسو به هغه مُلک په داسې خرابه ګناه نۀ پليتوئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوی چې ستاسو خپل شی.

## د قانون مختلفې حِصې

۵ کله چې يو سړے نوے وادۀ وکړی، نو هغه دې د جنګ دپاره فوج ته نۀ شی لېږلے او نۀ دې ترې نه کار اخستلے شی، يو کال به هغۀ ته کار معاف وی، نو چې داسې هغه په کور کښې پاتې شی او ښځه خوشحاله کړی. ۶ کله چې تاسو چا له څۀ څيز قرض ورکړئ، نو چې د هغۀ نه په ضمانت کښې د هغۀ د مېچنې برنے پل وانۀ خلئ چې په هغې باندې غله مېده کوی. کۀ تاسو ترې نه دا واخلئ نو د دانو اوړۀ کولو ذريعه به يې ختمه شی. ۷ کۀ يو سړے د خپل اِسرائيلی په تښتولو پورې ونيولے شی او خپل غلام يې کړی يا د غلام په توګه يې خرڅ کړی نو هغه سړے دې ووژلے شی. نو داسې به تاسو د دې بدکارئ نه خپل قوم خلاص کړئ. ۸ کله چې تاسو د جذام بيمارئ په وجه په تکليف کښې يئ، نو هم هغه شان کوئ څنګه چې درته د ليوی قبيلې اِمامان وائی، ما چې هغوئ ته کوم اصُول ښودلی دی په هغې عمل کوئ. ۹ ياد ساتئ کله چې تاسو د مِصر نه راروان وئ نو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د مريم سره څۀ وکړل. ۱۰ کله چې تاسو خپل ګاونډی له څۀ قرض ورکوئ، نو د هغۀ کور ته د دې دپاره مۀ ځئ چې هغه څيز ترې نه واخلئ چې په ضمانت کښې يې تاسو له درکوی، ۱۱ بهر ورته ودرېږئ او پرېږدئ چې هغه څيز په خپله تاسو له راوړی. ۱۲ کۀ هغه غريب وی او د قرض په ضمانت کښې هغه تاسو له خپله چُوغه درکړی، نو هغه چُوغه د شپې د ځان سره مۀ ساتئ، ۱۳ دا چُوغه په ماښام کښې هغۀ له واپس ورکوئ، نو چې داسې هغه په کښې اودۀ کېږی. نو هغه به ستاسو شکريه ادا کړی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په نظر کښې به ستاسو دپاره د دې اجر
وى. ۱۴ په خوارو غريبانانو مزدورانو باندې ظلم مۀ کوئ، کۀ هغه اِسرائيلے
وى يا مسافر وى چې ستاسو په ښارونو کښې اوسيږى. ۱۵ هره ورځ د
نمرپريواتو نه مخکښې هغوئ له خپلې دياړى ورکوئ، هغوئ غريبانان دى او
پېسو ته يې ضرورت دے. کۀ تاسو هغوئ له پېسې ورنۀ کړئ، نو هغوئ به
ستاسو خِلاف مالِک خُدائ ته فرياد وکړى او دا به ستاسو په گناه کښې حِساب
شى. ۱۶ د چا بچو چې جرمونه کړى وى نو د هغې په وجه دې د هغوئ مور پلار
نۀ شى وژلے او د چا مور پلار چې جرمونه کړى وى نو د هغې په وجه دې د
هغوئ بچى نۀ شى وژلے، هر څوک به صرف د خپلو جرمونو په وجه وژلے شى
چې هغوئ په خپله کړى وى. ۱۷ مسافر او يتيمان د خپلو حقُونو نه مۀ محرومه
کوئ، او د يوې کونډې نه د قرض په ضمانت کښې جامې مۀ اخلئ. ۱۸ هغه
رايا‌د کړئ چې تاسو په مِصر کښې غلامان وئ او مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک تاسو آزاد کړئ، نو دا څکه ما تاسو له دا حُکم درکړے دے. ۱۹ کله چې
تاسو خپل فصل راغونډوئ او چې کوم فصل تاسو ريبلے وى او د هغې نه څۀ
درنه پاتې شى نو په هغې پسې واپس مۀ ورځئ، دا به مسافرو، يتيمانو او کونډو
دپاره پريښودلے شى، نو داسې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به تاسو له په
هغه هر کار کښې برکت درکړى چې تاسو يې کوئ. ۲۰ کله چې تاسو يو ځل
خپل زيتون وشوکوئ، نو هغې له بيا مۀ ورځئ چې هغه پاتې شوى راوشوکوئ، دا
به د مسافرو، يتيمانو او کونډو دپاره وى. ۲۱ کله چې تاسو يو ځل خپل انگور
راټول کړئ، نو په دويم ځل د انگورو راټولولو دپاره باغونو ته مۀ ځئ، کوم انگور
چې پاتې وى نو هغه به د مسافرو، يتيمانو او کونډو دپاره وى. ۲۲ دا هيڅکله مۀ
هيروئ چې تاسو په مِصر کښې غلامان وئ، نو دا څکه ما تاسو له دا حُکم
درکړے دے.

## ۲۵

۱ فرض کړئ چې دوه کسان د يوې لانجې هوارولو دپاره عدالت ته لاړ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شی او قاضیان فیصله وکړی چې یو په حقه دے او بل په ناحقه دے. ۲ کۀ په
هغه ناحقه کس باندې د وهلو حُکم وشی، نو د قاضی په مخکښې دې هغه پړمخې
څملولے شی او په کوړو دې ووهلے شی. هغۀ چې کوم جرم کړے وی نو د
کوړو د ګزارونو شمېر به د هغې په مطابق وی. ۳ خو هغه به د څلوېښتو کوړو
نه زیات نۀ شی وهلے، د څلوېښتو نه زیاتو کوړو مطلب به دا وی چې ستاسو
ګاونډی د خلقو په مخکښې وشرمېږی. ۴ د غوېل په وخت کښې د غوَیی د خولې
ته کوَرے مۀ اچوئ.

## د مړ ورور حق ادا کول

۵ کۀ دوه ورونړه یو ځائ اوسیږی او یو د هغوئ نه مړ شی او یو زوئ یې هم
پاتې نۀ شی، نو د هغۀ کونډه ښځه به د پردی سړی سره وادۀ نۀ کوی، دا د مړ
سړی د ورور ذمه واری ده چې هغه وادۀ کړی او د هغې سره کوروالے کوی.
۶ د هغوئ چې وړومبے کوم زوئ پیدا شی نو هغه به د مړ سړی زوئ ګڼلے
شی، چې د هغۀ نوم د بنی اِسرائیلو نه ختم نۀ شی. ۷ خو کۀ د مړ سړی ورور
هغې سره وادۀ کول نۀ غواړی، نو هغه ښځه به د ښار مشرانو ته پېش شی او وېه
وائی چې زما لېور خپله ذمه واری نۀ پوره کوی، هغه دا نۀ غواړی چې د هغۀ د
ورور نوم په بنی اِسرائیلو کښې باقی پاتې شی. ۸ نو د ښار مشران دې هغه
راوغواړی او د هغۀ سره دې خبره وکړی. کۀ تر اوسه پورې یې وادۀ کول نۀ
غواړی، ۹ نو د هغۀ د ورور کونډه ښځه دې د ښار د مشرانو په وړاندې هغۀ له
ورشی، د هغۀ یوه څپلۍ دې وباسی، د هغۀ په مخ دې توکاڼې اوتُوکی او وېه وائی
چې دا هغه څۀ دی چې د هغه سړی سره به کیږی چې د خپل ورور کور آبادول
نۀ غواړی. ۱۰ نو د هغۀ خاندان به په بنی اِسرائیلو کښې په دې نوم یادیږی چې،
”هغه سړے چې څپلۍ یې ویستلے شوې وه.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۱۱) کۀ دوه سړی په جګړه وی او د هغه يو سړی ښځه د خپل خاوند د مدد کوشش داسې وکړی چې هغه بل سړے د هګو نه راونيسی، (۱۲) نو چې په هغه ښځه باندې هيڅ رحم ونۀ کړئ، او د هغې لاس پرې کړئ. (۱۳)-(۱۴) کله چې تاسو ناپ تول کوئ نو په هغې کښې ټګی مۀ کوئ. (۱۵) صحيح او پوره ناپ تول کوئ، نو داسې به تاسو په هغه مُلک کښې يوه ډېره موده تېره کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوی. (۱۶) مالِک خُدائ د هغه خلقو نه کرکه کوی چې څوک داسې دوکه مار کارونه کوی.

## د عماليقيانو قتلېدل

(۱۷) هغه راياد کړئ چې کله تاسو د مِصر نه راروان وئ نو عماليقيانو درسره څۀ وکړل. (۱۸) هغوئ د خُدائ پاک نه هيڅ يره نۀ کوله، نو هغوئ په داسې وخت کښې په تاسو د شا نه حمله وکړه چې تاسو ستړی ستومانه وئ او چې کوم وروستو پاتې وُو نو هغه ټول يې ووژل. (۱۹) نو چې کله مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک هغه مُلک تاسو له درکړی او د خپلو ټولو دشمنانو نه مو بچ کړی چې ستاسو نه ګېرچاپېره اوسيږی، نو ګورئ چې ټول عماليقيان ووژنئ، نو د آسمان لاندې به هيڅ څوک نور هغوئ نۀ يادوی. دا کار مۀ هېروئ.

## د فصل نذرانې

**۲۶** (۱) د هغې نه وروستو چې کله تاسو هغه مُلک قبضه کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوی او هلته اوسيږئ، (۲) نو تاسو هر يو به خامخا د هر فصل وړومبے برخه په يوه ټوکرۍ کښې ړدئ او دا به د عبادت هغه يو ځائ ته وړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې درته د دې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره ښائی چې د هغهٔ د نوم درناوے وشی. ۳ هغه دې د هغه وخت مقرر
شوی اِمام له لاړ شی او هغهٔ ته دې ووائی چې زهٔ مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک
ته دا اِقرار کوم چې زهٔ هغه مُلک ته ورداخل شوم چې زمونږ د پلار نيکهٔ سره يې
وعده شوې وه چې مونږ له به يې راکوی. ۴ اِمام به ټوکری ستاسو نه واخلی او
هغه به دا د مالِک خُدائ ستاسو د خُدائ پاک د قربان‌گاه په وړاندې کېږدی. ۵
نو، د مالِک خُدائ په حضور کښې به تاسو دا خبرې بيان کړئ چې، "زما پلار
نيکهٔ د شام وو او هغه به لکه د کوچيانو گرځېدو، هغهٔ خپل خاندان مِصر ته بوتلو
چې هلته اوسيږی. کله چې هغوئ هلته لاړل نو هغوئ څو کسان وُو، خو د هغوئ
نه يو لوئ او طاقتور قوم جوړ شوے دے. ۶ د مِصر خلقو مونږ سره بد
سلوک کولو او زمونږ نه يې غلامان جوړ کړی وُو. ۷ نو مونږ د خپل پلار نيکهٔ
مالِک خُدائ ته د مدد دپاره فرياد وکړو. نو هغهٔ زمونږ فرياد واورېدو او زمونږ
تکليف، سختی او غم يې وليدو. ۸ د خپل لوئ طاقت او قُدرت سره هغهٔ مونږ د
مِصر نه راوويستلو. هغهٔ معجزې او نښې ښکارندې کړې او يرووںکی کارونه يې
وکړل. ۹ هغهٔ مونږ دلته راوستلو او دا مُلک يې راکړو، هغه مُلک چې زرخېز او
آباد دے. ۱۰ نو ما مالِک خُدائ له د پېداوار وړومبی برخه راوړې ده چې هغهٔ
ما له د دې زمکې نه راکړې ده." نو بيا دا ټوکری د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک په وړاندې کېږدئ او د هغهٔ په حضور کښې سجده وکړئ. ۱۱ په هغه ښهٔ
څيزونو شُکر وباسئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو او ستاسو
خاندان له درکړی دی، او ليويان او مسافر پرېږدئ کوم چې تاسو سره اوسيږی
چې تاسو سره په جشن کښې شامل شی. ۱۲ په هر درېم کال ليويانو، مسافرو،
يتيمانو او کونډو له د خپلو فصلونو لسمه برخه ورکوئ، نو داسې ستاسو په هره
علاقه کښې به د خوراک ضروری څيزونه ملاويږی. کله چې تاسو دا وکړئ، ۱۳
نو مالِک خُدائ ته ووايئ چې زما په کور کښې د مقدسې لسمې حِصې نه هيڅ نهٔ
دی پاتې شوی، ما هغه ليويانو، مسافرو، يتيمانو او کونډو له ورکړی دی، لکه
څنګه چې تا ما ته حُکم کړے دے. د لسمې حِصې په حقله ما ستا د حُکمونو نه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د يو حُکم نافرمانی نۀ ده کړې او نۀ مې هېر کړې دی. ⁽١٤⁾ کله چې زۀ په غم غمژن وم نو ما د دې نه هيڅ نۀ دی خوړلی، کله چې زۀ ناپاک وم نو ما د دې نه د خپل کور نه بهر هيڅ نۀ دی ويستلی، او ما د دې نه د مړو دپاره نذرانې په توګه هيڅ نۀ دی ورکړی. مالِکه خُدايه، ما ستا تابعداری کړې ده، د لسمې حِصې په حقله چې تا څۀ حُکم کړے دے نو ما هغه هر څۀ کړی دی. ⁽١٥⁾ په آسمان کښې د خپل مقدس مقام نه لاندې وګوره او خپلو خلقو بنی اِسرائيلو له برکت ورکړه، هغه مُلک له هم برکت ورکړه چې زرخېز او آباد دے کوم چې تا مونږ له راکړے دے، لکه څنګه چې تا زمونږ د پلار نيکۀ سره وعده کړې وه.

## د مالِک خُدائ خپل قوم

⁽١٦⁾ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک نن تاسو ته حُکم کوی چې په دې ټولو حُکمونو او اصُولو باندې عمل کوئ، او د زړۀ د اخلاصه په وفاداری سره په دې عمل کوئ. ⁽١٧⁾ نن تاسو دا اِقرار کړے دے چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک دے. او تاسو وعده کړې ده چې د هغۀ په لاره به روان يئ او د هغۀ قانون، حُکمونه او اصُول به منئ او د هغۀ فرمانبرداری به کوئ. ⁽١٨⁾ مالِک خُدائ نن تاسو خپل قيمتی قوم ګڼلی يئ، لکه څنګه چې هغۀ تاسو سره وعده کړې وه، او هغۀ تاسو له حُکم درکړے دے چې د هغۀ ټول حُکمونه به منئ. ⁽١٩⁾ هغۀ چې څومره قومونه پيدا کړی دی نو په هغه ټولو کښې به ستاسو مقام اوچت وی، نو ستاسو په وجه به د هغۀ د نوم صِفت او درناوے کيږی. تاسو به هغه قوم يئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ته مقدس وی، لکه څنګه چې هغۀ وعده کړې ده.“

## په کاڼو د خُدائ پاک ليکلے قانون

٢٧ ⁽١⁾ بيا موسىٰ او د بنی اِسرائيلو مشرانو خلقو ته وفرمائيل، ”نن چې زۀ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوم اصُول درته ښايم هغه ټول ومنئ. ۲ په کومه ورځ چې تاسو د اُردن سيند نه پورې وځئ او هغه مُلک ته ورننوځئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوی، نو هلته لوئ لوئ کاڼي ودروئ او لېو يې کړئ، ۳ او په هغې باندې دا ټول قانون او خبرې وليکئ. کله چې تاسو هغه مُلک ته ورننوځئ چې پئ او شات په کښې ډېر تېر وی، چې مالِک خُدائ ستاسو د پلار نيکهٔ خُدائ پاک ستاسو سره د هغې وعده کړې ده، ۴ او چې تاسو د اُردن بلې غاړې ته واوړئ، نو د عيبال په غرهٔ باندې دا کاڼي ودروئ، لکه څنګه چې نن زهٔ تاسو له حُکم درکوم او هغه کاڼي لېو کړئ. ۵ هلته د کاڼو يوه داسې قربان‌ګاه جوړه کړئ چې د هغې په جوړولو کښې د اوسپنې هيڅ آوزار استعمال نهٔ شی، ۶ ځکه چې تاسو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک دپاره هره قربان‌ګاه جوړَوئ نو هغه دې د داسې کاڼو نه جوړولے شی چې کټ کړے شوی نهٔ وی. هلته به تاسو سوزېدونکې قربانئ پېش کوئ، ۷ او هلته به تاسو قربانئ کوئ او خپلې د سلامتئ نذرانې به خورئ او د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په حضور کښې به شُکر وباسئ. ۸ په کومو کاڼو باندې چې لېو شوے وی په هغې باندې د خُدائ پاک د قانون هره يوه خبره صفا صفا وليکئ.“ ۹ بيا موسیٰ او د ليوی قبيلې اِمامانو ټولو بنی اِسرائيلو ته ووئيل، ”اے د بنی اِسرائيلو خلقو، خاموش شئ او غوږ ونيسئ. نن تاسو د خپل خُدائ پاک د مالِک خُدائ خپل خلق شوئ، ۱۰ نو د هغهٔ تابعداری کوئ او د هغهٔ ټول حُکمونه او قانون پوره کوئ چې نن يې زهٔ درکوم.“

## د نافرمانئ لعنتونه

۱۱ بيا هم په هغه ورځ موسیٰ د بنی اِسرائيلو خلقو ته وفرمائيل، ۱۲ ”د اُردن سيند نه د اوړېدو نه پس به دغه قبيلې د ګِرزيم په غرهٔ ودرېږی، يعنې د شمعون، ليوی، يهوداه، يساکار، يوسف او بنيامين قبيلې. او دوئ به په خلقو د برکتونو اِعلان کوی. ۱۳ نو دغه قبيلې يعنې د روبين، جاد، آشر، زبولون، دان او نفتالی د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عیبال په غرهٔ ودرېږی. او په خلقو به لعنت وائی ⑭ لیویان به دا خبرې په اوچت آواز سره وکړی،

⑮ د خُدائ پاک لعنت دې وی په هغه چا څوک چې د کاڼی، لرګی، یا د ویلې کړے شوے څهٔ څیز نه بُت جوړ کړی او په پټه د هغې عبادت کوی، مالِک خُدائ د بُت پرستئ نه نفرت کوی.

نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین.

⑯ د خُدائ پاک لعنت دې وی په هغه چا څوک چې د خپل مور پلار بې‌عزتی کوی.

نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین.

⑰ د خُدائ پاک لعنت دې وی په هغه چا څوک چې د ګاونډی د زمکې د حد پوله خوځوی.

نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین.

⑱ د خُدائ پاک لعنت دې وی په هغه چا څوک چې یو ړوند کس بې‌لارې کوی.

نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین.

⑲ د خُدائ پاک لعنت دې وی په هغه چا څوک چې هغه مسافر، یتیمان او کونډې د خپلو حقُونو نه محرومه کوی.

نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین.

⑳ د خُدائ پاک لعنت دې وی په هغه چا څوک چې د خپل پلار د ښځې سره



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زنا کوی، او د خپل پلار بې‌عزتی کوی.

نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین.

۲۱ د خُدائ پاک لعنت دې وی په هغه چا څوک چې د ځناور سره حرامکاری کوی.

نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین.

۲۲ د خُدائ پاک لعنت دې وی په هغه چا څوک چې د خپلې سکه یا ناسکه خور سره زنا کوی.

نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین.

۲۳ د خُدائ پاک لعنت دې وی په هغه چا څوک چې د خپلې خواښې سره زنا کوی.

نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین.

۲۴ د خُدائ پاک لعنت دې وی په هغه چا څوک چې په پټه باندې قتل کوی.

نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین.

۲۵ د خُدائ پاک لعنت دې وی په هغه چا څوک چې د یو بې‌گناه کس د قتل پېسې اخلی.

نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین.

۲۶ د خُدائ پاک لعنت دې وی په هغه چا څوک چې د خُدائ پاک په ټولو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاربښودنو او قانون باندې عمل نهٔ کوی.

نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین.

## د فرمانبردارئ برکتونه

۲۸ ۞ کهٔ تاسو د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک پوره فرمانبرداری وکړئ او
په وفادارئ سره د هغهٔ په ټولو حُکمونو عمل کوئ کوم چې زهٔ تاسو له درکوم، نو
هغه به تاسو له د دُنيا په ټولو قومونو باندې اوچت مقام درکړی. ۞ د مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک فرمانبرداری کوئ او هغه به تاسو له دا ټول برکتونه
درکړی، ۞ کهٔ تاسو په ښارونو يا کلو کښې اوسېږئ نو مالِک خُدائ به تاسو له
برکت درکړی. ۞ مالِک خُدائ به تاسو له ډېر اولاد، ډېره غله او ډېر څاروی او
ګډې درکړی. ۞ ستاسو په کندو او خانک کښې به برکت وی. ۞ مالِک
خُدائ به ستاسو په هر کار کښې برکت واچوی. ۞ کله چې ستاسو دشمنان په
تاسو حمله کوی نو مالِک خُدائ به هغوئ له شکست ورکړی. هغوئ به د يو
طرف نه په تاسو حمله وکړی، خو بيا به په هر طرف ستاسو نه تښتی. ۞ تاسو
چې هر کار کوئ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به په هغې کښې برکت واچوی
او ستاسو ګودامونه به د غلې نه ډک کړی. هغه به تاسو له په هغه مُلک کښې
برکت درکړی کوم چې تاسو له درکوی. ۞ کهٔ تاسو د مالِک خُدائ خپل خُدائ
پاک حُکمونه ومنئ او د هغهٔ په لاره روان يئ، نو هغه به ستاسو نه يو مقدس قوم
جوړ کړی لکه څنګه چې هغهٔ وعده کړې ده. ۞ نو د دُنيا ټول قومونه به وګوری
چې تاسو د مالِک خُدائ په نوم يادېږئ او هغوئ به ستاسو نه يرېږی. ۞ مالِک
خُدائ به تاسو له په هغه مُلک کښې ډېر اولاد، ډېر څاروی، او ډېر فصلونه
درکړی د کوم چې هغهٔ ستاسو پلار نيکهٔ سره تاسو له د درکولو وعده کړې ده.
۞ هغه به په آسمان کښې د خپلې ډکې خزانې نه په صحيح موسم کښې باران
ووروی او ستاسو په هر کار کښې به برکت واچوی، نو تاسو به ډېرو قومونو له



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قرض ورکوئ، خو د هيچا نه به تاسو قرض نۀ اخلئ. ۱۳ مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک به تاسو د قومونو کشران نه بلکې مشران جوړ کړی، نن چې زۀ کوم
حُکمونه درکوم کۀ په هغه ټولو باندې عمل وکړئ نو تاسو به همېشه کامياب يئ
او هيڅکله به ناکام نۀ شئ. ۱۴ زۀ چې نن تاسو له کوم حُکمونه درکوم نو د هغې
نه اخوا دېخوا مۀ اوړئ او نۀ چې په نورو معبودانو پسې لاړ شئ او نۀ يې عبادت
وکړئ.

## د نافرمانۍ نتيجه

۱۵ خو کۀ تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک نافرمانی وکړئ او د هغۀ په
ټولو حُکمونو او قانون باندې په وفادارۍ سره عمل نۀ کوئ کوم چې زۀ نن
درکوم، نو دا لعنتونه به په تاسو راشی او په تاسو به غالِب شی. ۱۶ مالِک خُدائ
به ستاسو په ښارونو او پټو باندې لعنت راولی. ۱۷ مالِک خُدائ به ستاسو په
غله او په هغه خوراک لعنت راولی چې تاسو يې د دې نه تياروئ. ۱۸ مالِک
خُدائ به په تاسو لعنت راولی او لږ بچی، بېکاره فصل او لږ ښاروی او ګډې به
درکړی. ۱۹ مالِک خُدائ به ستاسو هر کار لعنتی کړی. ۲۰ کۀ تاسو بد عمل
کوئ او د مالِک خُدائ نه اِنکار کوئ نو هغه به په تاسو افت، وارخطائی او
تکليف راولی، چې زر او په پوره توګه تباه شئ. ۲۱ هغه به په تاسو باندې پرله
پسې بيمارۍ راولی تر دې پورې چې په هغه مُلک کښې ستاسو يو کس به هم پاتې
نۀ شی کوم چې تاسو قبضه کوئ. ۲۲ مالِک خُدائ به تاسو په خورېدونکو
بيمارو، په پړسوب او تبه باندې آخته کړی، هغه به سره د تروالی او د پشم د
بيمارۍ اوچ کالی او سخته ګرمی راولی. دا افتونه به تر مرګه پورې تاسو سره
وی. ۲۳ بره د آسمان نه به باران بند وی او زمکه به د کاڼی په شان کلکه شی.
۲۴ د باران په ځائ به مالِک خُدائ د خاورو او د شګو طوفان راولی او
طوفانونه به تر هغې پورې وی چې تاسو تباه کړی. ۲۵ مالِک خُدائ به ستاسو
دشمنانو له په تاسو باندې فتح ورکړی. تاسو به د يو طرف نه په هغوئ باندې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حمله وکړئ، خو تاسو ته به د تېښتې لار نهٔ ملاوېږی، چې د زمکې خلق ستاسو
دا حالات وګوری نو ویه یرېږی چې دا په تاسو څهٔ شوی دی. ﴿۲۶﴾ ستاسو
لاشونه به د ټولو مارغانو او ځنګلی ځناورو خوراک شی او هلته به هيڅ څوک
داسې نهٔ وی چې تاسو نه يې وشړی. ﴿۲۷﴾ مالِک خُدائ به په تاسو باندې دانې
راوخېژوی، لکه څنګه چې هغهٔ په مِصریانو راخېژولې وې. هغه به ستاسو بدنونه
د دردونو سره مات کړی. تاسو به په خارښت او دانو باندې پټ شئ، خو د دې
به هيڅ علاج نهٔ وی. ﴿۲۸﴾ مالِک خُدائ به تاسو لیونی کړی، هغه به تاسو ړاندهٔ
کړی او دماغ به مو ګډوډ کړی. ﴿۲۹﴾ د غرمې په وخت کښې به هم تاسو د ړندو په
شان اخوا دېخوا ګرځئ او تاسو به د دې جوګه نهٔ يئ چې لاره پیدا کړئ. تاسو به
په یو کار کښې هم کامیاب نهٔ يئ. تاسو به پوره کړېدلی او لوټ شوی يئ او هلته
به داسې څوک نهٔ وی چې ستاسو مدد وکړی. ﴿۳۰﴾ تاسو به د یوې پېغلې سره
کوژدن وکړئ، خو بل څوک به د هغې سره څملی. تاسو به یو کور جوړ کړئ،
خو هيڅکله به په هغې کښې ونهٔ وسېږئ. تاسو به د انګورو باغ وکَرئ، خو د هغې
انګور به هيڅکله ونهٔ خورئ. ﴿۳۱﴾ ستاسو څاروے به د ستاسو د سترګو په
وړاندې حلال شی، خو تاسو به يې غوښه ونهٔ خورئ. ستاسو په وړاندې به ستاسو
خرونه بوتلے شی خو تاسو له به واپس در نهٔ کړے شی، ستاسو ګډې به ستاسو
دشمنانو له ورکړے شی خو ستاسو د مدد دپاره به هيڅ څوک نهٔ وی. ﴿۳۲﴾
ستاسو زامن او لوڼه به نورو قومونو له غلامان ورکړے شی تاسو به همېشه
هغوئ ته سترګې په لار يئ خو هيڅ به هم نهٔ شئ کولے. ﴿۳۳﴾ یو پردے قوم به هغه
ټول فصلونه یوسی چې د هغې په کَرلو کښې تاسو ډېره سخته خواری کړې وی،
خو په هغه وخت کښې به تاسو ته د سخت کړاؤ او بد سلوک نه بغير هيڅ نهٔ
ملاوېږی. ﴿۳۴﴾ او دا تکليفونه چې تاسو وينئ نو تاسو به ليونی شئ. ﴿۳۵﴾ مالِک
خُدائ به ستاسو پښې په لا علاجه او دردناکو زخمونو پټې کړی، د سر نه تر پښو
پورې به په تاسو باندې دانې راوخېژی. ﴿۳۶﴾ مالِک خُدائ به تاسو او ستاسو
بادشاه یو پردی مُلک ته بوځی، هلته به مخکښې هيڅکله نهٔ تاسو او نهٔ ستاسو پلار



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نیکهٔ اوسېدلی وی، هلته به تاسو د داسې معبودانو خِدمت کوئ چې د لرګی او
کاڼی نه جوړ وی. (۳۷) په کومو مُلکونو کښې چې مالِک خُدائ تاسو خوارهٔ وارهٔ
کړی، نو تاسو به د خلقو دپاره یروونکی شئ، هغوئ به په تاسو پورې ټوقې او
مسخرې کوی. (۳۸) تاسو به ښهٔ ډېر تخم وکَرئ، خو لږ فصل به ترې ورېبئ، ځکه
چې د قحطۍ مُلخان به ستاسو فصلونه وخوری. (۳۹) تاسو به د انګورو باغونه
وکَرئ او د هغې ساتنه به وکړئ، خو تاسو به نهٔ د هغې نه انګور راغونډ کړئ او نهٔ
به یې مے وڅښئ، ځکه چې چینجی به انګور وخوری. (۴۰) د زیتُونو ونې به
ستاسو په مُلک کښې شوی وی، خو هیڅ د زیتُونو تېل به تاسو ته مِلاو نهٔ شی،
ځکه چې زیتون به کچه راوغورزېږی. (۴۱) ستاسو به زامن او لوڼه وی، خو تاسو
به یې د ځان سره نهٔ شئ ساتلے، ځکه چې هغوئ به قیدیان شی. (۴۲) ستاسو
ټولې ونې او فصلونه به د قحطۍ مُلخان خراب‌تُراب کړی. (۴۳) ستاسو په مُلک
کښې چې کوم د پردی مُلک خلق اوسېږی هغوئ به ورځ په ورځ په تاسو زورَور
کېږی او تاسو به ورځ په ورځ کمزوری کېږئ. (۴۴) هغوئ سره به پېسې وی چې
تاسو له یې قرض درکړی، خو تاسو سره به هیڅ نهٔ وی چې تاسو یې هغوئ له
قرض ورکړئ. په آخر کښې به هغوئ ستاسو بادشاهان شی. (۴۵) دا ټول افتونه
به په تاسو راشی او دا افتونه به ستاسو تر تباهۍ پورې تاسو سره وی، ځکه چې
تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک فرمانبرداری ونهٔ کړه او په هغه ټول قانون
باندې تاسو عمل ونهٔ کړو چې هغهٔ درکړے وو. (۴۶) دا افتونه به د یوې نښې او
خبرداری په شان ستاسو او ستاسو د اولاد په مینځ کښې د همېشه دپاره وی.
(۴۷) مالِک خُدائ تاسو له په هر څهٔ کښې برکت درکړے دے، خو تاسو په
خوشحالۍ او د زړهٔ د اخلاصه د هغهٔ خِدمت ونهٔ کړو. (۴۸) نو بیا به تاسو د هغه
دشمنانو خِدمت کوئ چې مالِک خُدائ یې ستاسو خِلاف درلېږی. تاسو به اوږی،
تږی، بربنډ او د هر څهٔ حاجتمند یئ. مالِک خُدائ به تاسو سخت وکَړوی تر دې
پورې چې تباه شئ. (۴۹) مالِک خُدائ به ستاسو خِلاف د لرې ځائ نه یو قوم
راولی، هغه قوم چې تاسو به یې په ژبه نهٔ پوهېږئ. هغوئ به د باز په شان په تاسو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې راغوټه شي. ۵۰ هغوئ به يو ظالم او بې‌رحمه قوم وى چې نۀ به د مشرانو
عزت کوى او نۀ به په کشرانو رحم کوى. ۵۱ هغوئ به ستاسو څاروى او
فصلونه وخورى او تاسو به د لوږې نه مړۀ شئ. هغوئ به ستاسو غله، مے، د
زيتُونو تيل، څاروى او ګډې هيڅ هم نۀ پرېږدى، او تاسو به مړۀ شئ. ۵۲ مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک چې کوم مُلک تاسو له درکوى هغوئ به د هغې په هر
ښار باندې حمله وکړى او په کومو اوچتو او پَخو دېوالونو باندې چې تاسو اعتبار
کوئ هغه به راوغورزيږى. ۵۳ کله چې ستاسو دشمنان ستاسو ښارونه
محاصره کوى، نو تاسو به دومره اوږى شئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک
تاسو له کوم بچې درکړى وى نو هغه به هم وخورئ. ۵۴-۵۵ ستاسو د ټولو نه
شريف او د نرم زړۀ سړے به هم په محاصره کښې دومره اوږے شى چې هغه به
هم خپل بچى وخورى ځکه چې نور خوراک به نۀ ملاويږى. هغه به په دې پاتې
لاش کښې خپل ورور او ښځې له چې مينه ورسره کوى او خپلو بچو له هيڅ هم
نۀ ورکوى. ۵۶-۵۷ ستاسو د ټولو نه شريفه او د نرم زړۀ ښځه، دومره شريفه او
پاکه چې په پوره ژوند کښې چرته نۀ وى تلې، هغه به هم دغه شان کار کوى. کله
چې دشمن هغه ښار محاصره کړى، نو هغه به دومره اوږې شى چې هغه به پټ
پټ خپل نوے پيدا شوے ماشوم او پېروان هم خورى. هغه به په دې کښې خپل
خاوند له چې مينه ورسره کوى او خپل بچى هم نۀ شريکوى. ۵۸ کۀ تاسو په
وفادارۍ د خُدائ پاک ټولې لاربښودنې ونۀ منئ کومې چې په دې کِتاب کښې
ليکلے شوى دى او کۀ تاسو د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک عجيبه او
هيبتناک نوم نه ونۀ يريږئ، ۵۹ نو هغه به په تاسو او ستاسو په اولاد باندې داسې
لاعلاجه بيمارۍ او دردناکې وباګانې راولېږى چې هغه به هيڅکله نۀ بنديږى. ۶۰
هغه به يو ځل بيا په تاسو باندې هغه ټولې يروونکې بيمارۍ راولى چې په تاسو
باندې په مِصر کښې تېرې شوې وى او تاسو به هيڅکله روغ نۀ شئ. ۶۱ هغه به
هغه هر قِسم بيمارۍ او وباګانې هم راولېږى چې هغه د خُدائ پاک د قانون په دې
کِتاب کښې نۀ دى بيان شوى او تاسو به تباه شئ. ۶۲ اګر چې تاسو به د آسمان



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ستورو په شان بې‌شمېره شئ، خو صِرف ستاسو يو څو کسان به ژوندى پاتې
شى، ځکه چې تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک فرمانبردارى ونۀ کړه. (۶۳)
لکه څنګه چې مالِک خُدائ په خوشحالئ سره تاسو کامياب کړئ او ستاسو
شمېر يې زيات کړو، نو هم دغه شان هغه به خوشحالئ سره تاسو تباه کړى او
تباهى به دربانديې راولى. تاسو به د هغه مُلک د بېخ نه وويستلے شئ کوم چې
تاسو قبضه کوئ. (۶۴) مالِک خُدائ به تاسو په ټولو قومونو کښې د دُنيا د يو سر
نه تر بل سره پورې خوارۀ وارۀ کړى او هلته به تاسو د هغه معبودانو خِدمت
کوئ چې د لرګى او کاڼو نه جوړ وى، د هغه بُتانو چې د دې نه مخکښې نۀ تاسو
او نۀ ستاسو پلار نيکۀ د هغې عبادت کړے وى. (۶۵) په هغه قومونو کښې به
هيچرته تاسو ته امن نۀ ملاويږى، تاسو ته به يو ځائ کښې هم آرام نۀ ملاويږى،
مالِک خُدائ به ستاسو پريشانى، نا اُميدى او غم د حد نه زيات کړى. (۶۶)
ستاسو ژوند به هميشه په خطره کښې وى. شپه او ورځ به تاسو يرېږئ او تاسو
به هر وخت د مرګ په يره کښې ژوند تېروئ. (۶۷) تاسو چې هر څۀ هم ګورئ نو
زړونه به مو د يرې نه درزيږى. هر سحر به تاسو د ماښام ارمان کوئ، او هر
ماښام به تاسو د سحر ارمان کوئ. (۶۸) مالِک خُدائ به تاسو په سمندرى جهاز
کښې واپس مِصر ته ولېږى، اګر چې هغۀ فرمائيلى وُو چې تاسو به هيڅکله هلته
بيا نۀ ځئ. هلته به تاسو دا کوشش وکړئ چې خپل ځانونه په دشمنانو باندې
غلامان خرڅ کړئ، خو هيڅ څوک به تاسو نۀ اخلى.“

## د موآب په مُلک کښې د بنى اِسرائيلو سره د مالِک خُدائ لوظ

۲۹ (۱) دا د هغه لوظ خبرې دى چې مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل چې د
موآب په مُلک کښې د بنى اِسرائيلو سره دا لوظ وکړى، دا ټولې خبرې د هغه لوظ
نه علاوه وې چې مالِک خُدائ د سينا په غرۀ باندې د هغوئ سره کړې وې. (۲)
موسىٰ ټول بنى اِسرائيليان راوغوښتل او ورته يې وفرمائيل، ”تاسو په خپلو سترګو


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولیدل چې مالِک خُدائ په فِرعون، د هغهٔ په ټولو درباریانو او د هغهٔ په ټول مُلک باندې څهٔ وکړل. ۳ تاسو سختې ویاګانې، معجزې او لوئې نښې ولیدې چې مالِک خُدائ وکړې. ۴ خو تر نن ورځې پورې مالِک خُدائ تاسو له د پوهېدو دپاره عقل، د لیدلو سترګې او د اورېدو غوږونه نهٔ دی درکړی. ۵ څلوېښت کاله په بیابان کښې مالِک خُدائ ستاسو لارښودنه وکړه او ستاسو جامې او څپلۍ هیڅکله نهٔ دی زَړې شوې. ۶ کهٔ څهٔ هم چې تاسو سره د خوراک دپاره نه روټۍ او نه د څښلو دپاره درسره مے او شراب وُو، خو مالِک خُدائ ستاسو د ضرورت پوره کولو دپاره تاسو له خوراک درکړو چې تاسو په دې پوهه شئ چې هغه ستاسو خُدائ پاک دے. ۷ او کله چې مونږ دې ځائ ته راغلو، نو د حسبون بادشاه سیحون او د بسن بادشاه عوج زمونږ خِلاف جنګ له راووتل. خو مونږ هغوئ له شکست ورکړو، ۸ د هغوئ مُلک مو ونیولو او دا مونږ د روبین او جاد په قبیلو او د منسى په نیمه قبیله باندې تقسیم کړو. ۹ په وفادارۍ سره د دې لوظ ټول شرطونه ومنئ، نو داسې به تاسو په هر کار کښې کامیاب یئ. ۱۰ نن ستاسو ټول سړی، ستاسو مشران او آفسران د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په حضور کښې ولاړ دی، ۱۱ هم داسې ستاسو ښځې ستاسو بچی، او هغه مسافر چې هغوئ ستاسو سره اوسېږی او لرګی درله پرې کوی او تاسو له اوبهٔ راوړی. ۱۲ نن تاسو د هغه لوظ دپاره راغلی یئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یې تاسو سره کوی چې هغه د قسم په شان پوخ دے، ۱۳ نو چې تاسو د مالِک خُدائ خلق یئ او هغه ستاسو خُدائ پاک وی، لکه څنګه چې هغهٔ تاسو، ستاسو پلار نیکهٔ اِبراهیم، اِسحاق او یعقوب سره وعده کړې وه. ۱۴ صرِف تاسو هغه خلق نهٔ یئ چې د چا سره مالِک خُدائ دا لوظ کوی. ۱۵ هغه دا لوظ زمونږ ټولو سره کوی کوم چې نن دلته د مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک په مخکښې ولاړ یُو او زمونږ د اولاد سره هم چې هغوئ لا پیدا شوی نهٔ دی. ۱۶ ستاسو به یاد وی چې په مِصر کښې ژوند څنګه وو او د نورو قومونو په علاقه کښې د تېرېدو سفر څنګه وو. ۱۷ تاسو د هغوئ مردار بُتان ولیدل چې د لرګی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کاڼی، سپینو زرو او سرو زرو نه جوړ وُو. ۱۸ پام کوئ چې یو سړے، ښځه،
خاندان او یوه قبیله هم د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک نه وانهٔ وړی کوم چې
نن دلته حاضر یئ چې تاسو د نورو قومونو د معبودانو عبادت وکړئ. دا به د
یوې داسې جرړې په شان وی چې یو ترخه او زهرژنه مېوه ترې نه جوړه شی.
۱۹ پام کوئ چې دلته نن هیڅ څوک هم داسې نهٔ وی چې هغه د دې لوظ خبرې
اوری او خپل ځان له دا تسلی ورکوی چې کهٔ هغه د خپل ضدی زړهٔ په خوښی
پسې هم ځی نو هغه به محفوظ وی، دا به ښهٔ او بد دواړه تباه کړی. ۲۰ مالِک
خُدائ به داسې سړے نهٔ معاف کوی. د مالِک خُدائ سخت قهر او د هغهٔ سخت
غېرت به د هغهٔ خِلاف شی او په دې کِتاب کښې لیکلے شوی ټول لعنتونه به په
هغهٔ رانازل شی تر دې پورې چې مالِک خُدائ هغه پوره تباه کړی. ۲۱ مالِک
خُدائ به هغه د بنی اِسرائیلو ټولو قبیلو په مخکښې د عبرت یوه نمونه جوړه کړی
او یوه تباهی به ورباندې راولی هم هغه شان څنګه چې هغه ټول لعنتونه په هغه
لوظ کښې شوی دی کوم چې مالِک خُدائ د لارښودنې په دې کِتاب کښې لیکلی
دی. ۲۲ په راتلونکی نسلونو کښې ستاسو اولاد او د لرې مُلکونو مسافر به هغه
تباهی او تکلیفونه وګوری چې مالِک خُدائ ستاسو په مُلک باندې راوستلی وی.
۲۳ پټی به شنډ شی، په زېړو ګوګړو او مالګه به پټ شی، هیڅ څهٔ به په دې کښې
نهٔ شی کَرلے، هغه وابښهٔ قدرې به هم په کښې نهٔ کیږی. ستاسو مُلک به د سدوم
او عموره، ادمه او ضبوئیم په شان وی، چې مالِک خُدائ تباه کړی وُو په کوم
وخت چې هغه سخت په قهر وو. ۲۴ بیا به ټوله دُنیا وائی چې، "د هغوئ په مُلک
یې دا ولې وکړل؟ څهٔ وجه وه چې هغه دومره سخت په قهر وو؟" ۲۵ نو د هغې
جواب به دا وی چې، "د مِصر نه راویستلو په وخت چې خُدائ پاک د هغوئ پلار
نیکهٔ کوم لوظ کړے وو، نو د مالِک خُدائ خلقو هغه مات کړے دے. ۲۶
هغوئ د هغه معبودانو عبادت وکړو چې مخکښې یې هیڅکله نهٔ وو کړے، د هغه
معبودانو چې مالِک خُدائ د هغوئ د عبادت نه منع کړی وُو. ۲۷ نو مالِک
خُدائ خپلو خلقو ته په قهر شو او د هغوئ په مُلک یې هغه ټول لعنتونه راوستل
چې په دې کِتاب کښې لیکلے شوی دی. ۲۸ مالِک خُدائ سخت په قهر شو او



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خپل لوئ قهر په وجه يې د هغوئ د مُلک نه راوويستل او يو پردى مُلک ته يې وشړل او هغوئ تر نن ورځ پورې هلته دى." ﴿٢٩﴾ داسې څۀ خبرې شته دے چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک هغه په راز کښې ساتلى دى او څۀ يې زمونږ او زمونږ د اولاد دپاره څرګندې کړې دى د دې دپاره چې مونږ د هغۀ د قانون ټولې خبرې هميشه ومنو.

## د واپس کولو او برکت دپاره شرطونه

٣٠ ﴿١﴾ ما تاسو له د برکت او لعنت په مينځ کښې خوښه درکړې ده. کله چې
په تاسو باندې دا ټول کارونه شوى وى او تاسو د هغه قومونو په مينځ کښې
اوسيږئ چرته چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک خوارۀ وارۀ کړى يئ، نو تاسو
به هغه خوښه رايادة کړئ چې ما درکړې ده. ﴿٢﴾ کۀ تاسو او ستاسو اولاد مالِک
خُدائ ته راواپس شئ او د زړۀ د اخلاصه د هغۀ حُکمونه ومنئ کوم چې نن زۀ
درکوم، ﴿٣﴾ نو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به په تاسو رحم وکړى. هغه به
تاسو واپس د هغه قومونو نه راولى چرته چې هغۀ تاسو خوارۀ وارۀ کړى يئ او
هغه به بيا تاسو نيک بخته کړى. ﴿٤﴾ کۀ د دُنيا آخرى سر ته هم ليږلے شوى يئ،
نو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به تاسو راغونډ کړى او واپس به مو راولى،
﴿٥﴾ هغه به تاسو هغه مُلک ته راولى چرته چې ستاسو پلار نيکۀ اوسېدل او دا به
قبضه کړئ. او هغه به تاسو نور هم کامياب کړى او تاسو به په شمېر کښې د
خپل پلار نيکۀ نه هم زيات کړى. ﴿٦﴾ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به ستاسو
او ستاسو د اولاد زړونه بدل کړى، نو تاسو به د زړۀ د اخلاصه د هغۀ سره مينه
کوئ او په هغه مُلک کښې به تاسو ژوند تېروئ. ﴿٧﴾ مالِک خُدائ به دا ټول
لعنتونه ستاسو په دشمنانو واچوى، چې هغوئ ستاسو نه کرکه کوله او تاسو يې
کړَولى يئ، ﴿٨﴾ او تاسو به بيا د هغۀ فرمانبردارى کوئ او د هغۀ ټول حُکمونه به
منئ کوم چې نن زۀ درکوم. ﴿٩﴾ مالِک خُدائ به تاسو په هر کار کښې کاميابوى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو به ډېر اولاد او ډېر څاروی وی او ستاسو پټی به ډېر فصلونه پېدا کوی.
هغه به ستاسو په کامیابولو باندې دومره خوشحاله وی لکه څنګه چې هغه ستاسو
د پلار نیکهٔ په کامیابولو خوشحاله وو، ﴿۱۰﴾ خو تاسو به د هغهٔ تابعداری کوئ او
د هغهٔ په ټولو حُکمونو به عمل کوئ کوم چې د هغهٔ د شریعت په دې کِتاب کښې
لیکلی دی. تاسو به د زړهٔ د اخلاصه هغهٔ ته راوګرځئ. ﴿۱۱﴾ نن چې زهٔ کوم حُکم
درکوم هغه ډېر ګران نهٔ دے او نهٔ ستا د وس نه بهر دے. ﴿۱۲﴾ دا خو څهٔ په
آسمان کښې نهٔ دے. چې تاسو به داسې ووایئ چې څوک پاس آسمان ته ختلے
شی، او مونږ له به یې راکوز کړی، چې مونږ یې واورو او عمل پرې وکړُو؟ ﴿۱۳﴾
نهٔ دا د سمندر نه پورې غاړه دے. تاسو به دا نهٔ وایئ چې څوک به د سمندر نه
پورې وځی چې مونږ له یې راوړی، چې مونږ یې واورو او عمل پرې وکړُو؟ ﴿۱۴﴾
بلکې هغه پېغام تاسو سره نزدې دے، دا ستاسو په شونډو او ستاسو په زړهٔ کښې
دے، چې عمل پرې وکړئ. ﴿۱۵﴾ ګورئ زهٔ نن ستاسو په وړاندې یو طرف ته ژوند
او خوشحالی ږدم او بل طرف ته مرګ او تباهی ږدم چې تاسو به څهٔ خوښوئ.
﴿۱۶﴾ کهٔ تاسو د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک حُکمونه ومنئ، کوم چې نن زهٔ
درکوم، کهٔ تاسو د هغهٔ سره مینه کوئ، د هغهٔ په لارو تلل کوئ او د هغهٔ په ټول
قانون عمل کوئ، نو تاسو به کامیاب شئ او د ډېرو خلقو قوم به شئ. مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک به تاسو له په هغه مُلک کښې برکت درکړی چې تاسو
یې قبضه کوئ. ﴿۱۷﴾ خو کهٔ تاسو د هغهٔ نه واوړئ او د هغهٔ فرمانبرداری نهٔ کوئ
او د نورو معبودانو د عبادت دپاره بې‌لارې کول کوئ، ﴿۱۸﴾ نو تاسو به تباه شئ،
زهٔ نن تاسو له خبردارے درکوم. تاسو به په هغه مُلک کښې ډېره موده تېره نهٔ
کړئ کوم چې د اُردن نه پورې دے چې تاسو یې قبضه کوئ. ﴿۱۹﴾ زهٔ نن تاسو له
د ژوند او مرګ، د خُدائ پاک د برکت او د خُدائ پاک د لعنت په مینځ کښې
فېصله په تاسو پرېږدم او زهٔ آسمان او زمکې ته وایم چې د هغې ګواه وی چې
تاسو یې خوښوئ. ژوند خوښ کړئ. ﴿۲۰﴾ د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک سره
مینه کوئ، د هغهٔ فرمانبرداری کوئ او د هغهٔ وفادار شئ نو بیا به تاسو او ستاسو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اولاد په هغه مُلک کښې ډېره موده تېره کړئ چې هغۀ ستاسو پلار نیکۀ، اِبراهیم، اِسحاق او یعقوب سره د ورکولو وعده کړې ده.“

## د حضرت یشوَع د حضرت موسیٰ په ځائ کار کول

٣١ ① نو موسیٰ د بنی اِسرائیلو سره خپلې خبرې جاری وساتلې، ② او
وې فرمائیل چې، ”زۀ اوس د یو سل او شلو کالو یم او زۀ نور ستاسو د مشرئ
جوګه نۀ یم. او مالِک خُدائ ما ته دا هم فرمائیلی دی چې زۀ به د اُردن نه پورې
نۀ ووځم. ③ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به په خپله ستاسو نه مخکښې
پورې وځی او هغه قومونه به تباه کړی چې هلته اوسیږی، نو تاسو به د هغوئ
مُلک قبضه کړئ، او یشوَع به ستاسو مشر وی، لکه څنګه چې مالِک خُدائ
فرمائیلی دی. ④ مالِک خُدائ به هغه خلق هغه شان تباه کړی، لکه څنګه چې
هغۀ د اموریانو بادشاهان سیحون او عوج تباه کړی وُو او د هغوئ مُلک یې تباه
کړو. ⑤ مالِک خُدائ به تاسو له په هغوئ باندې فتح درکړی او تاسو به د هغوئ
سره خامخا هم هغه شان کار کوئ لکه څنګه چې ما درته وئیلی دی. ⑥ تکړه او
زړَور اوسئ. د هغوئ نه مۀ یرېږئ. مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به په خپله
تاسو سره وی. هغه به کله هم تاسو سره بې‌وفائی ونۀ کړی او نۀ به مو یواځې
پرېږدی.“ ⑦ بیا موسیٰ یشوَع راوغوښتلو او د ټولو بنی اِسرائیلو په مخکښې یې
هغۀ ته وفرمائیل، ”تکړه او زړَور اوسه، تۀ هغه کس یې چې د دې خلقو رهنمائی
به کوې چې هغه مُلک قبضه کړی چې مالِک خُدائ یې د هغوئ پلار نیکۀ سره
وعده کړې ده. ⑧ مالِک خُدائ به په خپله ستاسو لارښودنه کوی او هغه به
تاسو سره وی. هغه به کله هم تاسو سره بې‌وفائی ونۀ کړی او نۀ به مو یواځې
پرېږدی، نو یرېږئ مه او حوصله مۀ بائیلئ.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په هر اوۀم کال د شريعت لوستل

۹ نو موسىٰ د خُدائ پاک قانون وليکلو او دا يې هغه ليوى اِمامانو، کومو چې
د مالِک خُدائ د لوظ صندوق وړلو او د بنى اِسرائيلو مشرانو له يې ورکړو. ۱۰
هغۀ هغوئ له حُکم ورکړو، ”د هر اوۀم کال په آخر کښې يعنې کله چې د قرضونو
د معاف کولو کال راځى، نو د جونګړو په اختر کښې دا په اوچت آواز سره وايئ.
۱۱ دا ټولو بنى اِسرائيلو ته وايئ کله چې هغوئ د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک د عبادت دپاره، د عبادت هغه يو ځائ ته راشى. ۱۲ سړى، ښځې،
ماشومان او مسافر چې ستاسو په ښارونو کښې اوسيږى، دا ټول راوغواړه، چې
هغوئ دا واورى او د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک نه يريدل زده کړى او چې
د هغۀ د قانون په ټولو خبرو پوره عمل کوى. ۱۳ نو ستاسو هغه اولاد چا چې
هيڅکله د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک قانون نۀ دے اوريدلے نو هغوئ به يې
واورى. نو هغوئ به د هغۀ فرمانبردارى زده کړى چې هغوئ په هغه مُلک کښې تر
کومې پورې اوسيږى چې هغه د اُردن نه پورې دے او تاسو يې قبضه کوئ.“

## حضرت موسىٰ ته د مالِک خُدائ آخرى نصيحت

۱۴ بيا مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل، ”ستا د مرګ ورځې رانزدې دى. يشوَع
راوغواړه او مقدسې خېمې ته يې راوله، چې هلته هغۀ ته نصيحت وکړم.“ نو
موسىٰ او يشوَع خېمې ته لاړل، ۱۵ او مالِک خُدائ هلته د ورېځې د ستن په
شکل کښې ښکاره شو چې د خېمې د دروازې په خولۀ کښې ولاړه وه. ۱۶
مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل، ”ستا د مرګ نېټه پوره کېدونکې ده او د خپل
پلار نيکۀ سره به يو ځائ شې او ستا د مرګ نه پس به خلق زما نه نافرمانه شى
او هغه لوظ به مات کړى چې ما د هغوئ سره کړے دے. هغوئ به ما پرېږدى او
د هغه مُلک د غېرو معبودانو عبادت به وکړى چې کوم ته هغوئ ورننوځى. ۱۷
نو بيا به زۀ هغوئ ته په قهر شم، زۀ به هغوئ پرېږدم او هغوئ به تباه شى. ډېر



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سخت افتونه به په هغوئ راشی، نو هغوئ ته به پته ولګی چې په هغوئ باندې داسې ځکه کیږی چې زهٔ یعنې خُدائ پاک نور د هغوئ مل نهٔ یم. ﴿۱۸﴾ نو په هغه وخت به زهٔ د هغوئ نه مخ واړوم، ځکه چې هغوئ به بد عمل کړے وی او د نورو معبودانو عبادت به یې کړے وی. ﴿۱۹﴾ اوس دا سندره ولیکه. دا د بنی اِسرائیلو خلقو ته وښایه او ور زده یې کړه، نو چې دا د هغوئ خِلاف د ګواه په شان وی. ﴿۲۰﴾ زهٔ به هغوئ هغه مُلک ته بوځم چې زرخېز او آباد دے، لکه څنګه چې ما د هغوئ د پلار نیکهٔ سره وعده کړې ده. هغوئ چې څومره خوراک غواړی نو هلته به ورته ملاوېږی او هغوئ به په آرام سره ژوند تېروی. خو هغوئ به واوړی او د نورو معبودانو عبادت به وکړی. زما نه به هغوئ منکر شی او زما لوظ به مات کړی، ﴿۲۱﴾ او کله چې په هغوئ باندې سخت افتونه او مصیبتونه راشی نو دا سندره به د هغوئ خِلاف ګواه وی، ځکه چې د هغوئ اولاد به دا نهٔ هېروی. ما ته د هغوئ د ارادې پته ده چې هغوئ مې لا وعده کړے شوی مُلک ته راوستلی هم نهٔ دی.“ ﴿۲۲﴾ نو هم په هغه ورځ موسیٰ دا سندره ولیکله او په بنی اِسرائیلو باندې یې زده کړه. ﴿۲۳﴾ بیا مالِک خُدائ د نون زوئ یشوَع سره خبرې وکړې او ورته یې وفرمائیل، ”تکړه او زړَور اوسه. تهٔ به اِسرائیلیان هغه مُلک ته بوځې چې ما د هغوئ سره د هغې وعده کړې ده او زهٔ به ستا مل یم.“ ﴿۲۴﴾ نو موسیٰ د خُدائ پاک مکمل حُکمونه په یو کِتاب کښې ولیکل. ﴿۲۵﴾ کله چې هغه اوزګار شو، نو هغهٔ لیویانو اِمامانو ته وفرمائیل کوم چې د مالِک خُدائ د لوظ صندوق مشران وُو، ﴿۲۶﴾ ”د خُدائ پاک د قانون دا کِتاب واخلئ او د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د لوظ صندوق په خوا کښې یې کېږدئ، چې دا د خپلو خلقو خِلاف د یو ګواه په شان وی. ﴿۲۷﴾ ما ته پته ده چې هغوئ څومره ضدی او سرکشه دی. هغوئ زما په ژوند کښې د مالِک خُدائ خِلاف بغاوت کړے دے او زما د مرګ نه پس به هغوئ نور بغاوت هم کوی. ﴿۲۸﴾ د قبیلو ټول مشران او آفسران زما په وړاندې راغونډ کړئ، چې زهٔ هغوئ ته دا خبرې وښایم، زهٔ به آسمان او زمکه د هغوئ خِلاف ګواهان جوړ کړم. ﴿۲۹﴾ ما ته پته ده چې زما د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مرګ نه پس به خلق بدعمله شی او چې ما څۀ ورته ښودلی دی د هغې نه به منکر
شی. او په راتلونکی وخت کښې به هغوئ د افت سره مخامخ شی، ځکه چې
هغوئ به مالِک خُدائ په قهر کړے وی د هغه کارونو په وجه چې هغۀ منع کړی
دی.“

### د موسیٰ سندره

(٣٠) بيا موسیٰ حمد ووئيلو او د بنی اِسرائيلو ټول قوم ورته غوږ ايښے وو.

٣٢ (١) اے آسمانونو. ما ته غوږ کېږدئ او زۀ به خبرې وکړم، اے زمکې زما
د خولې خبرې واوره. (٢) زما تعليمات به د باران په شان راپرېوځی، او زما
پېغام به د پرخې په شان راکوزېږی. پرېږده چې زما خبرې په تازه واښو باندې د
باران په شان راپرېوځی، او چې د نری باران په شان په شنو بوټو باندې ووريږی.
(٣) زۀ به د مالِک خُدائ د نوم بيان وکړم، زمونږ د خُدائ پاک لوئی بيان کړئ.
(٤) مالِک خُدائ طاقتور ساتونکے دے، د هغۀ کارونه مکمل دی او د هغۀ هر
کار د اِنصاف دے، ستاسو خُدائ پاک وفادار او رښتونے دے، هغه صادق او
اِنصاف کوونکے دے. (٥) خو تاسو بې‌وفا يئ او د دې لائق نۀ يئ چې د هغۀ
خلق شئ، تاسو ګناهګار او دوکه باز قوم يئ. (٦) تاسو د مالِک خُدائ سره
داسې کوئ، اے کم عقلو او بې‌شعوره خلقو. هغه ستاسو پلار دے، هغه ستاسو
خالِق دے، هغۀ تاسو جوړ کړئ او آباد يې کړئ. (٧) تاريخ ته وګورئ، هغه
وخت چې پخوا تېر شوے دے، د خپل پلار نيکۀ نه تپوس وکړئ نو هغه به درته
ووائی چې څۀ شوی وُو، د خپلو مشرانو نه تپوس وکړئ، هغوئ به مو د تېرې
زمانې نه خبر کړی. (٨) خُدائ تعالیٰ قومونو له خپل خپل ميراث ورکړو، کله
چې هغۀ فيصله وکړه چې قومونه به په کوم کوم ځائ کښې اوسيږی، چې هر يو
قوم د خپل هغه معبود سره اوسيږی چې هغۀ ورله خوښ کړے وی، (٩) خو د
يعقوب اولاد هغۀ د خپل ځان دپاره خوښ کړو. (١٠) هغۀ هغوئ په بيابان کښې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پېدا کړل چې سرګردانه ګرځېدل، چې يوه خوشې او اوچه صحرا وه. هغهٔ هغوئ
بچ کړل او پام يې ورباندې وکړو، لکه چې هغه يې د سترګو تور وی. ⑪ لکه چې
يو باز خپل بچی ته د الوتلو چل ښائی، او په حِفاظت سره يې په خورو وزرو
کښې نيسی، مالِک خُدائ اِسرائيليان د غورزېدو نه وساتل. ⑫ يواځې مالِک
خُدائ د خپلو خلقو لارښودنه وکړه د هغهٔ سره د پردی خُدائ مدد نهٔ وو. ⑬
هغهٔ دا موقع ورکړه چې په اوچتو مُلکونو حکومت وکړی، او هغوئ له يې د پټو د
فصلونو خوراک ورکړو په هغوئ يې د يو ګټ نه شات وخوړل، د کاڼی په شان
سختې زمکې نه يې د زيتُونو تېل ورکړل. ⑭ د رَمو نه يې ماستهٔ او پئ او د
ګډُوری لم ورکړل، د بسن ښهٔ ګډُوری او چېلې او ښهٔ غنم يې ورکړل. د انګورو
رس نه تاسو مے وڅښل. ⑮ د مالِک خُدائ خلق مالداره شول، خو سرکشه
ؤو، هغوئ څاربهٔ او په خوراک ماړهٔ ؤو. هغوئ خُدائ پاک خپل خالِق پرېښودو
هغوئ د خپل طاقتور خلاصوونکی نه منکر شول. ⑯ د هغوئ بُت پرستئ د
مالِک خُدائ غېرت راپېدار کړو، د هغوئ حرام کار هغه په قهر کړو. ⑰ هغوئ
پيريانو ته قربانئ وکړې او خُدائ پاک ته يې ونهٔ کړې، هغه معبودان چې هغوئ نهٔ
دی پېژندلی، هغه معبودان چې اوس اوس راوتلی دی چې ستاسو پلار نيکهٔ د دې
نه هيڅکله نهٔ دی يرېدلی، ⑱ هغوئ خپل خُدائ پاک خپل خلاصونکے هېر
کړو، چا چې هغوئ له ژوند ورکړے وو. ⑲ کله چې مالِک خُدائ دا وليدل،
هغه په قهر وو او د خپلو زامنو او لوڼو نه منکر شو. ⑳ هغهٔ وفرمائيل، "زهٔ به د
هغوئ نه مخ واړوم، بيا به زهٔ وګورم چې په هغوئ باندې څهٔ کيږی، ځکه چې هغه
يو ضدی نسل دے، څوک چې بېوفا دی. ㉑ د خپلو غلطو بُتانو په وجه هغوئ
زهٔ په قهر کړے يم، د بېکاره معبودانو په وجه هغوئ زما غېرت راپارولے دے،
زهٔ به هغوئ د هغه خلقو په وجه په حسد کړم څوک چې قوم نهٔ دی، نو زهٔ به د يو
کم عقل قوم په ذريعه هغوئ په قهر کړم، ㉒ زما قهر به د اور په شان لمبې
ووهی او په زمکه باندې هر څيز به وسوزوی. دا به لاندې دُنيا ته ورسيږی او د
غرونو بېخونه به تباه کړی. ㉓ زهٔ به په هغوئ باندې نهٔ ختمېدونکی افتونه راولم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغوئ خِلاف به خپل ټول غشی استعمال کړم. (۲۴) هغوئ به د لوږې او تبې
نه مړهٔ شی، هغوئ به په دې سختو وباګانو مړهٔ شی. زهٔ به ځنګلی ځناور ورولېږم
چې په هغوئ حمله وکړی، او زهرژن ماران به ورولېږم چې هغوئ وچیچی. (۲۵)
د جنګ په وجه به په کوڅو کښې مړی پراتهٔ وی، په کورونو کښې به یره وی.
پېغلې او ځوانان به مړهٔ شی، نهٔ به ماشومان او نهٔ به سپین‌ږیری بچ شی. (۲۶) ما
به هغوئ بېخی تباه کړی وی، نو هیڅ څوک به هغوئ نهٔ یادوی. (۲۷) خو د هغوئ
دشمنان ما داسې لافو وهلو ته پرې نهٔ ښودل چې هغوئ زما خلقو له شکست
ورکړے وے، ځکه چې هغوئ ما په خپله ختم کړی دی.“ (۲۸) بنی اِسرائیل یو
داسې قوم دے چې شعور نهٔ لری، هغوئ بېخی عقل نهٔ لری. (۲۹) کاش چې
هغوئ هوښیار وے او په دې باندې پوهېدلے، کاش چې هغوئ په خپل اَنجام
باندې پوهه شوی وے. (۳۰) ولې زرو کسانو د یو کس نه شکست وخوړو، او ولې
لسو زرو صِرف دوه کسانو نه شکست وخوړو؟ مالِک خُدائ، د هغوئ خُدائ
پاک، هغوئ پرېښی وُو، خُدائ تعالیٰ د هغوئ نه مخ اړولے وو. (۳۱) د هغوئ
دشمنانو ته پته ده چې د هغوئ معبودان کمزوری دی، د بنی اِسرائیلو د خُدائ
پاک په شان طاقتور نهٔ دی. (۳۲) د هغوئ دشمنان د سدوم او عموره په شان
خراب شوی دی، هغوئ د داسې باغونو په شان دی چې تراخهٔ او زهرژن انګور
نیسی، (۳۳) د داسې میو په شان چې د مارانو د زهرو نه جوړ وی. (۳۴) د مالِک
خُدائ په یاد دی چې د هغوئ دشمنانو څهٔ کړی دی، هغه د صحیح وخت اِنتظار
کوی چې هغوئ له سزا ورکړی. (۳۵) مالِک خُدائ فرمائی چې بدل اخستل زما
کار دے، بدل به زهٔ اخلم. نو هغه وخت به راشی چې هغوئ به راوغورزیږی، او د
هغوئ د تباهۍ ورځ نزدې ده. (۳۶) مالِک خُدائ به خپل خلق بچ کړی کله چې
هغه ووینی چې د هغوئ طاقت ختم شو. هغه به په هغوئ رحم وکړی څوک چې د
هغهٔ خِدمت کوی، کله چې وګوری چې هغوئ څومره بې‌مددګاره دی. (۳۷) نو
مالِک خُدائ به د خپلو خلقو نه تپوس وکړی، ”هغه تکړه معبودان چرته دی چې
تاسو پرې یقین لرلو؟ (۳۸) تاسو د خوراک دپاره هغوئ له د خپلو قربانو وازګه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکوله او د ښځو دپاره مو ورته مے پېش کول. اوس هغوئ دې راشي او ستاسو مدد دې وکړی، هغوئ دې ستاسو بچ کولو دپاره رامنډه کړی. (۳۹) زۀ او يواځې زۀ خُدائ پاک يم، بل يو هم حقيقي خُدائ نشته. زۀ مړۀ کول او ژوندی کول کوم، زۀ زخمي کول او روغول کوم، او هيڅ څوک زما د کارونو مخالفت نۀ شي کولے. (۴۰) څنګه چې په حقيقت سره زۀ ژوندے خُدائ پاک يم، زۀ خپل لاس اوچتوم او په خپل ذات قسم خورم (۴۱) چې زۀ به خپله ځلېدونکې تُوره تېره کړم او ويه ګورم چې اِنصاف وشی. زۀ به د خپلو دشمنانو نه بدل واخلم او هغوئ له به سزا ورکړم چې څوک زما نه نفرت کوی. (۴۲) زما غشی به د هغوئ په وينه کښې ډُوب شی، او زما تُوره به هغه ټول ووژنی څوک چې زما مخالفت کوی. څوک چې زما خِلاف جنګ کوی زۀ هغه يو کس هم نۀ پرېږدم. تر دې پورې چې زخميان او قېديان به هم مړۀ شی.“ (۴۳) قومونو، تاسو د مالِک خُدائ د خلقو صِفت وکړئ، مالِک خُدائ هغه هر چا له سزا ورکوی چې څوک هغوئ ووژنی. هغه د خپلو دشمنانو نه بدله اخلی او د خپلو خلقو د زمکې کفاره ادا کوی. (۴۴) موسیٰ او د نون زوئ يشوَع د دې حمد ټولې خبرې بيان کړې، د دې دپاره چې د بنی اِسرائيلو خلق يې واوری.

## د حضرت موسیٰ وصيت

(۴۵) کله چې موسیٰ د خُدائ پاک خبرې د خلقو سره ختمې کړې، (۴۶) هغۀ دا هم وفرمائيل، ”ما چې نن کومې خبرې تاسو سره کړې دی دا ټولې په زړۀ کښې واچوئ. د يو حُکم په توګه يې خپلو بچو ته وښايئ چې هغوئ د دې نصيحتُونو هره خبره ومنی. (۴۷) دا د لاربښودنې هسې تشې خبرې نۀ دی، دا ستاسو د ژوند خبرې دی. دا ومنئ نو تاسو به په هغه مُلک کښې ډېره موده تېره کړئ چې د اُردن سيند نه پورې دے او تاسو يې قبضه کوئ.“ (۴۸) هم په هغه ورځ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، (۴۹) ”د موآب په مُلک کښې د عباريم غرونو ته لاړ شه چې د يريحو ښار ته مخامخ دے، د نبو غرۀ ته وخېژه او د کنعان مُلک ته وګوره



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوم چې زهٔ بنی اِسرائيلو له ورکوم. ۵۰ تهٔ به په هغه غر باندې مړ شې لکه څنګه
چې ستا ورور هارون د هُور په غرهٔ باندې مړ شوے وو، ۵۱ ځکه چې د بنی
اِسرائيلو په مخکښې تاسو دواړو زما سره بې‌وفائی وکړه. کله چې تاسو د صين
په صحرا کښې چې د قادِس ښار سره نزدې دے، د مريبه د چينو سره وئ، نو د
خلقو په مخکښې تاسو زما سپکاوے وکړو. ۵۲ تاسو به د يو لرې ځائ نه هغه
مُلک وګورئ، خو تاسو به هغه مُلک ته ورننه نهٔ وځئ کوم چې زهٔ بنی اِسرائيلو له
ورکوم.“

## د حضرت موسیٰ بنی اِسرائيلو دپاره برکت غوښتل

٣٣ ۱ دا هغه برکتونه دی چې د خُدائ پاک پېغمبر موسیٰ يې د خپل مرګ نه
مخکښې د بنی اِسرائيلو دپاره اِعلان وکړو. ۲ هغهٔ وفرمائيل، ”مالِک خُدائ د
سينا غر نه راغلو، هغه په ادوم باندې د نمر په شان راوختلو او د فاران غر نه په
خپلو خلقو باندې وځلېدو. لس زره فرښتې د هغهٔ سره وې، او په ښی لاس کښې
يې د اور لمبه وه. ۳ مالِک خُدائ د خپلو خلقو سره مينه کوی او هغه د خپلو
مقدسينو حفاظت کوی. نو هغوئ د هغهٔ په نقش قدم روان دی او د هغهٔ حُکمونه
منی. ۴ د هغهٔ قانون منو چې موسیٰ مونږ له راکړے دے، چې دا زمونږ د قوم
د ټولو نه قيمتی سرمايه ده. ۵ مالِک خُدائ د خپلو خلقو بنی اِسرائيلو بادشاه
شو کله چې د هغوئ قبيلې او مشران يو ځائ راغونډ وُو.“

۶ موسیٰ د روبين قبيلې په حقله داسې وفرمائيل، ”روبين دې ژوندے وی او
هيڅکله دې نهٔ مری، اګر چې د هغوئ خلق لږ دی.“

۷ د يهوداه قبيلې په حقله هغهٔ وفرمائيل، ”مالِکه خُدايه، د مدد دپاره د هغوئ
چغې واوره، هغوئ يو ځل بيا د نورو قبيلو سره يو موټے کړه. مالِکه خُدايه، د
هغوئ دپاره وجنګېږه، او د هغوئ د دشمنانو خِلاف د هغوئ مدد وکړه.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ د ليوى قبيلې په حقله هغهٔ وفرمائيل، "مالِکه خُدايه، تهٔ خپله رضا د اُوريم او
تميم په ذريعه څرګندوې د خپلو وفادارو خِدمتګارانو، ليويانو په ذريعه، هغوئ تا
په مسه کښې وآزمائيل او د مريبه چينو سره دې ربښتونى ثابت کړل. ٩ هغوئ
تا ته د مور پلار، ورونړو او بچو نه هم زياته وفادارى وښودله. هغوئ ستا حُکمونه
ومنل او هغوئ ستا د لوظ وفادار وُو. ١٠ هغوئ به ستا خلقو ته وښائى چې ستا
د قانون تابعدارى وکړى، هغوئ به ستا په قربانګاه باندې قربانى پېش کړى. ١١
مالِکه خُدايه، د هغوئ د قبيلې مدد وکړه چې تکړه شى، د هغوئ د کارونو نه
خوشحاله شه. د هغوئ دشمنان ختم کړه، او مهٔ يې پرېږده چې بيا سر راپورته
کړى."

١٢ د بنيامين قبيلې په حقله هغهٔ وفرمائيل، "دا هغه قبيله ده چې مالِک خُدائ
ورسره مينه کوى او ساتنه يې کوى، هغه ټوله ورځ د هغوئ حِفاظت کوى، او هغه
د هغوئ په مينځ کښې اوسيږى."

١٣ د يوسف قبيلې په حقله هغهٔ وفرمائيل، "مالِک خُدائ دې د باران سره د
هغوئ مُلک له برکت ورکړى او لاندې د زمکې نه د اوبو برکت ورکړى. ١٤
مالِک خُدائ دې د هغوئ مُلک له په نمر پَخو ښوو مېوو سره برکت ورکړى، د
هغوئ مُلک دې د هر موسم د ډېرو ښو مېوو سره ښهٔ کړى. ١٥ د هغوئ پخوانى
غرونه دې د ښو مېوو په ونو باندې ښنهٔ شى. ١٦ د هغوئ مُلک دې د ټولو
نعمتونو نه ډک شى، مالِک خُدائ دې د خپل خير سره هغوئ له برکت ورکړى،
چا چې د سوزېدونکې بوټى نه خبرې وکړې. دا برکتونه دې د يوسف په قبيله نازل
شى، ځکه چې هغه د خپلو ورونړو نه اوچت وو. ١٧ يوسف د غوَيى په شان
طاقت لرى، د ځنګلى غوَيى د ښکرو په شان دے. د هغهٔ ښکرونه د منسى زرګونو
خلق دى او د اِفرائيم لس زره په زرګونو خلق دى. د دې ښکرو سره هغه قومونه
وهى او د دُنيا آخرى سرونو ته يې رسوى."



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۞١٨ د زبولون او يساکار قبيلو په حقله هغهٔ وفرمائيل، ”زبولون دې په سمندرى
کاروبار کښې مالداره شى، او د يساکار دولت دې په کور کښې زيات شى. ۞١٩
هغوئ مسافر خپل غرهٔ ته رابلى او هلته صحيح قربانئ پېش کوى. هغوئ ته د آباد
سمندر نه دولت ملاوېږى او د شګو نه ورته پټه خزانه ملاوېږى.“

۞٢٠ د جاد قبيلې په حقله هغهٔ وفرمائيل، ”د خُدائ پاک ثناء صِفت دې وى، چا
چې د هغوئ علاقه لويه کړه. جاد د ازمرى په شان اِنتظار کوى چې د ښکار مټ
او کوپړئ غوڅه کړى. ۞٢١ هغوئ د ځان دپاره د ټولو نه ښهٔ زمکه واخستله، د
يو مشر برخه د هغوئ په حواله شوه. هغوئ د مالِک خُدائ حُکمونه او قانون
ومنلو کله چې د بنى اِسرائيلو مشران يو ځائ راغونډ ؤو.“

۞٢٢ د دان قبيلې په حقله هغهٔ وفرمائيل، ”دان د يو ځوان ازمرى په شان دے،
چې د بسن نه ټوپ وهى.“

۞٢٣ د نفتالى قبيلې په حقله هغهٔ وفرمائيل، ”د نفتالى سره د مالِک خُدائ د نېکئ
ډېر برکت دے، د هغوئ مُلک به په جنوب کښې د ګليل ډنډ پورې رسيږى.“

۞٢٤ د آشر قبيلې په حقله هغهٔ وفرمائيل، ”آشر ته د نورو قبيلو نه زيات برکت
ورکړے شوے دے. هغه به په خپلو ورونړو کښې د ټولو نه ګران وى، او د زيتُونو
ونې به د هغهٔ په مُلک کښې ښې ډېرې وى. ۞٢٥ د هغهٔ د ښارونو دې د اوسپنې په
دروازو سره حِفاظت وشى، او هغه دې هميشه په امن کښې ژوند تېروى. ۞٢٦
اے بنى اِسرائيلو، ستاسو د خُدائ پاک په شان خُدائ نشته، د خپل شان سره
هغه پاس په آسمان کښې دے، ستاسو د مدد دپاره هغه په ورېځو سور راځى.
۞٢٧ خُدائ پاک هميشه ستاسو د حِفاظت ځائ دے، د هغهٔ ابدى قوت به ستاسو
مدد کوى. تاسو چې مخ په وړاندې ځئ نو هغه ستاسو دشمنان شړى، او تاسو ته
يې وفرمائيل چې، هغوئ ټول تباه کړئ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ نو د یعقوب اولاده، په امن سره اوسېږئ، په هغه مُلک کښې په حِفاظت
کښې اوسئ چې د غلې او د مېو نه ډک دے، چرته چې د آسمان نه پرخه زمکه
اوبۀ کوی. ۲۹ اِسرائيلو، تاسو څومره خوشحاله يئ. ستاسو په شان هيڅ څوک
هم نشته، يو داسې قوم چې مالِک خُدائ خلاصون ورکړے دے. مالِک خُدائ په
خپله ستاسو ډال او ستاسو تُوره دے، چې ستاسو حِفاظت وکړی او تاسو له
فتح درکړی. ستاسو دشمنان به راشی او د رحم دپاره به سوال کوی، او تاسو به
هغوئ د پښو لاندې کړئ.“

## د حضرت موسیٰ په حق رسېدل

۳۴ ۱ بيا موسیٰ د موآب د مېدانونو نه د نبو غرۀ ته وختلو، کوم چې د پِسگه
غر سر ته چې يريحو ته مخامخ دے، او هلته مالِک خُدائ هغۀ ته ټول مُلک
وښودلو يعنې د دان ښار پورې د جِلعاد علاقه يې ورته وښودله، ۲ د نفتالی ټوله
علاقه، د اِفرائيم او منسی علاقې، د مديترانی د سمندر پورې د يهوداه علاقه، ۳
د صحرا برخه، او هغه مېدان چې د ضُعر نه د يريحو پورې رسېږی، چې د
کجورو د ونو ښار دے. ۴ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”دا هغه مُلک
دے چې ما د دې وعده د اِبراهيم، اِسحاق او يعقوب سره کړې ده چې د هغوئ
اولاد له به يې ورکوم. ما د دې کتلو ته پرېښودې خو هلته تلو ته به دې نۀ
پرېږدم.“ ۵ نو چې څنگه مالِک خُدائ فرمائيلی وُو چې موسیٰ د مالِک خُدائ
خِدمت کوونکے هلته به د موآب په مُلک کښې مری نو هم هغه شان وشول. ۶
نو هغۀ هغه د بيت‌فعور ښار ته مخامخ د موآب په مُلک کښې په يو مېدان کښې
ښخ کړو، خو تر ننه پورې د هغۀ د ښخېدو صحيح ځائ پته هيچا ته نشته. ۷
موسیٰ د يو سل او شلو کالو په عُمر کښې وفات شو، هغه په هغه وخت هم د
مخکښې په شان تکړه وو او د هغۀ د سترگو نظر ټيک وو. ۸ بنی اِسرائيل
دېرش ورځې د موآب په مېدانونو کښې په هغۀ پسې غمژن وُو، ۹ د نون زوئ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يشوَع د اِلهامى حِکمت نه ډک شو، ځکه چې موسىٰ هغه مقرر کړے وو چې د
هغهٔ په ځائ کار کوى. بنى اِسرائيلو د يشوَع تابعدارى وکړه او هغه حُکمونه يې
پوره کړل چې مالِک خُدائ د موسىٰ په ذريعه هغوئ له ورکړى وُو. ۱۰ نو په
اِسرائيلو کښې هيڅکله د موسىٰ په شان پيغمبر نهٔ دے پيدا شوے، چې مالِک
خُدائ مخامخ د هغهٔ سره خبرې وکړې. ۱۱ مالِک خُدائ موسىٰ د دې دپاره
مُلک مِصر ته ولېږلو چې د فِرعون او د هغهٔ د درباريانو خلاف داسې معجزې او
عجيبه کارونه ښکاره کړى. ۱۲ بل يو پيغمبر هم داسې لوئ لوئ او يرووونکى
کارونه نهٔ دى کړى لکه چې موسىٰ د ټولو بنى اِسرائيلو په وړاندې وکړل.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
پوسفزى ۲۰۱۹ © pashtobibles.org
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.